Downloaded From:
https://t.me/ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: +93779815770




CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم


## د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم ........................ د هديرې ناوې

ليکواله ........................ سيما شبانکاره

ژباړنه ........................ فرشته سيدي

خپرندوی ........................ صميم ادبي ټولنه

کمپوټر چارې ........................ فرشته سيدي

د پښتۍ ډيزاين ........................ رحمت الله امرخېل

چاپ شمېر ........................ زر ټوکه (۱۰۰۰)

چاپ کال ........................ ۱۳۸۸

## (د هديرې ناوې) ناول پښتو ژباړې ته ځغلنده کتنه

د هديرې ناوې (عروس گورستان) د هغه ناول نوم دی، چې آغلې فرشتې سيدي د ډېر زيار په گاللو سره له دري ژبې څخه پښتو ته راژباړلی دی د اغلې فرشتې سيدي دغه د قدر وړ کار؛ ځکه د ستاينې وړ گڼم، چې يو خو دغه ناول زموږ د پښتني ټولنې حالاتو ته ورته ځينې دوديز اړخونه په خورا روښانه ډول څرگندوي. هسې هم زموږ د ډېرو پښتنو نجونو تنکۍ هيلې د ناسپړلو غوټېو په څېر د نامرادۍ په هديرو کې تر خاورو لاندې خښې دي او بل د ناول عبرتناکه پايله دِدې وړتيا لري، چې دا ناول دې په پښتو ژبه وژباړل شي. د دې تر څنگ داخو هم نه شي هېرولی، چې ژباړه د يوې ژبې په فرهنگي بډاينه کې د پام وړ ځای لري او د پوهانو په اند ژباړه د علم د عاملو او د فکر خوربدلو يوه داسې وسيله ده، چې علم او پوهه نړيواله کوي او فکر او فن د انسانانو تر منځ شريکوي.

تر هغه ځايه، چې ما دغه ژباړه ولوستله د ژباړې اصول په کې تر ډېره بريده په پام کې نيول شوي او رواني او سلاست هم په کې ليدل کېږي ژبه يې ډېره خوږه او اصطلاحات يې ډېر خورا ښکلي دي. څرنگه چې د يو ناول زيات شمېر لوستونکي عوام خلک دي؛ نو په ژباړه کې داسې سوچه او نږه پښتو کلمې لکه: (اکر، هسک) او نور کارول، چې د دغو کلمو د پوره بابېدو لپاره ډېره ښه زمينه برابروي. همدارنگه په ژباړه کې

ډېر زيار ايستل شوی، چې د پښتو ژبې له معياري لهجې څخه کار واخيستل شي. د دغو ټولو خوبيو په درلودلو سره داسې نه برېښي، چې دايې د ژباړې په ستونزمن ډګر کې لومړنی ګام وي.
په آخر کې زه د اغلې فرشتې سيدي دغه ژباړه د قدرووړ کار او يو نېک ګام بولم او هغې ته د ژوند په ټولو ډګرونو کې د لا برياليتوبونو هيله کوم.

په درنه مينه عاطفه نورستانی
د افغانستان د علوموا کاډمی
د ژبو او ادبياتو د مرکز علمي غړې.
۱۵\دلو\۱۳۸۸

# د هدیرې ناوې

د هدیرې ناوې د هغه ښکلي کتاب سرلیک دی ، چې محترمې خور فرشتې سیدي له پارسي ژبې څخه په پښتو ژباړلی دی.
مخکې تر دې، چې د دغه ناول په منځپانګه یو څه ووایم غواړم په لنډه توګه د ژباړې په هکله وغږېږم.
ژباړه په لغت کې له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د خبرو اړول دي. هغه متن چې ژباړونکی د هغه په ژباړلو او له یوه ژبني چوکاټ څخه بل ژبني چوکاټ په لېږدولو لاس پورې کوي لومړی باید هغه په بشپړه توګه ولولي او ځان د هغې ژباړې ته اماده کړي دغه ډول په تولیزه توګه ژباړه کړانه ده باید ژباړن یا ژباړنه په دواړو ژبو لاسبری ولري او د دې دواړو ژبو پر ټولو رغاونیزو ګرامري کړنیزو او ټولو سبکي نازکیو او باریکیو باندې پوه وي او دویم شرط دا دی، چې د بدیعي او هنري اثر ژباړونکی باید په خپله اړوند هنري ژانر مسنوونکی هم وي
کله چې یو ژباړونکی غواړي یو متن وژباړي باید ژبني ځانګړتیاوې و ژبني نزاکتونه، د متن لغاتونه. د کلماتو ادا کول او نور ضروري عناصر په پام کې ونیسي
زموږ دغې خور د دغو پورته مواردو په نظر کې نیولو سره دغه ناول په ډېر زیار، غور، دقت او په ډېره خوږه او روانه ژبه ژباړلی دی، کله

چې لوستونکی دا کتاب لولي داسې فکر کوي، چې دا ژباړه نه؛
بلکې سوچه پښتو کیسه ده.
په اخر کې محترمې فرشتې سیدي ته د داسې رواني، عام فهمې،
خوږې او په ټولو معیارونو برابرې ژباړې مبارکي وایم او په دې لار
علم، ادب او فرهنګ په ډګر کې ورته د لوی خدای ج له دربار څخه
نور بریالیتوبونه هم غواړم.

په درنښت
څېړنواله ظاهره هنګامه
د افغانستان د علومو اکاډمۍ د متن پوهنې علمي غړې

عروس گورستان یا د هدیرې ناوې د هغه ناول نوم دی، چې آغلې فرشتې سیدي ژباړلی او زه غواړم یوڅه ورباندې ولیکم. زه د دغه ژباړل شوي ناول په محتوا باندې، چې نوم یې (دهدیرې ناوې) دی او په زړه کې درد، خپگان او ډار اچوي، نه غږېږم بلکې د دغې ژباړې په ژبه باندې د توان ترحده یو لنډ نظر اچول غواړم.

ژباړه د یوه ملت په ادبي او فرهنګي غنا کې لویه ونډه لري او زما په نظر ډېر زیات ضرورت ورته محسوسېږي که دا ژباړه علمي – تحقیقي او یا ادبي او هنري بڼه ولري زه دلته نه غواړم، چې د ژباړې په هکله نور زیات معلومات وړاندې کړم؛ خو دومره یادول ضروري بولم، له کومې ژبې، چې ژباړه کېږي ژباړن باید په دواړو ژبو پوره تسلط ولري، چې دغه ځانګړنه په دغه ژباړه کې په ښه توګه لیدل کېږي. که چېرې دغه اثرڅوک ولولي په هیڅ صورت به د ژباړې گومان پرې ونه کړي: ځکه ښکلې او طبعي عبارات او فقرې په کې کارول شوي دي او په ځینو ځایونو کې ډېر په زړه پورې او ښکلي ترکیبونه هم راوړل شوي، چې سړی یې له لوستلو خوند اخلي.

آغلې فرشتې سیدي دغه ناول په ډېره خوږه ژبه ژباړلی، چې په دغه لومړنۍ ژباړه کې یې خپل استعداد او د قلم متره په ښه توګه ځلولې ده. موږ او تاسې په دې ډېر ښه پوهېږو، چې ژباړ هغه فن دی، چې ډېر زیات تمرین غواړي که څه هم د مخه مې، چې وویل دا د آغلې فرشتې لومړنۍ

ژباړه ده خو بیا یې هم په ډېر بریالیتوب سره سرته رسولې ده. دا چې د نوموړې لومړنۍ ژباړه داسې طبعي، خوږه او په موازینو برابره ده؛ نو په راتلونکي کې کېدای شي تردې لازیات بریالیتوبونه ورپه برخه شي؛ نو ځکه مونږ د قدرمنې خور د نورو ورته ژباړې په هیله یو، خدای ج دې وکړي، چې زمونږ دغه ګرانه خور د خپلې ژبې او ادب په غنامندۍ او لا پیاوړتیا کې نور هم بریالي ګامونه اوچت کړي.

په اخر کې دغې ګرانې خور فرشتې سیدي ته د خدای عزوجل له لوی دربار څخه نه یوازې د ادب په ډګر کې؛ بلکې د ژوند په ټولو اړخونو کې د لا بریاوو هیله کوم.

په درنښت اوریٰ جمال

د علومو اکاډمي

۱۳۸۸\۱۱\۱۳

# يو څو خبرې د ناول په اړه

په آسمان کې ډېر ستوري تر ستړګو کېږي؛ خو ځينې ډېر ځلېږي او ځينې لږ. د انسان سترګې په هغو ستورو باندې لږېږي، چې ډېره ځلا لري.
په يوه ونه کې ډېره مېوه ده؛ خو هغه مېوه، چې تازه او سالمه وي د انسان هڅه د هغې خواته ډېره وي.
کله، چې يوه بڼ ته لاړ شو؛ نو هغه ګلان، چې نوي غوړېدلي وي او د باران واړه واړه څاڅکي پرې پراته وي، انسان ډېرځانته را جلبوي او د انسان زړه غواړي، چې ترلاسه يې کړي.
د پسرلي په موسم کې، چې هرې خواته ګلانواو شنو چمنونو ځمکه نيولي وي او د هوا مرغان د مستۍ نه په هوا کې اټنونه کوي؛ نو هغه مرغه، چې ښايسته اواز ولري د انسان خوښېږي د دې پسرلي د ګلانو له ډلې څخه يوازينۍ ګل، چې په دې نږدې وختونو کې غوړېدلی دی او د ژمي دغې سړې هواته او وچې او خړې ځمکې ته يې رنګ ورښلی دی. هغه ليکواله، شاعره او ژباړونکې ده، چې په دې نږدې وختونو کې يې دغه بڼ ته قدم ايښی دی او غواړي دغه بڼ له ښايسته، تازه، روښانه او له نوي ګلانو څخه ډک کړي.
دغه ځوانه ليکواله اغلې فرشته (سيدي) ده، چې غواړي دغه بڼ ته هغه ښکلا او رنګ ورکړي، چې تر اوسه پورې زموږ په افغاني ټولنه کې چا نه دی ورکړی. زموږ په ټولنه کې ښځينه ليکوالانې او شاعرانې ډېرې زياتې دي؛ خو د ځينو کولتوري مسايلو له امله نشي کولی، چې دغه ګام را پورته کړي.
خو ځينې داسې ليکوالانې او شاعرانې لکه، فرشته جانې غوندې شته، چې په دې لاره کې يې ګام ايښی دی او غواړي داسې يوه ځای ته ورسېږي، چې په ليکوالان او شاعران رسېدلي دي.

لومړی

فرشته هغه تکړه او بااستعداده لیکواله ده، چې د لومړي ځل لپاره یې داسې ژباړه کړې ده، چې ممکن ډېر رسیدلي لیکوالان داسې ژباړه ونه کړي.

لېکن اغلې فرشتې د لومړي ځل لپاره په داسې یوه خوږه ژبه او سوچه پښتو باندې دغه داستان ژباړلی دی، چې ښایي تر اوسه پورې د ښځینه لیکوالانو له ډلې څخه په دې ډول ژباړه چانه وي کړي.

کله، چې ما د هدیرې ناوې داستان طلایي پاڼې را خلاصې کړې، په لومړي سر کې ما داسې فکر ونه کړ، چې دا به د فرشتې جانې لومړنۍ ژباړه وي؛ ځکه هېڅ کومه تېروتنه په کې نه وه او په ډېرو خوږو الفاظو ژباړل شوی و او هرې کلمې او جملې یو له بل سره ډېر ښه تړاو درلود.

مطلب دا، چې فرشتې سیدي داسې یوه ژباړه او لیکنه کړې ده، چې کومه غلطي په کې نه لیدل کېږي او ډېره ښه ژبه یې کارولې ده او په هغه طریقه، چې باید یوه ژباړه ترسره شي، له هماغو اصولو سره برابره ژباړه یې کړې ده.

زما هیله ده، فرشته جانه باید خپلو لیکنو او ژباړو ته دوام ورکړي او هغه لاره باندې یې، چې قدم ایښی دی او په هغه بهیر کې، چې روانه ده، باید گوښه نشي؛ بلکې نورې لیکوالانې او شاعرانې هم تشویق او وهڅوي؛ ترڅو په دې لاره کې خپل ارزښتمند قدمونه کېږدي.

که چېرته فرشته جانه همداسې ژباړې او لیکنې وکړي؛ نو انشاالله یوه لوړ مقام ته به ورسېږي او خپل ارزښت به له لاسه نه ورکوي.

**په درنښت مینا مسعوده نېکیار**

# سریزه

ژوند هغې بېړۍ ته ورته دی، چې ساحل ته رسېدو لپاره په سمندر کې لار وهي چې خپلې موخې ته ورسېږي. ژوند هم همداسې یوه لوبه ده د خپلو هیلو او آرمانونو ساحل ته رسېدو لپاره هر ډول طوفانونه او ظالمې څپې زغمي، چې خپلې موخې ته ورسېږي.
ځينې يې په ډېرې هوسايۍ او آرامۍ سره خپلې هيلې تر لاسه کوي، ځينې نورې په ډېر کړاو او زيار ګاللو سره، چې د زمانې تاړاکونه پرې هر ډول ستونزې او طوفانونه نازل کړي خو بيا هم خپلې هيلې ته رسېږي؛ خو يو شمېر بيا داسې وي، چې د نړدې خپلوانو ان مور و پلار له لورې مخکې له دې، چې د هيلو ساحل ته ورسېږي طوفاني څپې پرې نازلې شي او د تل لپاره يې کشتۍ په سمندر کې ډوبه کړي.
په رښتيا هم ژوند يوه عجيبه لوبه ده، د چا په برخه به يې تل خوښي، خوشحالي او هوسايي ليکلي وي؛ خو چا ته بيا تل درد، غم، اوښکې، ناکامي ورکوي او ان دا، چې تريخ مرګ ورته ډېر خوږ شي او خپله يوازينۍ د خلاصون لار په مرګ کې ويني؛ نو ځکه يې شپه او ورځ لاسونه الهي دربار ته لپه کړي وي؛ ترڅو ډېر ژر د مرګ پرښته پرې خپلې وزرې وغوړوي. سره له دې، چې مور و پلار خپلو اولادونو ته بې کچې مينه ورکوي د زړه په غوږو يې لويوي خو ځيني وختونه بياد هغوی بې ځايه ضدونه، کبر، غرور او ځان غوښتنې د اولادونو ژوند له ګواښ سره مخ کوي او يا هم په ځينو کورنيو کې د زامنو مينې د لورګانو په پرتله وربانديې سترګې پټې کړي وي يوازې د هغوی خوښيو ته ارزښت ورکوي د لورګانو خوښي او ژوند ورته بې ارزښته وي بابېزه يې ګڼي او د زامنو د خوښيو لاس ته راوړلو په موخه له لورګانو څخه د تل لپاره خوښي واخلي او بېرته يې په بدل کې يوازې او يوازې اوښکې،

وژونکی درد، سوزونکی غم، سخته ماته، ناکامي او آن د مرګ توره کنده ورکړي او په دې کړاوونو کې یې د عمر اسیرانې کړي او بیا وروسته پرته له پښېمانۍ او آه نور هېڅ په لاس نه ورځي.

د دې اوښکو توییولو او عبرتناکې پایلې یوه ښه بېلګه هم دا ناول دی.

کله چې دا ناول ما ولوسته نو زه یې دې ته اړویستم، چې ویې ژباړم؛ ځکه په دې ناول کې هغه ترخه واقیعتونه بیان شوي، چې زموږ په ټولنه کې عام وو او لا تراوسه دي.

هو! نن زموږ په ټولنه کې له بده مرغه لکه د (محسن او زینب) په زرګونو پېغلې او ځوانان دغو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي او بلاخره د دې جهالت قرباني کېږي.

په هر حال دا څه نوې خبره نه ده او داسې پېښې له پخوا څخه زموږ په ټولنه کې وې او کېدای شي لا نور دوام هم وکړي؛ خو دا چې په نورو ټولنو کې موږ د داسې پېښو شاهدان یو دا ربښتیا هم موږ ته نوې خبره ده.

په هر حال لکه څنګه، چې د ادب په ګلبڼ کې دا زما لومړنی ګام دی، چې پورته مې کړښایي په دې کې به ډېرې کمۍ او نیمګړتیاوې شته وي نو له ټولو ګرانو لوستونکو څخه یوه هیله لرم، چې ومې بخښي.

د یوې داسې ورځې په هیله، چې نور نه کوم ځوان او یا پېغله دې له داسې شومه برخلیک سره مخ شي.

په مینه

فرشته سیدي

- د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د څلورم کال محصله

Downloaded From:
https://t.me/ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: +93779815770

هغه ورځ د کلي مسته او چته نجلۍ پښه نیولې، مړاوې او تبې نیولې وه، یوې ګونګې او بېړنۍ وېرې یې په زړه خوله لګوله، نورې مستې نجونې په کټ کټ خند بدلې، چې خندا ګانو یې ځو میله واټنونه په سر اخیستي وو او د ګلانو په څېر یې خوشبویې خپروله. د دوی له ښایست څخه نور ښایستونه وشرمېدل او ځان یې ځنګ ته کړ.

کلیواله نجلۍ ډېره په سوچ او اندېښنو کې ډوبه وه او لکه د وچې ونې په څېر یې، چې په سلګونو او آن په زرګونو ډوله ستونزې او کړاونه یې ګاللي وي او د زماني تاړاکونو پرې هر ډول ستونزې نازلې کړې وي، په سوچونو کې ډوبه وه. په دې ورځ یې داسې انګېرله، چې تر ټولو زیاته اړتیا نن محسن ته لري. محسن او زینب له ماشومتوب، را هیسې له یو بل سره پېژندل او ماشومانه مینه یې سره لرله، کله به چې دوی لوبې کولې؛ نو د محسن ټول فکر او خیال به له زینب سره و دا ځکه چې ځوک یې و نه زوروي. که چېرې د دوی کوم همزولي به زینب ته کوم څه وویل او یا به یې هغه زوروله؛ نو محسن ته به ځمکې ځوند نه ورکاوه او ترڅو به یې چې د هغه کسات نه و اخیستی، نو پر ځای به نه کېناسته. زینب انګېرل، چې کوم څه شی یې په زړه دروندوالی کوي، یو حیرانوونکي احساس زوروله، نه پوهېدله چې دا احساس وېره وه او که حیرانتیا.



CamScanner

په دې هم نه پوهېدله، چې ولې شیبه په شیبه د ماشومتوب یادونه ور په زړه کېږي، د ماشومتوب هغه مهال ور په زړه شو، چې دا او محسن به لاس په لاس د کلیو په خاورینو کوڅو کې د دېوالونو څنګ ته به په ماشومانه خوشحالۍ روان وو او د خوشحالۍ ماشومانه چیغې او کوکې به یې کولې. د محسن واړه او کوچني لاسونه ورته د نړۍ تر ټولو ستره ډاډینه او ملاتړ و.

هغه ورځ یې رایاده کړه، چې بنجاره د دوی کلي ته راغلی و. له نومړې سره د نورو شیانو تر څنګ یوه ښکلې ناوکۍ نانځکه وه، چې شنې سترګې او طلایي وېښتان لرل.

زینب له خپلې ماشومانه او ساده خندا سره د محسن پر لور مخ واړاوه او ورته یې وویل: محسنه! زما دغه نانځکه ډېره خوښه شوه؛ ځکه د دې سترګې هم ستا د سترګو په څېر شنې دي؛ خو هغه بېوزله تنګلاسي او غریبه کورنۍ، چې زینب لرله نو د یوه ناڅیزه او ارزان بیه څېز پېرل هم ورته ګرانه وه، هېڅا هم د زینب ژړا ته، چې د یوې وړې غوښتنې پوره کول وو پام ونه کړ، سره له دې، چې د مور یې همدا یوازینۍ لور وه ډېره زیاته مینه یې هم ورسره لرله او د خپلې لور ژړایې نه شوه زغملی؛ خو ډېره مجبوره وه چې دا هر څه په پټه خوله وزغمي هسې هم پر ته له دې یې بله لار نه وه؛ خو کله چې محسن د زینب رېږدېدلي لاسونه او له اوښکو ډکې سترګې ولیدې؛ نو زړه یې اور واخیست. د زینب اوښکو ورته ډېر ارزښت درلود او نه یې غوښتل، چې په یوه وړه خبره دې دومره اوښکې تویې کړي، لاړ د کور نه یې خپله خزانه راواخیسته سره له دې، چې بنجاره د دوی له کلي څخه تلی و؛ خو محسن په منډه ورغی بنجاره د سیند تر غاړې رسېدلی و کله یې، چې په محسن سترګې ولګېدې په خپل ځای ودرېده محسن په ډېرې زارۍ، چې ژبه یې بنده بنده کېدله له

هغه شخه وغوښتل، چې خپل بار له شا شخه را کښته کړي او هغه ښکلې ناوکۍ ده ته ورکړي. بنجاره له سر نه تر پښو محسن له نظره تېر کړ او په غوسې یې ورته وویل: ستا یې له ناوکۍ سره څه؟ محسن ځواب ورکړ.
د ځان لپاره خو یې نه غواړم زینب ته یې اخلم.
زینب دې خور ده؟
نه خور مې نه ده زموږ ګاونډۍ ده؛ خو تر خوره هم راته ګرانه ده.
بنجاره یوه مانا داره مسکا، چې د محسن په عمر هلک ته بې ارزښته وه وکړه او ویې وویل: د دوه ورو میناتو لپاره خپل بار پر ځمکه ږدم او ناوکۍ درکوم. محسن هم په ډېرې خوښۍ خپله خزانه ماته کړه او د پیسو په بدل کې یې له بنجاره شخه ناوکۍ تر لاسه کړه.
بنجاره د ناوکۍ ترڅنګ لړه خوږه محسن ته ورکړه او ویې ویل: راشه ګرانه دا هم ستا او د زینب د کوژدې خوږه. محسن یې په ټنډه ښکل کړ او د دعا په څېر یې لاسونه پورته کړل او د لوي خدای ج له دربار شخه یې وغوښتل، چې د دوی مینه دې تل همداسې وي او یو بل ته دې ورسېږي.
محسن چې کله خوږه واخیسته سره له دې، چې ډېر ستړی او په خولو کې لوند خیشت و په منډه د کلي پر لورې لاړ؛ ځکه هغه غوښتل هر څومره، چې ژر کېږي ځان زینب ته ورسوي د هغې وړوکی زړه رازي کړي او ژړا یې په خندا ور بدله کړي ځان یې زینب ته ورساوه او له لرې یې ورته چیغې کړې: زینب! وه زینب! وه زما ګرانې راشه وګوره، چې څه مې درته راوړي دي. هغه څه، چې تا غوښتل ستا د خوښې ناوکۍ هغه اوس ستا ده. تاپورې اړه لري. زینب ډېره خوشحاله شوه او په ورو ګامونو یې ځان محسن ته ورساوه هغه یې په غېږ کې ونیوه، د محسن مخ هم، چې له ډېرې خوښۍ نه لکه د ګل داسې غوړېدلی و ښکل کړ. محسن او زینب په ماشومانه شور او فریاد خپله خوښي څرګندوله. زینب د مننې په ویلو

سره له محسن څخه ناوکۍ واخیستله په غېږ کې یې ټینګه ونیوله غوښتل یې، چې خپل مور او پلار ته یې ښکاره کړي او دا ورته ووايي، چې محسن څومره مینه ورسره لري؛ یعنې تر مور او پلار هم زیاته: ځکه مور او پلار یې اوښکو ته هیڅ کوم ارزښت ور نه کړ، خو محسن دا هر څه ونه شول زغملای د خپلې خزانې په پیسو یې ماته دا ناوکۍ واخیستله د تللو په وخت کې یې ووېل: محسنه دغه ناوکۍ ستا د لاس نښه ده تر څو، چې زه ژوندۍ یم نه به یې خرابوم د زړه په کور کې به یې ساتم او دومره مینه به ورسره کوم لکه څومره مینه، چې له تاسره لرم.
محسن هم ډېر خوشحاله و؛ ځکه هغه په دې توانېدلی و، چې ډېر ژر د هغې ژړا په خندا ور بدله کړي او په ساده او ماشومانه کتو کې یې له هغې سره تر کوره ملتیا وکړه او خپل ځان یې د هغې خوښیو کې شریک کړه.
زینب له خپلو اوږدو تورو وېښتانو، معصومې او ښکلې څېرې سره په ډېرې خوښۍ او خوشحالۍ کور ته ننوتله، پلار یې له څو تنو کلیوالو سره په کور کې ناست و او مور یې د میلاد شپې حلوا خیراتولو لپاره د وریجو په میده کولو بوخته وه زینب، چې له ډېرې خوښۍ نه په ځان نه پوهېدله چیغې کړې وګوره مورې نن ما ته پته ولګېده، چې محسن تر تاسې هم را سره ډېره مینه لري د خپلې خزانې په پیسو یې ماته دغه ناوکۍ واخسیته سره له دې، چې بنجاره له کلي څخه وتلی و محسن په منډه ځان ور ورساوه او هغه یې د سیند پر غاړه را ایسار کړ.
د کلي سپین ږیري، چې د زینب له پلار سره ناست وو او د هغې خبرو ته یې ښه غوږ نیولی و ویې خندل؛ خو زینب د هغوی د خنداو په مانا ونه پوهېدله هغو ته یې زړه وکتل د زینب مور هم خپلې اته کلنې لور دغه

ماشومانه مينې ته په زړه کې دعا وکړه او له لوی ځښتن څخه يې وغوښتل، چې دا دواړه د عمر تر پايه له يو بل څخه جلا نشي.
زينب د خپل ماشومتوب له اوږدو او خوږو يادونو او خيالونو څخه د نجونو په شور او مستئ را په خود شوه. کله، چې به هغې ته تېر يادونه ور په زړه شول په زړه کې به يې هيلو غوټۍ ونيولې دغو يادونو به هغې ته د صبر او مقاومت ځواک ورکاوه له ځان سره به يې ويل: (که له محسن څخه لرې والی ډېر ګران او ستونزمن دی هره شېبه لکه د کال داسې تېرېږي د بېلتون په اور کې يې سوزېږم؛ خو بېرته ځان ته ډاډ ورکوم او د هغې ورځې په اړه فکر کوم کومه، چې زه او محسن به سره د خوښيو ډک ښکلی ژوند پيلوو، نو کله چې دغې ورځې په اړه فکر وکړم هره ستونزه او کړاو زغملی شم. هسې هم د محسن مينه ماته دومره ځواک را کوي، چې دا هر څه په پټه خوله وزغمم دا روښانه خبره ده، چې د هرې تيارې پسې رڼا وي که څه هم دغه څوکاله په تيارو کې تېرېږي راتلونکی خو به مو روښانه وي.)
د هرې ورځې په تېرېدو د زينب په زړه کې د محسن مينه نوره هم زياتېده څلور کاله له محسن څخه لرې وه. محسن په اولس کلنۍ کې ګاونډي هېواد ته مزدورۍ پسې تللی و، چې پيسې وګټي او ښه په شان او شوکت له زينب سره واده وکړي او له خوښيو څخه ډک ژوند پيل کړي.
په دغې څلورو کلونو کې يوه شېبه هم محسن د زينب له زړه څخه نه و وتلی هره شېبه به يې د هغه په اړه فکر کاوه خپل ژوند يې د هغه په ژوند کې ليده، تر ټولو سترملاتړ او د ژوند ملګری يې ګڼه ځان ته يې دا حق نه ورکاوه، چې پرته له محسن د بل چا او يا شي په اړه فکر وکړي. ټوله هستي او وجود يې محسن و، زينب د محسن په نوم او يادونو کې ورګډه شوې وه او آن تر دې حده، چې خپل ځان ورڅخه هېر شوی و. نور يې نو د

محسن بیلتون نه شو زغملی او ورځ په ورځ یې خپل ځواک له لاسه ورکاوه. په دې ورځو کې به د محسن لړیوالي ډېره ځوروله او پټ پټ به یې له ځانه سره ژړل، دا لا په همدې سوچونو کې ډوبه وه، چې یوناڅاپه یوې خورلنې یې پر مخ یوه لپه اوبه واچولې بېواکه په خپل ځای نېغه شوه او د خیالونو نړۍ یې ورته په یوه شېبه کې ور رنګه کړه. ملګرې یې د دې په لیدو په کړس کړس وخندېدلې زینب، چې په دې وپوهېدله چېرته ده په غوسې یې وویل: هیله کوم لیلا غلې شه، زه نن د ټوکو حوصله نه لرم.

لیلا ولې پورته وغورځول لاسونه یې په ملا کېښودل او خپله خندا یې د شونډو تر شا پټه کړه په ورو د زینب خواته راغله په ملنډو یې ورته وویل: یو ځل دې بېرته خبره تکرار کړه، چې تا څه وویل؟ ته حوصله نه لرې؟ یانې زینب حوصله نه لري. دا خبره د هغې خولې ده کومه. چې د مستیو، ټوکو، خنداګانو او شوخیو مرکز دی، که په رښتیا دا خبره ستا د خولې وي نو باور وکړه زینب زه به ځان ووژنم او د ځمکې غېږ ته پنا ورم، چې ستا له خولې څخه نورې د غسې د غم او خپګان خبرې وانه ورم. ته چې د خوږې موسیقۍ په څېر تل غږېدې او د بلبل په څېر دې تل خوږې نغمې ویلې، دا خبرې له تا سره نه ښایي.

زینب د لیلا په خبرو ډېر وخندل خواته یې ورغله د هغې په خوله یې لاس کېښود او ویې ویل: لیلا تا خو سم قیامت جوړ کړ لېونۍ ته ولې د دې شوخۍ او مستۍ نه لاس نه اخلې.

لیلا نېغه ودرېده، د زینب ښکلو او زړه راښکونکو سترګو ته یې وکتل او ویې ویل: پېغلې دا څه اورم! دا د هغه بدرنګه کارغه غږ دی، چې ستا په څېر له یوې ښکلې حنجرې څخه اورېدل کېږي. ګوره زینب ته لکه، چې په دې نه پوهېږې، کله چې ته غلې یې؛ نو نړۍ هم خپل حرکت

پرېږدي او په ځای ودرېږي. سیند له دې دومره سرکشۍ، شور او مستۍ سره سره بیا هم ارام او بې غږه په خپل ځای غورځي، مرغان د ښکلو او زړه راښکونکو نغمو پر ځای د غم او ماتم سندرې وایي. څه درته پېښ شوي؟ له کومه راهیسې دې حوصله له لاسه ورکړې او یا خو هم د کوم څیز او یا له چا څخه خوابدې یې، نه چې کوم څه در پېښ شوي وي او موږ ترې بې خبره یو.

د لیلا له شوخۍ او مستۍ سره، چې د زینب له زړه څخه د غمونو ډېرۍ یو څه کمې شوې، له شرم او حیا څخه په ډک نظر یې نورو سهیلو ته وکتل او ویې ویل: دا څه ډول خبرې کوئ؟

ټولو پېغلو په کړس کړس وخندل خندا ګانو یې د سیند ټوله غاړه ونیوله د اوبو له شرار سره یوځای یې یوه عجیبه سندریزه فضا جوړه کړه او آن لرې واټونه یې رنګین کړل.

زینب وویل: پېغلو راځئ، چې ځو هوا خړه ده آسمان هم په وریځو پوښل شوې هره ګړۍ شونې ده، چې باران وورېږي. ټولو پېغلو خپل منګي په تخرګونو کې ونیول او د کورونو پر لور وخوځېدې؛ خو د زینب زړه لکه د بې وزرې او ناتوانې مرغۍ په څېر هرې خواته بېوا که ټوپونه وهل د مخ بڼه یې تکه سپینه اوښتې وه یوې اندېښنې یې په زړه باندې وزرې غوړولې وې. د محسن لیدو پسې یې زړه بې کراره و نور یې د بېلتون زغمل له وسې وتلې خبره وه.

زهرا، چې د زینب تر ټولو نږدې ملګرې او د هر راز محرمه یې وه. زینب ته یې شو له هغې څخه یې پوښتنه وکړه: زینب ولې دې رنګ اوښتی کومه پېښه شوې؟

زینب وویل: نه پوهېږم زهرا ولې مې شپه په شپه اندېښنه ډېرېږي زړه مې ډېر بد درزېږي، یو عجیبه احساس مې د بدن هر غړي زوروي. نه پوهېږم کوم څه خو به را ته نه پېښېږي، چې زړه مې له مخکې خبر راکوي.
زهرا وویل:اندېښنه مه کوه هېڅ خبره نه ده. په خبرو خبرو کلي ته ورسېدې د کلي په تنګو او خاورینو کوڅو کې به یوه یوه ملګرې خپلو کورو ته ستنېدې. کله، چې د زینب کور راورسېد زینب وویل: زهرا نه پوهېږم، چې ولې د خپل کور له دروازې څخه وېرېږم د زړه درزا مې شپه شپه زیاتېږي زړه مې بده ګواهي ورکوي.
زهرا ورته ډاډ ورکړ او وروسته له مخه ښې څخه د خپل کور پر لورې، چې یوه کوڅه وړاندې لاړه. زینب د لرګي زړه دروازه په لاس ټېله کړه د ور په خلاصېدو سره د زګېروي په څېر غږ یې تر غوږه شو، کور ته ننوتله، منګی یې ښکته کړ او په ځمکه یې کېښنو باران څاڅکی څاڅکی ورېده او د ده کالي یې ورو ورو ورلمدول مور یې د وره د غږ په اورېدلو سره سم له واره له کوټې څخه را ووته د زینب په لیدو یې له ډېرې خوښۍ هغه مسکا پر شونډو خوره شوه، چې کلونه پخوا ترې د زمانې نا خوالو اخیستې وه. باران ډېر په شدت ورېده. زینب، چې هېڅکله خپله مور دومره خوشحاله نه وه لیدلې د هغې خندا ته اریانه دریانه ودرېده، په دغه خندا کې چې ټوله عاطفه او مینه وه د زینب لپاره بله مانا لرله: د یوه بد مرغه تصویر مانا: خو له دې ټولو سره سره بیا هم زینب ډېره ووېرېده یوه عجیبه اغېزه یې وربانديې وښندله او له همدې امله یې په بدن د باران څاڅکې، چې په ډېر شدت سره ورېدل نه حس کول باران هم په ډېرې لېوالتیا د زینب له تورو اوږدو وېښتانو سره لوبې کوې. له تېکري څخه یې اوبه څڅېدې جامې یې د لوندوالي له امله په بدن پورې نښتې وې او د هغې د ښکلي اندام ښکلا یې لا څو ځلې زیاته کړې وه. چوپتیا خوره

وه مور او لور یو د بل په سترګو کې داسې ډوبې شوې وې، چې تا به ویل د کلونو تنده ماتوي. مور یې له چاودو شونډو څخه خندا په خوارۍ سره رنګه کړه او د شونډو په ښورولو یې چوپتیا ماته کړه په خپل ګونځې مخ یې لاس تېر کړ او په ورو یې وویل: رائحه لورې ولې باران ته ولاړه یې! کالي دې بدل کړه ډېر لامده شوي هسې نه، چې ناروغه شې.
زینب هم د مور خبره ومنله کوټې ته لاړه اور ته نږدې کېناسته له د خپلو جامو په وچولو باندې بوخته شوه ویې ویل: مورې پلار مې له ښار څخه راغلی؟
مور یې، چې اور ته خزلې ور اچولې ورته یې وویل: کله، چې ته سیند ته د اوبو پسې لاړې؛ نو پلار دې هماغه وخت له ښار څخه راغی. زینب، چې خپل اوږده چوټي زیښله ویې ویل: مورې پلار مې ماته کالي راوړي؟
مور یې له مانا څخه ډکه مسکا وکړه او د سترګو لاندې یې ورته کتل، چې د خپلې لور خوښې او غبرګون تر څارنې لاندې ونیسي. ویې ویل: هو لورې ډېرې ښکلې او ډولي جامې، چې په رنګارنګو ګلانو جوړې شوي درته یې راوړي؛ خو اوس یې څه کوې واده ته یې پرېږده هسې هم واده ته دې لږه موده پاتې ده.
زینب وخندل سر یې ټیټ ځوړند کړ له ډېر شرم نه یې اننګي سره اوښتي وو له ځان سره یې وویل:
(تر اوسه لا معلومه نه ده، چې محسن به څه وخت را ستنېږي؛ خو که سل کاله نور هم تېر شي زه به هغه ته سترګې پر لار یم په نړۍ کې تر هرڅه زیاته آن له خپل ځان څخه به هم ډېره مینه ورسره ولرم. زه سره له دې چې د خوراک او پوښاک لپاره څه ونه لرم بیا به هم ځان د هغې په څنګ کې د نړۍ تر ټولو خلکو نېکمرغه وګڼم او له مینې او خوښیو څخه ډک ژوند به ورسره وکړم). مور یې چې د خپلې لور دغه حالت ولید ډېره خوشحاله

شوه او لور ته يې وويل: لورې! ته اوس زموږ په کور کې د يو ځو ورځو مېلمنه يې، ځکه په دې نږدې ورځو کې ستا واده کېدونکی دی. زينب وروځې سره نږدې کړې له ځان سره يې وويل: (نو ولې دغې شوخې او شيطانې زهرا ما ته ونه ويل، چې محسن راغلی دی. هغې غوښتل، چې ما وزوروي. زما محسن په همدې نږدې ورځو کې راځي. ای ربه زه څومره نېکمرغه يم، چې کولای شم وروسته له ډېرې مودې خپله مينه؛ يانې د خپل محسن هغه جذابه او ښکلې څېره وګورم دا هر څه رښتيا دي زه خو به خوب نه ګورم او يا خو به مې مور راسره ټوکې نه کوي.

مور يې وويل: زينب ولې له ځان سره بونګېږې. زينب، چې ډېره خوشحاله وه د مور څېرې ته ځير شوه او ويې ويل: مورې ولې زهرا راته څه ونه ويل، چې محسن راغلی، مور يې، چې هم د عشق غشي په زړه خوړلې وه او پخوا يې له خپل ترورزي سره مينه کړې وه او هغه هم ناکامه مينه، چې تر اوسه يې زوروله سوړ اسويلی يې وکېښ او ويې ويل: زما ګرانې ما کله وويل، چې محسن راغلی. زينب په غوسې شوه ويې ويل: مورې داځه د ماشوانو لوبې دي کله وايې واده دې رانږدې دی کله وايې، چې محسن نه دی راغلی. تاسې ته چا وويل، چې محسن راځي ؟

مور يې وويل: لورې زه د محسن نه خبره نه يم او نه هم د محسن په اړه له تا سره خبرې کوم. زينب چيغې کړې: مورې نوره لېونۍ کېږم د خدای لپاره رښتيا ووايه څه خبره ده محسن نشته او تاسې زما واده جوړ کړی.

لورې نن د خالي (شنبه) ورځ ده او د جمعې په ورځ ستا واده دی. د زينب چيغو په وړې او تياره کوټه کې انګازې جوړې کړې. مورې چې محسن نه دی راغلی؛ نو زما واده له چا سره کوئ، ايا داسې خو به نه وي، چې زما له اجازې پرته زما واده له بل چا سره کوئ؟

مور يې وويل: ګوره لورې! ستا واده د همدغه کلي له يو ډېر ښه ځوان سره کوو.

په زينب باندې سر وګرزېد پر سترګو يې تياره شوه. تر اوسه يې حتا داسې فکر هم نه و کړی، چې داسې يوه ورځ به هم راځي، چې پرته له محسن څخه به بل څوک د دې ژوند ته راننوځي، هېڅ نه پوهېده، چې څه وکړي له سر نه تر پښو پورې لړزې نيولې وه، خپلې شونډې يې تر غاښو لاندې کړې، چې خپله ټوله غوسه له شونډو څخه وباسي. هم يې ژړل او هم يې چيغې وهلې، مورې زه يې نه منم. تاسې حتا يو ځل له ما څخه هم ونه پوښتل؟ څه مو چې خپل زړه و هماغسې مو وکړل، ګوره مورې دا زما ژوند دی او زه حق لرم، چې د خپل برخليک او راتلونکې په اړه تصميم ونيسم. مورې ايا تاسې محسن سره ژمنه نه وه کړې. چې زما واده به له هغه سره کوئ، که محسن سل کاله وروسته راشي بيا به هم زه د هغه په نامه ناسته يم. ايا هغه خپله کورنۍ خپل کور هرڅه زما لپاره پرې نه ښودل؟ او ايا اوس هم يوازې او يوازې زما په خاطر په پردي هېواد کې د پرديو مزدوري نه کوي؟

زينب لا په همدې خبرو کې وه، چې په خوله کې يې يو ډول خوند حس کړ؛ خو چې ځان ته يې پام شو خوله يې له وينو څخه ډکه وه. په ژړا سره يې وويل: مورې اخر ولې دومره ظلم زه خو هم انسان يم څه کالی خو نه يم هر چا ته مو چې زړه وغواړي همغې ته مې ور اغوندئ.

مورې يې اسويلی وکېښ او ويې ويل: لورې ته، چې دې عمر ته رسېدلې يې بايد تر اوسه دې خپل پلار ښه پېژندلی وي، هغه يو ډېر سرسخته، مغرور، ضدي او کبرجن سړی دی کله، چې يوه خبره وکړي تر مرګه هم په خلپه خبره ټينګ ولاړ وي او په هېڅ دول له خپلې خبرې څخه نه اوړي ترڅو چې خپل ضد پوره نه کړي کله يې پرېږدي. ګوره لورې ترڅو، چې

دې واده ته غاړه کېښږدې بله هېڅ لار نه لرې هیله کوم د پلار خبره دې ومنه زه پوهېږم که ته هر څومره پلار ته دې زارې وکړې بې ګټې دې د هغه زړه لکه تیږه داسې کلک دی هېڅ رحم نه لرې. ته زما د زړه ټوټه یې، زه دا هر څه نشم زغملی خو څه وکړم هېڅ مې تر وسې نه کېږي. که زه پوهېدلی، چې ستا کوژده زه له منځه وړلی شم نو په هر ډول، چې وای ما دغه کار کاوه که حتا زما د ژوند په تمامېدلو وای؛ نو باور وکړه ما دغه کار کاوه ستا د هیلو د ترسره کولو لپاره مې خپل ژوند هم قربانولو، خو څه وکړم دا هرڅه بې ګټې دي زه او ته د بېوزلې مرغۍ په څېر د دغه ظالم په پنجو کې ښکېلې شوې یو که هر څومره ټوپونه ووهو بې ګټې دي پرته له دې، چې غاړه کېږدو او ځان ورته تسلیم کړو.

زینب ډېر ژړل په ژړا کې یې تر دې دمه د خپلې مور خبرو ته ښه غوږ نیولی و په زړه یې لوی غم دروندوالی کاوه غوښتل یې، چې چیغې ووهي د ځمک تل خونې پر لور یې منډه کړه په یوې زړې او ماتې تخې کېناسته په چیغو چیغو یې وژړل نه پوهېده څه وکړي ټولې لارې یې په مخ تړلې وې له ځان سره یې وویل: (ای لویه ربه زه به پرته له محسن څخه بل هېڅوک د خپل ژوند ملګری نه کړم، زه خو تر اوسه د محسن سره د واده کولو او د هغه د یادونو په هیله لویه شوې یم او هم مې په همدې هیله تر اوسه ژوند کړی؛ نو څنګه کولای شم، چې زما د وینو هر څاڅکی یواځې محسن غواړي د بل چا سره واده وکړم د بل په څنګ کې ژوند تېر کړم. د ماشومتوب نه را نیولې تر اوسه ما له محسن سره د ګډ ژوند لپاره پروګرامونه جوړ کړي، له هغه سره د ګډ ژوند تېرولو ډېر خوبونه مې لیدلي او یواځې مې هماغه د خپل ژوند ملګری بللی، دغې نجلۍ چې به تل د وفا خبرې کولې له بې وفایۍ څخه به یې کرکه کوله اوس څنګه کولای شي خپله یو منفي رول، د یوې بېوفا جلۍ رول ولوبي، نه مورې

هیڅکله هم نه د مرګ تر شیبې به هم غاړه کېښېږدم همدا زما وروستۍ خبره ده او بس).
زینب لا له ځان سره بونګېده، چې مور یې رانئوتله په څنګ کې یې کېناسته زینب یې خپلې نرمې او له مینې ډکې غېږ کې و نیوله ورته یې وویل: ګوره لورې زما دې په خدای قسم وي چې له وسې مې نه ده پوره څه وکړم، نور نو ژړا بس کړه ستا په سترګو کې اوښکې نه شم لیدلی هله ژر کوه اوښکې پاکې کړه ګوره هره پېغله هیله لري، چې خپل ناوېتوب خپل واده وګوري. زینب چیغې کړې: خو مورې زه څنګه کولای شم له داسې یوه چا سره واده وکړم، چې نه مې لیدلی او نه یې هم پېژنم هغه د خپل ژوند ملګرې کړم. مور یې په ډېرې خوشحالۍ سره وویل: لورې هغه داسې څوک نه دی، چې تا نه وي لیدلې ښه دې لیدلی او هم یې پېژنې، کوم بل څوک نه دی زموږ د خپل کلي دی د مشهد کاظمي زوی عباسقلي دی. زینب د عباسقلي نوم په اورېدلو سره نوره په هیڅ ونه پوهېدله د مور خبره یې لکه د ټوپک ډز داسې په زړه ولګېد په څو څو ځل یې د عباسقلي نوم په مغزو کې انګازې وکړې په سترګو یې تیپه تیاره خوره شوه په نیولي غږ سره یې وویل: څه له عباسقلي سره؛ خو مورې باور وکړه زموږ په کلي یواځې، چې زه له چا څخه کرکه لرم هغه عباسقلي دي او یواځې په کلي کې نه، بښایې د نړۍ په ټولو سړو کې چې زه له چا څخه کرکه کوم هغه عباسقلي دی د هغه چا څېره، چې زه یې یوه شېبه نه شم زغملی څنګه ټول عمر په یو کور او یوه کوټه له هغه سره ژوند تېر کړم. مورې زه د عباسقلي له سترګو څخه چې تل د یوه حریصه او وږي لېوه په څېر ما څاري کرکه لرم څنګه عمر تېر کړم. هیله کوم ما وژغورۍ نه غواړم، چې په ژوند دې څو څو ځلې مړه شم. زه د هغه له بدرنګې او تورې څېرې څخه شومره کرکه لرم او تاسې غواړئ، چې زه دې

د هغه ښځه شم زما له نوم سره دې د هغه نوم یوځای شي. مورې د خدای لپاره په ما ورحمېږئ ما مه تباه کوئ له ژوند سره مې لوبې مه کوئ. زه خولا پوره شپاړس کلنه هم نه یم مورې مخکې له دېنه، چې وغوړېږم مه مې پاڼه پاڼه کوئ.

موریې وویل: خو لورې! ته پوهېږې، چې پلار دې له خپلې خبرې څخه نه اوړي هغه اوس د عباسقلي له پلار سره ژمنه کړې او په هېڅ ډول له خپلې خبرې څخه نه اوړي که زه او ته هر څه وکړو بیا هم زموږ هڅې بې ګټې دي د پلار دې هماغه یوه خبره ده اوس یې دواړه پښې په یوه موزه کې نیستي دي. زینب له ډېر غم او غوسې نه خپل مخ او سر وواهه لکه د لېونو په څېر یې وېښتان وشکول؛ خو دا هر څه بې ګټې ول. په ناهیلۍ سره یې وویل اخر مورې زه مو خرڅه کړم؟ څه وکړم؟ ای خدایه! له ما سره مرسته وکړه.

په دې وخت کې یې د پلار غږ تر غوږ شو د ډارونکي بربښنا په څېر غورېده او ویل یې وه ښځې دغه نجلۍ لا تر اوسه نه ده راغلې؟ مور یې ژر له ځایه پورته شوه د وتلو په وخت کې یې وویل: وه جلۍ پورته شه اوښکې دې پاکې کړه داسې نه، چې پلار دې ووینې که یې ولیدې خدای خبر، چې نوره به څه ټکه په موږ راوغورځوي. زینب ژر له ځایه راپورته شوه خپل ځان یې راټول کړ په لړزېدلي ګامونو له څمکتل څخه راووتله، هسک هم د زړه له خلاصه اوښکې تویولې او له زینب سره یې خوا خوږي کوله؛ ځکه هغه د زینب له زړه څخه ښه خبر و او په دې پوهېده د هغو زرګونو نجو له ډلې څخه یوه داهم ده، چې د خپلې کورنۍ د بېځایه غرور او ضد قرباني کېږي. زینب تیاره هسک ته وکتل، چې د زړه له خلاصه اوښکې تویوي. په چیغو یې وویل: وورېږه هسکه نور هم وورېږه ځکه، چې ته ازاد یې ازاد. هېڅوک به زما په څېر تا ونه رټي او نه به دې هم

هیلې له خاورو سره خاورې کړي، نه به دې د اوښکو په تویولو محاکمه کړي او نه به در څخه دغه ازادي واخلي. اوښکې یې پاکې کړې کړې سره له دې، چې په زړه کې یې د غمونو ډېرې پرتې وې؛ خو ځان یې بېرته عادي حالت ته راوړ د پلار خوا ته لاړه سلام یې ورکړ پلار یې هم په ډېرې مهربانۍ سره په غېږ کې ونیوله په تندي یې ښکل کړه او ویې ویل: هیله مند یم، چې زما له انتخاب څخه راضي اوسې ایا مور دې تا ته کوم څه ویلي او که نه؟

زینب، چې تر دې دمه یې ډېر صبر کړی و نوره یې د صبر کاسه ډکه شوه په ژړا سر شوه او ویې ویل: پلار جانه زه له عباسقلي څخه ډېره کرکه لرم نه غواړم، چې له هغه سره واده وکړم. نن له تا څخه د خپل ژوند خیرات غواړم هیله کوم په ما ورحمېږئ.

پلار یې په غوسې وویل: بې شرمې بې حیا نجلۍ ته څومره ځان غوښتونکې یې ته اوس دومره شوې، چې زما په خبرو خبرې وکړې زه پوه شه او خپل کار مې او نه هم دا حق درکوم، چې په خپله خوښه واده وکړې او نه لا دومره بې غیرته یم. اوس ما د عباسقلي له پلار سره ژمنه کړې هر څه خلاص دي ستا مشورې ته اړتیا نشته ورور دې رحیم له مریم سره مینه لري او هغوی دا شرط ایښی که مور تا د هغوی زوی عباسقلي ته ورکړو؛ نو مریم به رحیم ته راکړي. ته هم په دې وپوهېږه، چې اصلي موخه ته نه رحیم او مریم دي او ته به د مریم په بدل کې ځې.

زینب په ژړا وویل: زه به د رحیم او مریم د مینې قرباني کېږم، پلاره ولې دې ومنله زه خو هم ستاسې یوائینۍ لور یم، زما ژوند تاسې ته هېڅ ارزښت نه لري زما ګنا همدا ده، چې زه یوه نجلۍ یم او نجونې دې تل د خپلو کورنیو د بې ځایه غوښتنو او ضدونو قرباني شي.

پلار يې ولې پورته واچول ورو ورو نږدې شو او ويې ويل: گوره لورې ته مه خپه کېږه، کله، چې ما او مور دې هم واده وکړ؛ نو نه مو يو بل ليدلي وو او نه مو هم سره مينه لرله و گوره، چې زموږ ژوند څومره له خوښيو ډک دی او تا ته هم ښه معلومه ده مور دې څومره له ژوند څخه خوشحاله ده. زينب هر که څومره وژړل، زاري يې وکړه د پلار په پښو کې وغورځېده؛ خو هېڅ گټه يې نه کړه او پلار يې هم په خپله خبره ټينگ ولاړ و؛ ځکه رحيم د دوی همدا يواځينی زوی و او نه يې غوښتل، چې هغه دې خپله مينه؛ يانې مريم له لاسه ورکړي. رحيم او مريم يو له بل سره زياته مينه لرله زينب، چې همدا يو ورور لاره نو ډېر ورته گران و رحيم څلور کاله له زينب څخه مشر و. زينب له ځان سره وويل: (خېر زه د رحيم د مينې قرباني کېږم) نو له همدې امله يې په زړه کې نسبت رحيم ته يو عجيبه نفرت او کرکه احساس کړه؛ ځکه د رحيم او مريم مينې د دې او د محسن مينه قرباني کوله. زينب، چې کله خپل پلار داسې غلی وليد ويې ويل: پلاره هيله کوم مه پرېږده، چې زما ژوند او هيلې دې خاورې شي. د دې په ويلو سره يې د پلار د سوکانو او لغتو باران په زينب راښکته شو د ډېرې غوسې نه سور او شين اوښتی و په چغو يې ويل: څه عجبه زمانه راغلې، چې اولاد د مور او پلار په خبرو کې خبرې کوي ته اوس زما پروراندې ودرېږې نه شرمېږې او بيايې. هم د سوکانو او لغتو لاندې ونيوله د زينب مور د دوی چيغې واورېدې په رېږدېدلي گامونو د دوی خواته راغله او په زاريو يې پيل وکړ: حسينه! هيله کوم نوره يې پرېږده د دې پر ځای ما ووهه؛ مېړه يې په دې خبرې سره هغه هم په سوک ووهله، چې وړاندې په دېوال ولگېده او له خولې يې سوې چيغې ووتې ملا يې ټينگه و نيوله د زينب پلار هم له خپلې دغې کړنې څخه ډېر وشرمېد په چيغو او غړمبېدو له کوره ووت. کله، چې د زينب

مور ته پام شو، چې ډېره خوږه شوې او زګېروي کوي خپل تېږي، خوږ او په وینو لړلی بدن ورڅخه هېر شو او د مور پر لور يې منډه کړه، ټینګه يې په غېږ کې ونیوله او یوه شېبه دواړو ښه په کړیکو یو د بل په غېږ کې وژړل، مور يې د زینب له غېږ څخه راپورته شوه د ملا له درده يې یو لاس ټینګ په تشي کې ایښی و ويې ویل: پورته شه لورې موږ دواړه د یو بې رحمه انسان په لاس کې اسیرې یو د هغه غوږونه اوس د هېڅا خبرې نه اوري او ستا برخلیک دې هم باید ستا د پلار په لاس ولیکل شي. هسې هم پرته له دې بله لار نه لرو.

زینب د مور په غېږ کې ځان وغورځاوه په ژړا يې وویل: خو مورې زه نه غواړم، چې دومره ژر هغه ته ځان وسپارم او که بیا مې هم پلار نه مني: نو یواځې به زما مړی د هغوی کورته یوسي. کله، چې زه عباسقلي ګورم حالت مې ډېر خرابېږي هېڅ د هغه بدرنګه څېره، پراخه پایڅې، لنډه کمیس، ګډوډ او جږ وېښتان، تور او خېرن غاښونه او ناولې څېره نه شم زغملی. آه خدایه! په ما رحمېږه له دغې بدمرغیو څخه مې وژغوره، مورې باور وکړه د دغو ټولو، ستونزو او کړاوونو زغمل ستا دغې بې وسې، یواځې او ناتوانې لور ته ډېر ګران کار دی. مورې! باور وکړه داهرڅه زه نه شم زغملی نه پوهېږم، څه وکړم؟ کله به، چې ما هغه ولید نو ویل به مې کومه بدمرغه به لا له ده سره واده کوي؛ خو خبره نه وم، چې هغه بدمرغه همدازه په خپله یم.

مور يې پر سر لاس ورتېر کړ او ويې ویل: زه چې تا ته ګورم ستا د مخ په هینداره کې خپله ځواني ګورم ستا په څېر زه هم د مور و پلار په لاس کې بندي وم. مور مې غوښتل، چې خپل وراره ته مې ورکړي او پلار مې خپل وراره ته او تل به په خپلو کې په دې خبرې سره په جګړې وو؛ خو زما نه د ماما زوی اونه هم د کاکا زوی خوښېده له یوه سره مې هم واده کول نه

غوښتل هڅه به مې کوله، چې تل له هغوې څخه لرې اوسم. ځان به مې ترې ساته؛ ځکه ما له رضا سره، چې د ترور زوی مې دی ډېره مینه لرله. رضا هغه څوک دی، چې څه موده وړاندې یې ته خپل زوی ته غوښتې؛ خو پلار دې ونه منله او ځواب یې ورکړ. زما د مور او پلار رضا نه خوښېده. هغوی ویل: تاسې له یو بل سره مینه لرئ که سره واده وکړئ؛ نو راتلونکی ژوند به مو له ستونزو څخه ډک وي او بد مرغه ژوند به ولرئ. باید، چې له واده څخه وروسته مینه وي، نه مخکې له واده نه. که ما او رضا هرڅومره کوښښونه وکړل ټول بې ګټې وو هېڅ اغېزه یې په هغوې نه کوله، که هرڅه مې وکړل هېڅ ګټه یې ونه کړه. د مور او پلار قرباني شولو او کله، چې زما واده ستا له پلار سره وشو؛ نو هغه وخت رضا بهر هېواد ته لاړ او هلته یې پنځه کاله تېر کړل؛ ترڅو هلته خپله مینه هېره کړي خو کله، چې بېرته راستون شو هڅه یې دا وه، چې ما ونه ویني او کله به، چې راسره مخ شو؛ نو سترګې به یې له اوښکو ډکې شوې ځان به یې تېر ایسته، چې ز ه یې ونه ګورم؛ ځکه هغه زما پر وړاندې داسې ځان ښکاره کولو، چې زه داسې ګومان وکړم، چې زه ګواکې هېره کړې یې یم: خو څه به مو کړی وای نه اوښکې، نه ژړاوې، نه سوز، نه هم چیغو زما او نه ستا درد ته درمل ورکولی شي او نه مو هیلې له تبا کولو څخه ژغورلی شي.

هو ګرانې! موږ هم د مور و پلار د بې ځایه غرور، ضد، ځان غوښتنو، جهل او ناپوهی ښکار شوو. د زینب زړه د مور ترخو یادونو او خاطرو لانور هم نری کړی و په مخ یې اوښکې لکه د سیند داسې روانې وې خپل لاسونه یې وموښل او ویې ویل: مورې تاسې تېروتې یاست، ولې مو دومره زر غاړه کېښوده باید دومره زر نه وای تسلیم شوای.

مور یې وویل: څه به مو کړي وای مور خو بله لاره نه لرله پرته له دې، چې غاړه مو اېښې وی او نه خو مور یوازې د ځان لپاره ژوند کاوه. که د مور و پلار پر وړاندې درېدلې وای؛ نو خپلسري، ځانغوښتونکي، بې شرمه، بې حیا او بلاخره سپېین سترګې یادېدلو له ډېرې مجبورۍ مو د هغوی غوښتنې ومنلې او په پټه خوله مو هر څه وزغمل، مور نه غوښتل، چې د ځان په خوښیو د خلپې کورنۍ خوښۍ هېره کړو.

ورو ورو ورځې خپله واکمني شپې ته سپارله زینب او مور یې خپلو کوټو ته لاړې. هغه شپه د زینب لپاره ډېره سخته او اوږده وه، لکه چې شپې هم د زینب له اوښکو خوند اخیست او نه یې غوښتل چې خپل تور څادر را ټول کړي. د هغې ورځې په سهار زهرا د زینب کور ته راغله چې د سینډ نه اوبه راوړي. د زهرا چې د زینب په الوتي رنګ او سرو سترګو سترګې ولګېدې د دغې حالت په لیدلو ورپېده یو ناڅاپه یې له خولې کړیکې ووتلې: زینب څه پېښه شوې؟ زینب چې منګی را اخیسته په لنډو یې ټوله کیسه ورته تېره کړه او په هرڅه یې وپوهوله. زهرا چې د دې هر څه په اورېدا و ډېره خواشینې وه ویې ویل: زینب جانې دغې واده ته غاړه مه ږده ما غوښتل ځوورځې وړاندې...خو بېرته یې خپله خبره غوڅه کړه.

زینب وویل: هیله کوم خبرې ته دې دوام ورکړه. غواړې څه ووایې؟ خو زهرا په اوږده سوچ کې ډوبه وه. له څو شېبو وروسته دواړه د اوبو راوړلو په نیت له کوره ووتلې. د لارې په اوږدو کې به یوه یوه نجلۍ په کوڅه کې له دوی سره یوځای کېدلې او د پېښې په اړه به یې پوښتنې کولې زینب لکه پاڼه رپېده ټول وجود یې بې حسه و، زړه یې غوښتل په چیغو چیغو وژاړي او ټولو ته ووایي، چې څومره له عباسقلي نه یې بد راځي څومره کرکه ور څخه لري. غوښتل یې چې ټولې جونې ورڅخه لاړې شي او دا یوازې د خپلې نږدې ملګرې، چې د هر راز محرمه یې ده

یوائې پرېږدي. د سیند غاړې ته ورسېدلې. شا او خوا سیمې د وربښت له امله لمدې وې زینب دومره په خپلو سوچونو کې ډوبه وه آن هغه ځوان، چې وچې ونې ته یې ډډه وهلې وه ونه لید؛ خو د نورو نجونو چې څنګه په نابلده ځوان سترګې ولګېدلې شور او غوغا یې سازه کړه او د سیند بلې خوا ته په منډو شوې. یوائې زینب او زهرا پاتې شوې، زینب د نجونو په غوغا د سوچونو له نړۍ څخه را بحر شوه شا او خوا یې وکتل ناڅاپه یې سترګې په یوه ښکلي ځوان ولګېدې یوه شیبه همداسې هکه پکه ولاړه وه. بېواکه یې د ځوان پر لورې منده کړه. ځوان له ځایه پاڅېد د هغې خوا ته یې لاسونه و نیول. زینب په منډه ځان ور ورساوه د هغې لاسونه یې په خپلو لاسونو کې ټینګ ونیول. هېڅ باور یې نه کېده سترګې یې د هغې په سترګو کې وڅومبلې. د ځوان په سترګو کې هم د خوښۍ غوټۍ غوړېدلې وې. داسې یو د بل په سترګو کې ډوب شوي وو، چې د کلونو تنده یې ماته کړله. وروسته له څو شیبو زینب ټکان وخوړ وپوهېدله چې چېرته ده؛ نو سر یې ټیټ ونیو له ډېر شرم نه یې مخ سور اوښتی و او په ډېرې حیرانتیا سره یې وویل: محسنه دا ته یې زه خو به خوب نه وینم. ته پوهېږې، چې زه نن څومره خوشاله یم. وروسته یې زهرا ته مخ واړاوه او په ګیلې یې وویل: ولې دې زه نه یم خبره کړې، چې محسن راغلی. زهرا پرته له مسکا، چې هغه هم د دوه مینانو د یوځای کېدو په خوښۍ وه بل هېڅ ځواب نه لاره. محسن، چې د زینب په ښکلا کې ډوب شوی و را نږدې شو او ویې ویل: یانې ته هماغه وړه زینب یې، څومره غټه شوې یې او ښکلې هم. زه چې کله تللم نو ته دولس کلنه وې. هغه ورځ مې اوس هم هماغسې په سترګو کې غوړېږي، کله چې زه تللم او په موټر کې کېناستلم؛ نو تا د موټر پسې منډې وهلې او په کړیکو دې ژړل، مانه به دې هیله کوله بېرته را ستون شم او ما هم څو ځلې له ډرېور

ځخه وغوښتل، چې موټر ودروي. زړه مې نه غوښتل د وروستي ځل لپاره دې سترګې له اوښکو ډکې وګورم او کله به، چې له موټره کوز شوم: نو تا نه به مې هیله کوله، چې نوره مه ژاړه؛ خو تا به همداسې ژړل ستا اوښکې به مې نه شوې زغملی موټر ته به مې پنا وړوړه. هلته مې هم زړه اور اخیسته. د وروستي ځل لپاره مې له ډرېور ځخه وغوښتل، چې د سیند غاړې ته موټر ودروي او له تا ځخه مخه ښه واخلم. خو ډرېور په غوسې وویل: ښاغلیه! که همداسې هره شېبه زه تا ته موټر ودروم ګومان نه کوم، چې تر ماښامه به له دې ځایه ووځو او ټوله شپه به مو همدلته سرګردانه وي. زما خبره یې بابېزه وګڼله ته او د سیند غاړه یې همداسې پرېښودئ تا به د موټر پسې منډې وهلې او ما تر هغه تا ته نصیحت کاوه، چې اخر زه هم په ژړا شوم.

زینب د دې هرڅه په اورېدلو له ډېر شرم نه یې په مخ سرو ګلانو غوټی غوړولې وې. سر یې ټیټ نیولی و، د محسن هره خبره ورته د موسیقی نه خوندوره او زړه وړونکې وه. په غور سره یې اورېدې. محسن وویل: زینب سر دې پورته کړه زړه مې غواړي ستا دښکلو سترګو رنګ وګورم. زړه مې غواړي د ماشومتوب د پېښو پل ستا د ښکلو سترګو په هینداره کې ووینم. زینب خپلې ښکلې او له حیا ځخه ډکې سترګې د محسن په څېره کې وګنډلې، دواړو یو بل ته په ځیر ځیر کتل، هېڅ حرکت یې نه کاوه ښایې دوی به یو د بل په سترګو کې خپل راتلونکې ژوند لیده.

کله چې زهرا د دوو مېینانو دغه حالت ولید؛ نو داسې یې وانګېرله ګواکې وخت له حرکته ولوېد. د زینب په ولي یې لاس کېښود و یې ښورولې. زینب چې له خوارډه خوبه را ویښه شوه ویې ویل: محسنه ته نه پوهېږې چې زه نن څومره ستا په لیدو خوشاله یم. په دغه څلور کالو کې

چې ته دلته نه وې پر ما څومره سختې تېرې شوې دي. زما لپاره هرڅه بې رنګه ښکارېدل، زړه نه مې خوښېږو کله کړې وه، زه ډېره یوازې شوې وم هېڅوک نه وو، چې له ما څخه...یو ځل خپلو هغو دردونو او پرهرونو ته، چې له پرون نه یې تر څو شېبو وړاندې پورې زغملي وو ځیر شوه. په حیا یې له محسن څخه سترګې واړولې، سترګې یې له اوښکو او دردونو څخه ډکې وې داسې یې انګېرله چې کوم څه یې په زړه لکه د غر درروند والی کوي، اوښکې یې بېواکه په مخ تویولې. ویې ویل: محسنه څلور کاله کېږي چې سره لرې یو، ته به اوس دوه ویشت کلن یې او زه هم شپاړس کلنه.

محسن د زینب په خوا کې ودرېد له سر نه یې تر پښو له نظره تېره کړه او ویې ویل: زینب زه ستا لپاره څلور کاله په پردي هېواد کې پاتې شوم خولې مې تویې کړې کار مې وکړ محنت مې وایسته، چې ډک جېب راوګرځم او وکولای شو له خوښیو څخه ډک ګډ ژوند پیل کړو او وکولای شم په راتلونکي کې تا نېکمرغه کړم. د محسن په دې خبرو سره د زینب په سر هغه د خیالونو نړۍ، چې له محسن سره یې د ګډ ژوند لپاره لیدلې وه ورانه شوه په سترګو یې تپه تیاره شوه. له خولې څخه یې بېواکه چیغې ووتلې. د اوښکو لښتو یې د ګرېوان لار ونیوله. محسن د دې هرڅه په لیدلو ډېر ورخطا شوی و په حیرانتیا یې وپوښتل: زینب دا څه ډول تو کې دي، چې ته یې کوې. ژر ووایه. چې څه پېښه ده؟ هیله کوم ژر ووایه دا هرڅه زه نه شم زغملای. زینب په بد حالت کې وه، ژبه یې بنده بنده کېده سلګو وار نه ورکاوه، چې یوه خبره له خولې وباسي او یا هم د محسن کومې پوښتنې ته ځواب ورکړي. زهرا چې د زینب دغه حالت ولید مجبوره شوه په خپله محسن په هرڅه وپوهوي.
محسن د دې هرڅه په اورېدلو سر وښوراوه او ویې ویل:

زینب دا خو کومه غټه ستونزه نه ده. ټول کلي خبر دی، چې مور له ماشومتوب نه نیولې تر اوسه څومره یو له بل سره مینه لرو ټول کلیوال مور ته د یوې نېکمرغه جوړې په سترګه ګوري. مور ته د کوژدې په سترګه ګوري اوس خو دا دی زه هم راغلی یم او تر اوسه خو لا ستا او د عباسقلي کوژده نه ده شوې. پلار دې یواځې خبره ورسره کړې او کولی شي، چې بېرته د خپلې خبرې نه وګرځي.
زهرا وویل: محسنه د زینب په مخ هغه پرهارونه او داغونه وګوره. د زینب جرم بس همدا و، چې د خپلې مینې اظهار یې کاوه او ویل یې، چې زه له عباسقلي سره واده نه کوم محسن چې تر دې دمه یې د زینب په مخ پرهارونو ته نه و ځیر شوی سترګې یې پرې ولګېدې، په هرڅه وپوهېده. په زړه یې اور بل شو له دې، چې د خپلې هیلې سترګې یې داسې ټکېدلې او ټکې شنې ولیدې ډېر په غضب شو.
چیغې یې کړې، ای بې رحمه بوډا: زینب ته یې وویل: زه همدا اوس ستاسې کور ته ځم او د هریو ټپ ځواب ورکوم. په غوسې روان شو.
زینب په ژړا شوه محسن یې کلک ونیوه، محسنه هیله کوم زه نه غواړم. چې زما لپاره دې بل څوک په ستونزه کې رابنکېل شي. ته خپل ژوند مه خرابوه پرېږده، چې یواځې زه په دې اور کې وسوزېږم. محسن راستون شو په زړه کې یې بې شمېره دردونو او غمونو څپې وهلې، د زینب له اوښکو ډکو سترګو ته یې و کتل او ویې ویل: زینب هغه وعدې هغه قسمونه څه شول، چې مور د یوه نېکمرغه ګډ ژوند لپاره خوړلي وو او دا پرېکړه مو کړې وه هېڅ یو بد سیوری به نه پرېږدو، چې زموږ په ژوند دې خپلې توري وزرې وغوړوي. دا مو سره ویلي وو، چې د ژوند ترورروستۍ سلګۍ پورې د بل چا په اړه فکر نه کوو. ولې دې دومره ژر دا هرڅه هېر کړل، ولې غواړې دومره ژر له بل چا سره واده ته غاړه کېږدې. د زینب په

ژېړو اننګو اوښکو مخ په ښکته منډې وهلې، په شمېرلو کلمو یې وویل: محسنه ته زما پلار نه پېژنې هغه څومره سرسخته او ځان غوښتونکی انسان دی. هر څه چې وغواړي هماغه کوي، هیله کوم دا هر څه چې اوس روان دي تر دې یې نور هم مه خرابوه. د محسن له سر نه تر پښو کینه او غوسه ورېده، په سترګو کې یې اور لمبې وهلې، سر یې ټیټ نیولی و شونډې یې په غاښو چیچلې، هېڅ نه پوهېده، چې څه وکړي ویې ویل: زینب زه څومره په هیله بېرته خپل هېواد ته راستون شوم هغه خوبونه، چې مور د ګډ ژوند لپاره لیدلي وو په رښتیا بدل کړم او دې بېلتون ته نور د پای ټکی کېږدو.
هر څه، چې وي خیر زه دومره ژر نه ناهیلی کېږم او نه هم دومره ژر ما ته منم همدا نن ورځ یا شپه ستاسې کور ته درځم او له پلار سره دې په دې اړه خبرې کوم. ستا او د خپل ژوند خیرات ورڅخه غواړم په دې یې پوهوم، چې شته نه شي کولی ستاسې لور نېکمرغه کړي پرته له دې، چې د درې کسانو ژوند خراب کړئ بل هېڅ په لاس نه درځي. ښایې، چې پلار دې زموږ ستونزه خپله ستونزه وګڼي او مثبتې پایلې ته ورسېږو.
زینب وویل: محسنه دا هرڅه بې ګټې دي د هغه چا زړه، چې له کاڼي وي دا هر څه به پرې څه اغېزه وکړي. محسن چیغې کړې همدا یوه خبره یې له خولې اورېدل کېده (په هېڅ ډول زه له تا څخه لاس نه اخلم؛ ترڅو چې ژوندی یم نه پرېږدم زما مینه دې د بل چا شي). په موټرسایکل یې خپه واړوله او د کلي پر لور روان شو. زهرا خپل او د زینب منګي ډک کړل او د کلي پر لور وخوځېدې د لارې په اوږدو کې یې یوه یوه خورلڼه ورسره بېرته یوځای کېدلې. هرې یوې د هغه ځوان په اړه بېلابېلې پوښتنې کولې او هم به یې د هغه ستاینه کوله. یوې وویل (څومره ښکلی ځوان و). بلې وویل: (څه ځواني یې ده، څه سترګې، څه کاته) خو یوه هم د

زینب له زړه نه نه وې خبرې، چې څه پرې تېرېږي؟ زهرا زینب ته ډاډینه ور کوله، ویې ویل: هغه ځوان زما ورور محسن و، جونو ټولو یوې بلې ته وکتل او د ژبو لاندې یې کوم څه وویل.

زهرا وویل: جونو موږ ټولې سره ملګرې یو او بویه کومه ستونزه، چې پیښېږي؛ نو په ګډه سره یې د حل لاره پیدا کړو. زه غواړم، چې په دې اړه تاسې ته یو څه ووایم او یوه د حل لار ورته پیدا کړو. تاسې ټولې په دې ښه پوهېږئ، چې زینب او محسن له ماشومتوب نه تر اوسه څو مره یو له بل سره مینه لرله او لري یې؛ خو په دې وروستیو وختونو کې د زینب پلار غواړي، چې د زینب واده له عباسقلي سره وکړي. اوس موږ او تاسې پورې اړه لري، چې څه ډول له دې واده څخه مخنیوی وکړو. ټولو نجونو په یوه غږ وویل: هو ولې نه، ایا دا به د بدمرغۍ ځای نه وي، چې داسې یوه ښکلې ښاپېرۍ دې د هغه ړانده او کاږه سړي مېرمن شي، که چېرې داسې وشول؛ نو داسې وبوله، چې یوه ښکلې هوسۍ د یوه وحشي لېوه په منګولو کې ولوېده او دا چې پایله به یې څه وي په هغې هم تاسې پوهېږئ او هم موږ.

لیلا د کلي یوه مسته پېغله وه، د هر چا خیال به یې ساته. کله به، چې له همزولو سره یو ځای شوه خندا ګانو به یې آن لرې واټنونه په سر اخیستي وو. خوله به یې تل له خندا ډکه وه. ژوندي خو لا څه، چې مړي به یې هم په خندا راوستل، په دې عادتونو یې د ټولو کلیوالو په زړونو کې ځای درلود؛ خو کله به، چې د همزولو په منځ کې نه وه؛ نو چپه چوپتیا به وه لکه ټولې، چې سره مرورې وي. رامخ ته شوه، ولې یې پورته وغورځول او ویې ویل: (زهرا دا خو ساده خبره ده، عباسقلي ما ته پرېږده. په یوه نظر به یې داسې په خپل جال کې راګېر کړم، چې کلی او کور ترې پاتې د غرو او رغو لیونی شي) یوې ملګرې یې په خندا ورته وویل:

(لیلا که دا مجنون تا د ځان پسې لېونی کړي؛ نو بیا څنګه)؟ لیلا په بې پروایۍ سره ځواب ورکړ: (لا به لیلا او مجنون به سره واده وکړي. ډېره ښه ده زه همدا اوس په خپل کار پیل کوم) دا یې وویل او په خندا سره له نورو ملګرو څخه بېله شوه او د عباسقلي د کور لاریې ونیوله.
دوه درې کوڅې وروسته د عباسقلي کور ته ورسېدله. دروازه خلاصه وه ورو یې وټکوله او کور ته ور دننه شوه. د عباسقلي مور، چې یوه ډېره مهربانه او زړه سواندې ښځه وه د انګړ په جارو کولو بوخته وه. لیلا سلام ور کړ. هغه په ورین تندي ور ته ښه راغلاست ووایه او د کېناستو بلنه یې ورکړه. لیلا وویل: مور جانې زه ډېره تږې یم. د عباسقلي مور عباسقلي ته غږ وکړ، یو جام یخې اوبه راوړه، چې لیلا ډېره تږې ده. عباسقلي له ډک جام اوبو سره له کوټې څخه راووت. دواړو یو بل ته سره سلام وکړ. عباسقلي د پېغور په ډول لیلا ته وویل: عجیبه جلۍ ده، له سیند نه تږې راغلې ده. د اوبو ډک منګی یې په شا دی او له تندې نه مړه کېږي.
مور یې په خندا ځواب ور کړ، زما ساده زویه د سیند اوبه تروې دي هغه کله څوک څښي دا خو یوازې د لوښو، جامو او ځینو نورو کارونو لپاره په کارېږي. کله چې لیلا عباسقلي له لاسه جام اخیسته په یوه داسې اورین انداز یې ور ته وکتل، چې له هغې څخه یې وار خطا کړ زړه یې ښوا که ټوپونه وهل. ژر یې سترګې ښکته واچولې. لیلا تش جام په لاس کې ورکړ مننه یې ترې وکړه، ویې لیدل، چې د عباسقلي مور لرې ولاړه ده، زړه راښکونکې مسکا یې وکړه او ویې ویل: وه ساده ته ولې نه پوهېږې چې زه د اوبو پسې نه ستا د دیدن پسې راغلې یم ډېره موده کېږي، چې نه مې یې لیدلی؛ نو ستا بېلتون مې و نه شو زغملی ستاسې کور ته راغلم ښه ته ووایه، چې څه مې کړي وای، وروسته یې د نازه ډکه مسکا وکړه او په یوه خاص انداز یې له کوره ووتله. عباسقلي ته، چې تر

دې دمه په داسې زړه راښکونکې نظر چا نه و کتلې، داسې یې انګېرله، چې خوبویني هک پک ولاړ و نه پوهېد، چې لیلا ولې داهر څه وکړل. ترهغې چې لیلا له سترګو پناه کېدله ده ورته حېران کتل. د لیلا ښکلو بادامي سترګو، لکه د ګلاب سرو شونډو، تورو اوږدو وېښتانو، وړې خولې، نرۍ جګې پوزې، د چنار په څېر ښکلې دنګې ونې د عباسقلي په زړه اور بل کړ. کله یې چې مور د هغه په بڼه کې بدلون ولید سم له واره یې پوښتنه وکړه، ولې زویه څه وشول ولې دې رنګ اوښتی څه خبره ده؟ عباسقلي وویل: هېڅ خبره نشته زه په دې سوچ کې وم، چې... پاتې خبره یې غوڅه کړه.

ژر یې خپلې کوټې ته ځان ورساوه د لیلا په اړه په ژورو سوچونو او خیالونو کې ډوب شو نه پو هېده، چې څه وکړي. هلته د کوټې په ګوټ کې لیلا ته ملګرې سترګې پر لار وې څنګه یې، چې په لیلا سترګې ولګېدې ټولو په منډه ځانونه ور ورسول. هرې یوې به ترې بېلابېلې پوښتنې کولې، څه دې وکړل؟ هغه دې په خپل جال کې را ګېر کړ او که نه؟ لیلا هم ټوله کیسه ورته تېره کړه ټولو ورته ښه په لېوالتیا غوږ ایښی و. ټولو نجونو، چې کیسه واورېده په کړس کړس ورته وخندېدلې، لیلا سوړ اسویلی وویست او ویې وویل: زه ګومان نه کوم، چې کومه اغېزه دې پرې وکړي؛ ځکه هغه د زینب په جال کې داسې راښکېل شوی، چې که چېرې د چین ښاپېرۍ هم ورته راولې بیا به هم هغه د زینب ځای و نه نیسي او یوازې به له زینب سره مینه کوي او بس، زینب ته، چې همدا یوه د خلاصون لار پاتې وه او هغه یې هم پر مخ وتړل شوه؛ نو ډېره ناهیلې شوه له سترګو یې بېواره اوښکې روانې شوې او خپل د زخمي زړه غمونه یې له نورو خورلنو سره شریکول. د لارې په اوږدو کې به هره یوه خپلو کورو ته ستنېدلې دا او زهرا غلې روانې وې د

زینب د کور په رارسېدلو سره زهرا هم مخه ښه واخیسته او د خپل کور پر لورې لاړه زینب، چې ځنګه په خپل کور ورننه شوه د عباسقې په پلار یې سترګې ولګېدلې، چې د دې له پلار سره یوځای ناست دی او کیسې سره کوي. د نومورې په لیدو یې ټکان وخوړ له ټول وجود څخه یې کرکه ورېده؛ خو خوارکۍ ناچاره ورغله او سلام یې وکړ. کاظم، چې تردې دمه زینب ته د اینګور په سترګه نه وکتلې په یوه نظر یې له سر نه تر پښو تېره کړه وروځې یې پورته وغورځولې او په غرور سره یې وویل: خدای ج دې راته له بدو سترګو وساتي څه ښکلې اینګور مې په نصیب شوه په خیر راغلې راځه لورې سترې شوې به یې یوه پیاله چای وڅښه؛ خو په زینب دا خبرې لکه د ټوپک ډز داسې لګېدې تندي یې ګونځې نیولې وې نږدې و، چې چیغې کړي او ورته ووايي، چې زه ستا او ستا له کورنۍ څخه کرکه لرم او ستا د غه منحوسه څېره یوه شېبه هم نه شم زغملای، خو په ډېر زیار سره په خپلې غوسې واکمنه شوه منګې یې له غېږ څخه رانښکته کړ پلار یې وویل:

لور جانې که شونې وي مونږ لپاره یو ښه خوندور کباب چمتو کړه؛ ځکه نن دې خسر له مونږ سره مېلمه دی غواړي، چې ستا د لاس خواړه وخوري زینب هم غوښتل، چې ژر کوټې ته لاړه شي او په مشهدي کاظم یې سترګې ونه لګي او خبرې یې، چې د زهرو په څېر ورباندې اغېزه کوله وانه وري؛ خو څه یې کړی وای مجبوره وه، چې کباب پوخ کړي او د خپل خسر ستاینې وزغمي. له پلار څخه یې وپوښتل پلاره مور مې چېرته تللې؟ پلار یې په خندا لکه، چې د کومې ښې خبرې زېری ورکوي وویل: لورې مور دې تللې، چې د واده لپاره ځان تیار کړي او ځینې شیان واخلي ځکه، چې نن د دوشنبه ورځ ده او مونږ دومره ډېر وخت نه لرو د دې خبرو په اورېدلو د زینب د سترګو پر وړاندې یو ناڅاپه د محسن

جذابه او زړه راښکونکې څېره انځور شوه هغه ښکلې دنګه ونه، غنمرنګه څېره او سمندر په څېر سترګې کله به، چې د هغه په سترګو کې ډوبه شوه؛ نو پسلی به یې له ټولې ښکلا او رنګینو سره د هغه په سترګو کې لیده. خپلې اوښکې یې پاکې کړې کوټې ته یې ځان ورساوه او په ژړا یې پیل وکړ؛ خو ژر یې خپله ژړا هم په ستوني کې بندي کړه او داسې یې انګېرله، چې د ژړا لپاره هم ازادي نه لري غږ یې په ستوني کې زندی شوی و، د خپل ماشومتوب هغه خواږه یادونه ور په زړه شول هغه شپې، چې محسن د دې لپاره هرڅه وتر ټولو ښه ملګرې او ښه ملاتړ، چې د هغه په شتون به هېڅ زړه نه کولو حتا زینب ته پورته هم وګوري او یا دې دا وزوروي. هغه خوږې شېبې ور په زړه شوې، چې یوه ورځ دا او محسن سره لاس په لاس د سیند غاړې ته لاړل. محسن د کب نیولو په جال څو دانې واړه کبان ونیول او زینب ته یې په لاس کې ورکړل، چې ویې ساتي؛ خو کله چې به د محسن پام نه و؛ نو زینب به هغه بېرته په اوبو کې ور خوشې کړل، چې هغوی هم ازاد اوسي ځکه هغو هم د ژوند کولو پوره حق لري او بویه، چې ژوند وکړي. محسن څو نور کبان هم ونیول او ویې ویل: زینبې هغه نور کبان هم راوړه راځه، چې نور کورته ځو. زینب په بې پروایۍ سره وویل: هغه نور خو ما بېرته په اوبو کې خوشې کړل محسن هم له ډېرې غوسې نه په یوه لاس د زینب لاسونه ټینګ ونیول او بل لاس یې پورته کړ، چې په غوږ یې په څپېړه ووهي؛ خو کله یې چې لاس پورته کړ او د زینب په زړه راښکونکو سترګو او له خندا ډکه خوله یې سترګې ولګېدې ژر یې لاس ونیو او له سترګو څخه یې اوښکې را ښکته شوې په خپلې کړنې ډېر پښېمانه شو له هغې څخه یې بخښنه وغوښتله او په مخ یې ښکل کړه، زینب هم د محسن واړه لاسونه ښکل کړل او په ورو او نازکو ګوتو یې د هغه له مخ څخه اوښکې، چې د بهېدلو په حال کې وې

پاکې کړې او ویې ویل: محسنه ته خو هلک یې او باید هیڅ کله هم هلکان په دومره ورو خبرو ونه ژاړي. زه درسره دا ژمنه کوم هیڅکله به داسې کوم کار نه کوم، چې ته پرې خپه کېږې هیله کوم ژړا دې بس کړه په خدای ج سوګند یادوم، چې زه ستا په مخ یوه اوښکه او یا هم کومه پرېشانې نشم زغملی. له دې څخه څو ورځې تېرې شوې؛ خو محسن خپلې دغې کړنې ډېر زوراوه او کله به یې، چې زینب ولیدله هغې ته به یې ویل: زینب رښتیا درته وایم ډېره مینه درسره لرم که هغه ورځ مې ته په خپېړه وهلې وای؛ نو خپل ځان مې هم په سینند کې ډوبوه؛ ځکه زه ستا د خپګان او اوښکو زغم نه لرم او نه یې هم زغملی شم.
زینب له خپلو دغو اوږدو یادونو او خاطرو څخه را بهر شوه د محسن څلور کاله بېلتون دومره نه وه زورولې لکه اوس یې، چې په شتون دومره زوروېږي او سلګونو ان په زرګونو ستونزې او کړاونه یې لانور هم ډېر شوي دي. نوموړې د محسن د بېرته راستنېدو په اړه ډېر فکرونه کړي وو، د یو ښکلي ګډ ژوند د پیلېدلو لپاره یې ډېر په زړه پورې پروګرامونه جوړ کړي وو. له محسن سره د ګډ ژوند پوره چمتووالی یې نیولی او آن داسې سوچ یې لا هم نه و کړی، چې داسې ورځ به لا راځي، چې دا د محسن نه؛ بلکې د بل چا ناوې جوړېږي او د محسن په شتون به دا له بل سره واده کوي، دې خو یوازې له محسن سره د ګډ ژوند خوبونه لیدل؛ خو اوس یې ټولې هیلې او پروګرامونه په اوبو کې د ډوبېدو په حالت کې لیدل او پرته له چوپتیا څخه یې بله کومه لاره هم نه لرله او مجبوره وه هر څه په پټه خوله وزغمي. څومره دردونکې، چې هغې تر دې دمه د محسن په اړه او له هغه سره د نېکمرغه او له خوښیو ډک ګډ ژوند په هیله شپاړس کاله ژوند تېر کړی و، په دې شپاړس کلونو کې یوه شېبه یې له زړه څخه نه وایستلی. اوس یې څنګه کولی شول د محسن او

د هغه له احساساتو پرته يوازې ژوند تېر کړي، که داڅلور کاله يې بېلتون وزغمه خو د يوې داسې ورځې په هيله وه، چې محسن به بېرته راستنېږي؛ ځکه يې هرڅه په پټه خوله زغمل؛ خو اوس څنګه ژوند تېر کړي پرته له محسن څخه او ولې يې تېر کړي. اوس خو يې د هيلو مانۍ په ړنګه شوې وه. پرته له دې، چې پاتې ژوند دې د هيلو د بربادېو په ماتم اوښکې تويې کړي د زړه غوښې وخوري نور يې هيڅ له وسې نه و پوره او نه خو هم داسې نجلۍ وه، چې د خپلې مينې د ترلاسه کولو په موخه دې د خپلې مور، پلار او ورور په خبرو پښه کېږدي او هغه دې بابېزه وګڼي؛ مجبوره وه يو داسې برخليک ته غاړه کېږدي، چې پرته له ځان قربانولو بله پايله يې نه لرله.

هو! بې رحمه برخليک ته غاړه اېښودل يوازينۍ لار وه. په همدې خيالونو کې لا ډوبه وه، چې يو ناڅاپه د مور مهربانه او زړه راښکونکي غږ په خود کړه، دغه مهربانه غږ د زينب په زخمي زړه لکه د مرحمو پټۍ داسې لګېده له ځايه راپورته شوه خپلې اوښکې يې پاکې کړې؛ مور وربانديې ډېره ګرانه وه او نه يې غوښتل، چې خپله مور دې هم له ځانه سره پرېشانه کړي. ورو له ځايه راپورته شوه خپل ځان يې راټول کړ او له کوټې څخه دباندې را ووتله، د مور خوله يې چې له خندا ډکه وه ويې ويل: ګرانې زينب! ته خو يوځل راشه، د زينب په زړه، چې د غمونو ډېرې پرتې وې په لړزيدلو او ناتوانه ګامونو د هغې خوا ته ورغله بڼه يې تکه زېړه اوښتې وه په بې حوصله ګۍ سره يې وويل: مورې څه وايې؟

مور يې، چې د لور لپاره جېز او ځينې نور د اړتيا وړ شيزونه اخيستې وو ډېره خوشاله وه ويې ويل: لورې هيله منه يم، چې تل نېکمرغه اوسې راشه وګوره څه ښکلي او په زړه پورې شيان مې درته اخيستې دي هر هغه څه، چې مايې په ځوانۍ کې هيله لرله خپلې ګرانې زينب لپاره مې

اخیستې دي نور یې د خپلې راوړې سودا په ښکاره کولو پیل وکړ او په ډېرې مینې او لېوالتیا سره یې هغه یوه، یوه نورو ته ورښکاره کوله. (دا وګوره لورې څومره ښکلې هېنداره ده هرڅه به، چې د عباسقلي مور مریم ته اخیستل: نو هغه څیزونه به ماهم ستا لپاره اخیستل). زینب لکه د مطیع او بې وسې ورې په څېر، چې پښې او لاسونه یې تړلي او د قربانۍ لپاره یې وړي، غلې او کراره په خپلو اوږدو سوچونو کې ډوبه وه. په زړه یې د غمونو او اندېښنو ډېرې پرتې وې او لکه د غریبې داسې دروند والی کاوه. د خپلې مور لاسونو ته یې کتل او پلار یې هم د خپلې ښځې د سلیقې ستاینه کوله. د زینب مور وویل: زموږ ښکلې اینګور او رحیم هرڅه په خپله خوښه واخیسل او بیا یې زینب ته وکتل سره له دې، چې د لور له زړه څخه ښه خبره وه او په دې هم پوهېدله، چې نومورې همدا اوس په څه حالت کې ده؛ خو هېڅ یې هم نه شول کولای. د دې لپاره، چې د هغې غمونه یې لږ څه کم کړي وي، یو یو د خوښې څیز به یې هغې ته په مخ کې ایښوده؛ ځکه په خوښه کې داهم له زینب څخه کمه نه وه او د هغې د خوښې شیان یې راوړي وو. مشهدي کاظم چې یوائې د خپلې ښځې سلیقه او ذوق ستایلی و او نور تردې دمه غلی ناست وېې ویل: ولې مو زما اینګور له ځان سره نه وه بولې، چې د خپل ځان لپاره یې شیان اخیستی وای. د زینب مور، په ډېرې ورختایۍ سره وویل: زما او د لور خوښه مو یوه ده مخ یې زینب ته واړوه او ویې ویل: که څنګه لورې؟
زینب په خپلو سوچونو کې داسې ډوبه وه، چې د مور پوښتنه یې هم وانه ورېده. پلار یې وویل: زینب په کومو سوچونو کې ډوبه یې؟
زینب ټکان و خوړ پرته له دې، چې په خبره ځان وپوهوي په ډېرې ورخطایۍ سره یې وویل: هو! هو همداسې ده. ډېره ښه ده همدغسې سم دي.

سترګې يې، چې له ورايه ورڅخه غمونه او اندېښنې ورېدلې په هېنداره ولګېدې. په هغه کې ورته د محسن ښکلې او جذابه څېره، خمارې شنې غټې سترګې، تور اوږده او ښکلي باڼه، تېره جګه پوزه او ښکلې ګلابي شونډې، چې سوروالی يې له ګلاب څخه ورته په ميراث پاتې و انځور شوه. په وچو او چاودو شونډو يې، چې تا به ويل په پېړۍ پېړۍ يې مسکا نه ده ليدلې ښکاره شوه.

ټولو په زوره زوره وخندل هغوی داسې وانګېرل، چې ګوندې زينب له دې اړيکې څخه خوشحاله ده، دوی لا په خپلو خوښيو کې وو، يو ناڅاپه د دروازې غږ تر غوږو شو، په زوره زوره ټکېدله. د زينب پلار په جګ غږ ووېل: راځه دروازه پرانيستې ده، د دې په ويلوسره په ور کې يو ځوان، له ډېرې ښکلې، زړه راښکوونکې څېرې او دنګې ونې سره را ښکاره شو او ټولو ته يې سلام وکړ. زينب د دې زلمي په ليدلو سره ډېره خوشحال شوه او پرته له دې، چې ناستو خلکو ته کومه پاملرنه وکړي له ځايه ور پورته شوه او په خوښۍ يې ووېل: محسنه ته دلته په ډېر ښه وخت کې راغلې نږدې و، چې له يوازيتوب څخه لېونۍ شم؛ ځکه تر دې دمه ټول غمونه يوائې زما په زړه باندې انبار وو ستا په راتلو به له ما څخه لږ څه غمونه کم شي.

سپين ږيرو او د زينب مور لومړی هغه ځوان ونه پېژنده؛ خو د زينب له کړنو او خوښۍ څخه ورته ښکاره شوه، چې دا محسن دی کله، چې محسن وپوهېد، چې هغه يې ونه پېژند ور نږدې شو او ويې ويل: زه مو هېر کړی يم؟ حق لرئ، چې هېر مې کړئ. زه ستاسې ګاونډی محسن يم. سلام زينب.

د زينب په ستوني کې غږ زندی شو، ټول بدن يې بې دمه شو د محسن غږ دومره له سوز او درد څخه ډک و، چې د هغه په اورېدلو د زينب زړه اور

واخیست. د زینب پلار او خسر محسن ته ودرېدل او هغه یې کلک په غېږ کې ونیو او په مخ یې ښکل کړم حسن د زینب د پلار تر څنګ کېناست. د زینب مور له روغبړ وروسته ورته وویل: محسنه! ته څومره لوی شوی یې، د زینب پلار چې محسن ته د چایو پیاله ډکوله وویل: ډېر ښه راغلې زویه څه وخت راغلې؟ چې مونږ دې هم نه یو خبر کړي. محسن خپلې سترګې د زینب په الوتې څېرې کې ګنډلې وې او یوه شېبه یې هم له سترګو څخه نه غورځوله. ویې ویل: دوه ورځې کېږي. چې راغلې یم له یوې نړۍ هیلو او مېدونو سره.

هغو ورته وویل: هیله ده، چې د خپلو هیلو په ترلاسه کولو کې تل بریالی اوسې. محسن. چې ټول بدن یې لکه د پاڼې داسې رېږدېده او ژبه یې بنده بنده کېده ویې ویل: که رښتیا وواېم راغلی یم د هغې ژمنې په هکله، چې بهر ته د تګ پر مهال مو راته کړې وه ځان پوه کړم. د زینب پلار په ډېرې بې پروایۍ سره وویل: کومه ژمنه زویه؟ د عمر په تېرېدلو سره ټول شیان له چا څخه هېرېږي او خپله حافظه له لاسه ورکوي، زه هم اوس زوړ شوی یم او هرڅه راڅخه هېرېږي ستا ژمنه هم راڅخه هېره ده. چې د څه په اړه وه. محسن خپلې سترګې په زینب کې ګنډلې وې، چې څومره له شرم او حیا نه تکه سره اوښتې وه ویې ویل: هغه ژمنه، چې د زینب په اړه وه تاسې ویلي وو که په بهر هېواد کې لس کاله تېر کړې؛ نو زینب به ستا په نوم وي او اوس خو دادی وروسته له څلورو کلو بېرته خپل هېواد ته راستون شوم او هیله ده، چې په خپله خبره دې ټینګ ولاړ اوسې.

د زینب پلار وویل: (زویه هغه وخت تا د ولسو یا اتلسو کلونو څخه ډېر عمر نه درلود؛ نو ځکه مې درسره ژمنه کړې وه، چې ته خپل ځان وپېژنې او خپل ژوند را جوړ کړې. د رحیم په څېر راته ګران یې. ته تل یو ښه

منونکی، خواریکښ، رښتینی او با ادبه ځوان وې او د دې لپاره، چې ډېر کم ځوانان لکه ستا په څېر پیدا کېږي؛ نو ډېر راته ګران وې او اوس هم یې او زه به په دې اوس هم وویاړم، چې ته زما زوی شې؛ خو ګوره زویه زما زوی رحیم له مریم سره ډېره مینه لري او کله، چې مونږ د هغې غوښتلو ته ورغلو هغوی راته په ځواب کې وویل: که چېرې تاسې زینب زمونږ زوی عباسقلي ته په بدل راکړی نو مونږ به هم مریم تاسې ته درکړو او که نه یې راکوئ په هېڅ ډول سره به خپله لور درنه کړو. مونږ مجبوره وو؛ ځکه چې رحیم پرته له مریم څخه یوه شېبه هم ژوند نه شي تېرولی. اوس مونږ خبره خلاسه کړې او وخت له وخته تېر دی او په دې نږدې راتلونکي کې د زینب او عباسقلي واده جوړېدونکی دی. ته په دې کلي کې که په هر چاباندې لاس کېږدې زه به خپله په مرکه ورشم او درته به یې وغواړم ښه په شان او شوکت سره په درته واده وکړم او هر څه مې، چې تر وس پوره وي هغه به تر خپلې وسې وکړم. نور نو ته څه غواړې د نومونږي خبرې په محسن لکه د ټوپک غږ داسې لګېدې یوه شېبه غلې ناست و چوپه چوپتیا خپره شوه محسن په نیولي غږ دغه چوپتیا ماته کړه په ډېرې خوارۍ سره یې په رېږدیدلي غږ وویل: یانې تاسې خپله ژمنه ماتوئ او په خبره مو نه ودرېږئ؛ خو زه له زینب سره ډېره زیاته مینه لرم تاسې پوهېږئ، چې دغه څلور کاله په څه ډول ما تېر کړل د زینب په بېلتون کې څومره سوځېدم او هسې هم د کلي ټول خلک مونږ ته د کوژدې په سترګه ګوري ما له زینب سره د واد کولو په هیله خپله ټوله کورنۍ، کلی، هېواد او خپلوان هر څه پرېښودل په پردي هېواد کې مې شپه او ورځ په ځان یوه کړه زحمت مې وګاله خواري مې وکړه؛ ترڅو څه شته پیدا کړم او له زینب سره له خوښیو ډک ګډ ژوند پیل کړم خو تاسې زما دغه د انتظار مانۍ مخکې له ودانولو څخه راړنګه کړه او ټولې هیلې

مو له خاورو سره خاورې کړې ایا زینب له دې واده څخه راضي ده او که نه ده او یا هغه هم لکه زما په څېر ستاسې د ځانغوښتنو قرباني کېږي.

مخ یې زینب ته واړوه او ویې ویل: زینب هیله کوم زما د خبرې ځواب پر ته له ډار او شرم څخه راکړه دا زموږ د ټول ژوند خبره ده دومره یې بابېزه مه ګڼه رښتیا ووایه ته له عباسقلي سره واده کولو ته راضي یې؟

زینب له یوې خوا له خپل پلار څخه ډارېدله او له بله پلوه شرمېده هم او د خبرو کولو ځواک یې له لاسه ورکړی و بلاخره په ورو یې وویل: نه محسنه په خدای ج قسم، چې زه له عباسقلي څخه کرکه لرم یوازې الله ج پوهېږي، چې دا درې ورځې ما څومره کړاونه تېر کړل؛ خو هېڅوک هم زما خبرو ته ارزښت نه ورکوي او نه یې هم اوري.

د محسن زړه د زینب په خبرو، ملاتړ او جرئت نور هم غښتلی شو د عباسقلي پلار مشهدي کاظم ته یې په ډېر جرئت سره وویل: ته پکې څه وایې آیا ته دا منې، چې یوه داسې اینګور زوی ته واده کړې، چې د مینې پر ځای دې له ټولو څخه کرکه ولري ایا هلته، چې د مینې پر ځای کرکه وي؛ نو څه ډول به ژوند تېرېږي او دا خو د یوې یا دوه ورځو خبره هم نه ده، څه به کوئ او څه ډول به عمر تېروئ.

د زینب پلار له ډېرې غوسې نه لکه پانه رپېده او رګونه یې لکه د تېرې چړې داسې راوتلي وو د محسن په خبرو کې یې را ودانګل په زینب یې حمله وکړه او چیغې یې کړې غلې شه بې حیا نجلۍ، چوپ شه او له دې سره سم یې د سوکانو او لغتو لاندې ونیوله خو زینب، چې د محسن په موجودیت یې ځواک اخیستی و دا هرڅه ورته هېڅ هم نه ښکارېدل د ځان او د محسن له مینې څخه یې ملاتړ کاوه او هغه سوکان او لغتې، چې د زینب د پلار له لورې په زینب ورېدې یو ناڅاپه د محسن د قوي او غښتلي لاسونو لاندې ونیول شول، محسن وویل: هیله کوم تر څو، چې

زه دلته یم هرڅو مره دې، چې زړه وي ما ووهه؛ خو زینب ته زما په شتون کې هېڅ مه وایه داسې نه، چې زما لاس په تاسې پورته شي. د زینب پلار، چې له ډېرې غوسې نه لکه پاڼه داسې رېږېده وویل: په هر حال د جمعې په ورځ د زینب واده دی او هېڅوک د دې واده مخه نه شي نیولی د هر چا دې لاس ازاد وي او دا هرڅه، چې ته وینې دا د زینب جهزونه دي او هېڅوک هم څه نه شي کولی دا نوره د عباسقلي امانت دی او اوس زموږ په کور کې د څو ورځو مېلمنه ده. نور نو په غوسې په خپل ځای کېناست او د کباب په خوړلو یې پیل وکړ. محسن مخ مشهدي ته واړوه او په زاریو یې ورته پیل وکړ ویې ویل: ګوره کاکا جانه! ته خو ښه پوه، د کلي مشر او هوښیار سړی یې. د زینب پر مخ دغه شینوالی او پرهارونه وګوره! تر اوسه تاد هغې په اړه پوښتنه کړې، چې دا ولې او لامل یې څه دی؟

هغه په ډېرې بې پروایۍ ولې پورته وغورځول او د محسن سترګو ته، چې سرنه تر پښو تړې کینه او غوسه ورېده ځیر شو. محسن په چیغو او غوسې وویل: دا د دې لپاره دي، چې دې وویل: زه له عباسقلي څخه کرکه لرم او نه غواړم، چې له هغه سره واده وکړم.

مشهدي په ډېرې بې باکۍ وویل: زه په دې ښه پوهېږم، چې زینب نه غواړي له عباسقلي سره واده وکړي او هېڅ کله به هم له هغه سره واده ته غاړه کېږدي؛ خو کله چې سره ګډ ژوند پیل کړي او د یوه چت لاندې ژوند تېر کړي بیا به سره روږدي شي او وروسته له واده څخه به یو له بل سره ډېره مینه پیدا کړي.

محسن چغې کړې! عادت به وکړي، وروسته به یو له بل سره مینه وکړي؟ د محسن چیغو او نارو ټوله فضا نیولې وه. له ډېرې غوسې نه په ځان نه پوهېده سر نه تر پښو لکه پاڼه داسې رېږدېده، د زینب په مینه

کې داسې لېونې شوی و، چې د هغې د تر لاسه کولو لپاره یې هرڅه کول ان له خپل سر نه هم ورته تېر و. زینب هم لکه د بې سا کالبوت داسې ولاړه او د ګونګیانو په څېر یې هر څه په پټه خوله اورېدل. د زینب مور، چې تر دې شېبې غلې ناسته وه ویې ویل: ګوره زویه دا هر څه اوس هېڅ کومه ګټه نه لري ټوله خبره خلاسه ده د واده لپاره هر څه چمتو شوي او ټول خلک هم خبر دي چې د جمعې په ورځ واده دی تا ډېر ځنډ وکړ اوس ډېر ناوخته دی، له تا سره هېڅ کومه مرسته نه شو کولی. د زینب پلار له هغوی سره ژمنه کړې او په هېڅ وجه له خپلې ژمنې څخه نه په شا کېږي او ګوره تا لپاره هم نجونې ډېرې دي ځکه شته، ښکلا او هوښیارې هرڅه لري. ځولۍ درته غوړومه، چې زموږ له لور څخه لاس واخله نوره یې له زړه څخه وباسه.

محسن په یوه داسې ځنګل کې رابښکېل شوی و، چې پرته له زینب څخه بل هېڅوک د هغه په ژبه نه پوهېدل او نه یې هم د هغه خبرې اورېدلې. مخ یې زینب ته واړوه او ویې ویل: زینب هیله کوم ته دومره زر غاړه مه ږده مقاومت وکړه زموږ مینه ریښتینې مینه ده او دا ځواک را کوي، چې هر ډول ستونزې وګالو خپل همت له لاسه مه ورکوه د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې یو له بل څخه ملاتړ کوو او پرې به نږدو، چې دوی دې موږ سره بېل کړي. درد او غم یې په ټول بدن لکه د سرطان داسې ریښې ځغلولې او هغه یې ډېر ځوراوه په غوسې له کوره وته، چې په دروازه کې له رحیم سره مخ شو رحیم د هغه لاسونه په خپلو لاسو کې ټینګ ونیول یوه شېبه یې سترګو ته ښه ځیر شو او وروسته یې ټینګ په غېږ کې و نیو ښکل یې کړ او ویې ویل: اوه ته کله راغلی یې او موږ خو لا خبر هم نه وو؟ دا به زموږ د پخوانۍ انډیوالۍ برکت و، چې الله ج ته زما واده ته راوغوښتې ښه وشو، چې راغلې زما په واده کې خو به ضرور ګډون کوې.

د رحیم له دومره خوښۍ او خوشحالۍ سره محسن ډېر خپه و او د نوموړي خبرو او خوښیو وریاندې هېڅ اغېزه ونه کړه، د زینب د بېلتون غم ورڅخه سم لېونې جوړ کړی و کله، چې د رحیم ورته پام شو ویې پوښت: ما ته ښه نه ښکارې ضرور کومه ستونزه شته، چې ته یې دومره اند ېښمن کړی یې راځه دننه ځو، یوه پیاله چای وڅښه او هم به دې لږ څه اعصاب ارام شي که زما له وسې پوره وي؛ نو ضرور درسره مرسته کوم او یا خو هم وروسته له څلورو کلونو دې مور ولیدو زموږ په لیدو خوشحاله نه شوې. محسن ترخه مسکاه وکړه او ویې ویل: نه داسې کومه خبره نه ده.

رحیم وویل: چې داسې خبره نه ده ضرور به یوه پیاله چای څښې او هم به د دې څلورو کلونو کیسې راته کوې، چې لرې له هېواده دریاندې څه ډول تېر شول کله، چې دوی کورته ننوتل د زینب پلار لا هماغسې ورته په غوسې و په غوسې او چیغو یې وویل: دا بې حیا او بې شرمه وګورئ له کله راهیسې راته داسې لیلا او مجنون شوي دي، چې زموږ له پرېکړې څخه سرغړونه کوي او غواړي په خپله خوښه راته واده وکړي. دا لا همداسې غورېده، چې رحیم او محسن را ننوتل. رحیم وروسته له سلام ویلو وویل: پلاره ولې څه خبره ده چا ته داسې په غوسې یې؟ پلار یې په چیغو وویل: زویه ستا دغې بې حیا او سپین سترګې خوراو دغې ځوان ته، چې داسې په ځنګ کې دې نېغ ولاړ دی او تا لا وریاندې داسې لاس هم اچولی. رحیم مخ محسن ته واړوه او ویې ویل: محسنه پلار مې تا یادوي، دا هرڅه ستا په اړه وایې. محسن دواړه لاسونه سرته پورل زور یې ورکړ او ویې ویل: هو رحیمه ستا پلار ما یادوي دا ټوله غوسه یې په ماده، خو رښتیا خبره داده، چې ټول کلی او ته به هم په دې ښه خبر یې، چې زه او زینب له وړکتوبه رانیولې تر اوسه موږ دواړه له یو بل سره مینه لرو، ستا پلار له ما سره داژمنه کړې وه، چې کله زه بېرته راستون شوم؛

نو د زینب کوژده به له ماسره کوي خو اوس په خپلې کړې ژمنې نه دې ولاړ او دغې بېځایه غرور وریاندې داسې سترګې پټې کړې، چې د زوی د خوښیو لپاره د خپلې لور ژوند بربادوي. زه څومره په هیله راستون شوم؛ خو پلار دې په ډېرې سادګۍ سره وایې، چې اوس خبره له خبرې تېره ده او زینب مې د بل چا په نوم کړې ښه اوس ته ووایه دا هرڅه سم په مخ ځي او پلار همداسې وي.

د رحیم په سترګو د مریم مینې داسې پردې غوړولې وې، چې د هغوی په پخوانۍ مینې یې سترګې وتړلې سره له دې، چې په هرڅه ښه پوهېده؛ خو ځان یې داسې ناګاره واچاوه، چې ګوندې د هغوی له مینې څخه، چې هېڅ خبر نه وي ویې ویل: اوس خو کار له کاره تېر دی نن د سه شنبه ورځ ده او د جمعې په ورځ د زینب واده دې ټول خلک خبر دي اوس هېڅ لار نه لرو او ته هم د دوی په ژوند کې مداخله مه کوه زینب هم له دې اړیکې څخه ښه خوشحاله ده. زینب په ژړا د رحیم خوا ته رانږدې شوه او ویې ویل: رحیمه ته څنګه وایې، چې زه خوشحاله یم ایا تردې دمه تا له ما څخه پوښتنه کړې، چې زه غواړم له عباسقلي سره واده وکړم هغه زما خوښېږي او که مې نه خوښېږي. په دې کور کې چا له ما څخه پوښتنه کړې او که نه همدا، چې ته او مریم یوله بل سره مینه لرئ او یوبل ته ورسېږئ همدا تا ته د منلو وړ ده او بس که زه خوشحاله وم او که خپه خو، چې تاسې له یو بل سره واده وکړئ یوازې تاسې د ژوند کولو حق لرئ. ته دې ته غاړه ږدې، چې د خپلو غوښتنو د ترسره کولو په موخه مور قرباني کړې. اخر ولې زه خو ستا خور یم کومه پردئ خو نه یم، ولې ماسره دومره ناوړه چلند کوئ. ولې مو له ما څخه پوښتنه ونه کړه، که ته د مریم په بدل لاړه شې، راضي یې او که نه؟ ولې؟ رحیمه ولې دومره ظلم؟ ته له ځان څخه پرته د بل چا په اړه ولې فکرنه کوې؟ ولې د خلپو

خوښيو لپاره د بل خوښي د خاورو لاندې کوې؟ زه له عباسقلي څخه کرکه لرم، هغه مې هيڅ نه خوښېږي کله، چې هغه وينم نو زړه ډېر ناارامه کېږي، ايا ته په دې نه پوهېدې، که نه پوهېدې نو ولې دې له ما څخه پوښتنه نه کوله؟ تا زه د خپلو غوښتنو قرباني کړم د خپلې ميني او مريم قرباني کړم دا چې زه ستا همدا يوازينۍ خور يم نو په کوم حق ته ما ته خور وايې.

خپلې اوښکې يې پاکې کړې په ډېر جرئت سره محسن ته مخامخ ودرېده او ويې ويل: محسنه که ته په رښتيا له ما سره مينه لرې؛ نو هيله کوم زما په خاطر يې نور بس کړه هسې هم څوک زموږ خبرو ته ارزښت نه ورکوي او زه ستا دومره بې عزتي نه شم زغملی، چې ته دې هم ما لپاره دومره بې عزته شې. زه که هرچېرته او له هرچا سره اوسم يوائې به له تاسره مينه لرم او بس دا زما د خولې نه؛ بلکې زما د زړه غږ هم دي او زړه مې وايي چې تل به له تاسره مينه کوم د وينې هر څاڅکي مې له تا سره مينه کوي زړه مې په هره درزا کې يوائې ستا نوم اخلي؛ خو څه وکړم همدا به يې زما په برخه کې ليکلي وو. بله هيڅ لار نه لرو پرته له قربانۍ څخه. د دې خبرې په اورېدلو محسن راوګرځېد. زينب لکه د بې روحه کالبوت هر څه يې له لاسه ورکړي خو يوائې اوښکې يې وې، چې زينب ورسره خپل غم شريکاوه، محسن ور وکتل او ويې ويل: زينب زه پرته له تا او وروسته له تا د نړۍ خوښي نه غواړم او دا يوائې ستا د ژوند نه زما د ژوند بربادول هم دي په دې وپوهېږه، چې موږ به تل يو د بل په زړونو کې اوسو او رحيمه ته هم وپوهېږه، چې تا د خپلې دوه ورځينۍ ميني لپاره زموږ ځواني او پخوانۍ مينه له ځان او مريم څخه قرباني کړه.

له زينب سره يې مخه ښه وکړه او د دروازې پر لور روان شو. د هغه په تللو سره زينب خپلې هيلې او ژوند د بربادولو په حالت کې وليد.

کړيکو او ژړا يې د انګړ ټوله فضا نيولې وه د کوټې پر لور يې منډه واخيستله دروازه يې ځان پسې وتړله خپل سر يې په دېوال وهه د ودرېدلو ځواک يې له لاسه ورکړی و، له ځان سره يې وويل: (ای خدايه دا څه ډول شوم برخه ليک دې زما لپاره ټاکلی و) اوښکې يې لکه د سېلاب داسې پر مخ روانې وې هېڅ د هغې او محسن خبرې نه اورېدې او نه يې هم ارزښت ورکاوه ژوند هم د زينب لپاره خپله مرموزه او ترخه څېره ښودلې وه، چې څه ډول په مخ څپېړې ورکوي. له ځايه پورته شوه او له ځانه سره يې وويل: ر(ای پاکه خدايه! ته ماته صبر او طاقت راکړه زه څنګه کولی شم، چې په يوازې توګه له دې بدمرغيو او ستونزو څخه ځان وژغورم ته ماته د خلاصون لار وښايه) يوناڅاپه يې سترګې په هغې ښکلې ناوکۍ، چې د دې او د محسن د ماشومتوب د ميني نښه وه ولګېدې. له الماری څخه يې راواخيستله او کلکه يې په غېږ کې ونيوله شنې سترګې او طلايي وېښتان يې ورته ښکل کړل. د هغې سترګو ته يې، چې وکتل نو په رښتيا هم د محسن سترګو ته ورته وې يوه شيبه يې همداسې د هغې سترګو ته کتل او بيا به يې ښکل کړې له ځان سره يې وويل: ر(ته خوزما نږدې ملګرې او ښه خواخوږې يې په دغو څلورو کلونو کې. چې محسن دلته نه و يوازې همدا ته وې. چې له ما سره دې غمشريکي کوله زما ټولې خبرې به دې په پټه خوله اورېدې زما ټول صبر، ځواک او حوصله په تا کې وه ما به له تا څخه قوت اخيسته. هيله کوم اوس مې په دې حال وژاړه، اوښکې تويې کړه، چې ټولې هيلې مې تباه شوې ما او تا د محسن راتلو ته څلور کاله انتظار وايسته هغه ته سترګې په لار وو يوه شيبه مو له ياده نه ايسته؛ خو اوس چې راغلی دی زموږ د شپې او د ورځې خواږه يوازې همدا اوښکې شوې). لکه د لېونو کلکه يې په غېږ کې نيولې وه او خبرې يې ورسره کولې خپل غمونه يې

ورسره شریکول ځان ته یې رانږدې کړه ښه په مخ او سر یې ښکل کړه او ویې ویل: (ته د محسن د لاس یوائینۍ نښه یې د محسن په ځای ته له ما سره اوسه یوائې مې مه پرېږده) دې لا له خپلې ناوکۍ سره خپل غمونه شریکول، چې کوټې ته رحیم رانوت په ځنګ کې یې کېناست زینب یې په خپله غېږ کې ونیوله وېښتان یې ورته ټول کړل په مخ یې ښکل کړه او ویې وویل: دا خو مینه نه ده، ته ولې ژاړې وه لېونۍ؟ دا د خوښۍ ورځې دي نه د اوښکو تویولو ته بویه، چې خوشحاله اوسې یو دې خپل واده دی او بل دې د ورور؛ یانې دوه غبرګې خوشحالۍ په یو وار سره راغلې.

زینب په نیولي غږ وویل: رحیمه ته خو زما ورور یې او ډېره مینه درسره لرم او دامې یوائینۍ هیله وه، چې ستا واده ښه په شان او شوکت وکړو له کله راهیسې زه د دې ورځې د لیدلو په هیله وم؛ خو په دې نه پوهېدم، چې ته به ما د خپل زړه قرباني کړې د خندا پرځای به ژړا را په برخه شي. زه چې ستا یوائینۍ خور وم داسې دې فنا کړم ته او مریم به ښه خوشحاله ژوند پیل کړئ؛ خو زه مو بد مرغه کړم.

د رحیم په زړه د زینب خبرو لکه د چړو ګوزار داسې اغېزه کوله سر یې ټیټ نیولې و هیڅ ځواب یې نه درلود اوښکې یې له سترګو لکه د سېلاب داسې بهېدلې یو ناڅاپه د مریم ښکلې څېره یې د ستر ګو پر وړاندې ودرېده له خپله خوریې په غېږ کې ونیوله او ویې ویل: زینب که مریم رانه کړې نو زه هم ژوند نه شم کولی. ایا ستا زړه یې مني، چې د ورور د ډولۍ پرځای دې د هغه جنازه ووینې د پالنګ پرځای یې تورې خاورې ځای شي څه وکړم یوې خواته ستا ژوند دی او بلې خواته زما او په دې دوارړو کې بویه یو قرباني ورکړو که ته زما له ژونده تېرېږې؛ نو زه هم له خپلې میني څخه تېرېږم؛ خو ګوره داسې فکر هم ونه کړې، چې

په دې ټولو کې زه لاس لرم؛ څکه ما ډېره هڅه وکړه، چې هغوی ستا له غوښتلو تېر شو؛ خو نه يې منله.
عباسقلي ويل: زه يوائې له زينب سره مينه کوم او په هر ډول، چې وي زه له هغې سره واده کوم او که نه نو موږ په هيڅ ډول مريم نه درکوو؛ نور نو اوښکو د خبرو وار ور نه کړ او سترګې يې سرې شوې، لږه شېبه وروسته يې بيا وويل: زينب زه د مريم مينې لېوني کړی يم زما ژوند او مرګ هغې پورې تړلی دی زه يې نابود کړی يم، له تا سره تر ځان هم ډېره مينه لرم؛ خو څه وکړم د مريم مينه مې د بدن هر بند او وينې هر څاڅکې ځان ته غواړي. زه د هغې په مينه کې داسې لېونی شوی يم، چې خپل ځان را څخه هېر شوی ټول ژوند مې مريم دی. پرته له هغې زه تاسره هيڅ مرسته نه شم کولی هيله ده، چې ما وبښې. که څه هم زما زړه نه غوښتل، چې داسې کوم کار وشي خو څه وکړم ډېره بده مجبوري ده. که ته يې نه شې منلې نو زه به خپل ځان ووژنم، چې ته خوشحاله ژوند ولرې او زما له امله ته بد مرغه نه شې.
زينب، چې له رحيم سره بې کچې مينه لرله خپلې اوښکې يې پاکې کړې په ډېر مقاومت سره د رحيم پر وړاندې ودرېدله او ويې ويل: رحيمه زه نه غواړم د خپل ورور ژوند د خپلو خوښيو لاس ته راوړلو په موخه ور څخه واخلم او نه هم دومره ځان غوښتونکې يم، چې ستا اوښکې دې بابېزه وګڼم د ځان لپاره تا قرباني کړم. ښايې زما په برخه يې همدا ليکلي وي همدا تريخ برخليک به مې په برخه و. زه خپل ژوند د بربادولو په حالت کې ليدلی شم؛ خو ستا په مخ اوښکې نه شم زغملی ځان بدمرغه کولای شم؛ خو تا نه شم بدمرغه کولی زه د ترخه تقدير کې ښکېله يم له ځايه پورته شوه رحيم يې په مخ ښکل کړ او ويې ويل: .هيله ده، چې زما پر وړاندې نورې داسې د ناهيلۍ خبرې ونه کړې او نه دې هم اوښکې په

سترګو کې و وینم همدا به دې اخر ځل وي نورې اوښکې ونه بهوې زما ژوند ستا د خوښیو پر وړاندې هیڅ هم نه دی او نه کوم ارزښت لري. په دې هیله، چې په ګانده (راتلونکی) کې ښه او له خوښیو ډک ژوند ولرې؛ او زما یوائیني هیله هم همدا ستا خوښي ده.

رحیم له ځایه پورته شو اوښکې یې پاکې کړې زینب یې له لاسه ونیوله او په خندا دواړه د مور او پلار خوا ته ورغلل.

مشهدي کاظم هم په دې شیبه له کوره د وتلو په حال کې و؛ خو کله یې چې په زینب او رحیم سترګې ولګېدې هک پک ودرېد. محسن ورته وویل: کاکا جانه زینب واده ته غاړه کېښوده. کاظم ته هم له ډېرې خوښۍ ځمکې ځای نه ورکاوه را وړاندې شو زینب یې په غېږ کې ونیوله او په سر یې ښکل کړه په خوښۍ له کوره ووت. د زینب مور او پلار هم له دې پرېکړې څخه ډېر خوشحاله وو. رحیم به بېوا که زینب په مخ او سر ښکلوله په سترګوکې یې خوښي له ورایه ځلېده ټول ځایونه ورته زرغون او ګلزاره ایسېدل خپل ځان او مریم یې په شنه ګلبڼ کې لیده چې لاس په لاس د میني او محبت په نړۍ کې ګرځي؛ خو زینب ته دې هرڅه بله بڼه لرله یوه داسې بڼه، چې د ژوند ونه یې د خزان څپو وهلې وه ټولې پاڼې یې ژېړې او د رژېدلو په اکر (حالت) کې لیدلې کله به یې محسن ولید، چې ده ته په کرکه ګوري او مخ ورڅخه اړوي، خو زینب دا هرڅه نه شول زغملی کله به یې، چې محسن ته وکتل نو زړه به یې غوښتل هرڅو مره، چې ژر شوني وي له دغې کرکجنې نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړي او د ځمکې غېږ ته پنا یوسي؛ ځکه دې نه غوښتل، چې محسن دې ورته بېوفا ووایي. محسن یې د ژوند ټوله شتمني وه ټول وجود یې و د هغه لپاره یې ژوند تېراوه او تردې دمه یې د هغه په هیله ژوند تېر کړی و؛ خو چې اوس یې دا هیله د ډوبېدو په حالت کې لیده؛ نو

نه یې غوښتل، چې ژوند وکړي. د محسن مینه یې د وینو په هر څاڅکي کې د بدن په ټولو رګونو کې جاري وه. هیڅ باور یې نه کاوه، چې پرته له محسن څخه دې بل څوک د دې ژوند ته راشي او نه یې هم د بل چا په اړه فکر کړی و. زینب له محسن پرته یوه شېبه هم ژوندۍ نه شوه پاتې کېدلی.

زینب ته به چې کله تېر یادونه ور په زړه شول، ژر به یې سترګې وتړلې او چې څنګه به یې سترګې سره ورغلې؛ نو محسن به یې ولید، چې له سترګو څخه یې اوښکې بهېږي له دې څخه مخ اړوي ځان ورنه لرې کوي.

غوښتل یې چیغې کړي او ټولې نړۍ ته ووایې: څومره له عباسقلي څخه کرکه لري. کله به یې رحیم ولید، چې په ډېره هیله یې سترګې دې ته نیولي دي او د خپل ژوند خیرات ورڅخه غواړي زینب نه پوهېده څه وکړي، یوې خوا ته یې خپل ژوند او بلې خوا ته یې په ورور زړه خوږېده ویې ویل: زه د رحیم د غوښتنو قرباني شوم. بیا به یې د لېونیو په څېر له ځان سره وویل: نه_ نه همدا ښه ده، چې زه قرباني شم د رحیم ژوند بربادولو په حالت کې نه شم لیدلی او له ځان سره به یې وویل: لکه څنګه، چې زه نه شم کولی د محس بېلتون وزغمم همداسې رحیم هم دا هر څه نه شي زغملی او نه هم مریم له زړه څخه ویستلی شي، کله به، چې زینب د رحیم د خوښیو په اړه فکر وکړ؛ نو خپل غم به ور څخه یو څه هېر شو ځان به یې ارام احساساوه او دا دعا به یې تل کوله، چې عباسقلي دې په لیلا مین شي او دا دې له زړه څخه وباسي. هغه یوه ښکلې او مهربانه نجلۍ وه کله، چې به یې په ټوکو دا پرېکړه وکړه، چې د کوم چا زړه یوسي نو ډېر لږ سړي به وو، چې دده په جال کې دې راښکېل نه شي او دا مسته او ښکلې پېغله دې له زړه څخه وباسي؛ خو اوس وخت له وخته تېر و هیڅ اغېزه یې پرې نه کوله؛ ځکه د عباسقلي په زړه کې د زینب مینې

داسې ريښې غزولې وې، چې هېڅ‌ډا د هغې ځای نه شو نيولی د زينب مينې يې په زړه داسې اور بل کړی و، چې ټول بدن يې ورته سېزه. که څه هم هغه ورځ د ليلا کتو ورياندې اغېزه کړې وه؛ خو بېرته به، چې د زينب تورې سترګې، ښکلې دنګه ونه او تورې زلفې ورپه ياد شوې نو لېونی به شو. که څه هم نور يې واده ته دومره وخت پاتې نه و او ټول خلک پرې خبر وو، چې په دې نږدې ګانده کې د دوی واده دی.
زينب په خپلو فکرونو اوخيالونو کې ډوبه وه د مور د کوټې خوا ته لاس تر زنې ناسته وه او د خپلې تيارې راتلونکې په اړه يې فکر کاوه. له خپل ځان او ضمير سره په جنګ وه. د محسن په اړه به يې فکر کوه. د محسن هغه کړاونه او ستونزې ورپه زړه شوې، چې دغه څلور کاله يې په پردي هېواد کې ګاللې وې؛ خو دې پرته د هغه له خوښې په يواځې تو ګه د خپل ژوند پرېکړه وکړه. هغه شپه ور په زړه شوه کله، چې محسن په سفر تللو د دې مور و پلار هغه ته مېلمستيا کړې وه. کله به، چې د محسن په سترګو يې سترګې ولګېدې نو له اوښکو به ډکې وې او پټ پټ به يې ژړل دې ورڅخه پوښتنه وکړه: محسنه ولې ژاړې څه دریاندې شوي زه ستا په سترګو کې اوښکې نه شم ليدلی کله. چې ته خپه يې هېڅ خوند نه راکوي د محسن له سترګو همداسې اوښکې بهېدلې ترخه مسکا يې وکړه او ويې ويل: زينب ته لا تراوسه ډېره وړه يې دولس کلنه لا هم نه يې. ته نه پوهېږې، زه ستا د بېلتون اور نه شم زغملی. دغه تيارې شپې به ما په دې هيله سبا کولې، چې سهار دواړه لاس په لاس د کلي په کوڅو کې، چې د نارنج د ګلانو خوږې وږمې يې ښلانوره هم زياتوي وګرځو، ستا د پښو ښکالو، چې د موسيقۍ په څېر روح تازه کوي واورم او ښکلې غږ دې، لکه د خوږې نغمې په زړه اغېزه کوي له ځان سره په يادګار يوسم؛ نو دا هرڅه زه څنګه پرېښودلې شم هلته به

پرته ستا له ياد څخه بل هېڅ راسره نه وي. زينب ته لا په خبرو نه پوهېږې، چې زه څه وايم او نه ور باندې باور کولی شې. ولې دومره کولی شې، چې له ما سره ژمنه وکړې، چې کله زه بېرته راستنېږم ته به ما او زما مينې ته همداسې وفاداره اوسې، پرته له ما به د بل چا په اړه فکر نه کوې او نه به هم په زړه کې ځای ورکوې. زينب هک پک کتل نه پوهېده، چې دا څه وايي د محسن د خبرو تل ته لا نه وه رسېدلې او نه يې هم درک کولې شوې. له محسن نه يې وپوښتل: محسنه! نو زه څه وکړم، ستا په دې خبرو مې سر نه خلاصېږي؟

محسن وويل: زينب زه له تاسره ډېره مينه لرم د دې لپاره، چې ښه په شان او شوکت سره واده وکړو څه ډول، چې تاسره ښايي. له هېواده بهر ځم او ښه ډېرشته پيدا کوم تر څو راتلونکي کې ښه نېکمرغه ژوند ولرو. اوس ته راته دومره ووايه، چې ته هم له ما سره مينه لرې او تر څو چې نه يم راغلی راته به وفاداره يې که څه هم زه ستا له سترګو ښه پوهېږم، چې ته هم له ما سره مينه کوې. زما او ستا مينه مخکې له پيدايښت څخه زموږ په وينه کې ګډه وه، ځکه له کومه راهيسې، چې موږ له يو بل سره ليدلې مينه مو وه او لرو يې خو زه غواړم لکه څنګه، چې سترګې دې وايي همداډول دې ژبه ووايي، چې مينه درسره لرم؛ نو هغه وخت زه کولی شم هر څومره ستونزې او کړاوونه، چې وي ويې زغمم او په ارامه به د بېلتون شپې او ورځې ستا د مينې له خوږو يادونو سره سبا کوم. دا راته ووايه که څو کاله هلته پاتې شم ته به له بل سره واده نه کوې زما په نوم به ناسته يې. د دې خبرو په اورېدلو سره د زينب له سترګو اوښکو ګرېوان لار ونيوله وروکي زړه يې په سينه کې بېواکه ټوپونه وهل نه پوهېده د محسن خبرو ولې دومره اغېزه ورباندې وکړه. لاسونه يې د محسن په زړه کېښودل او سوګند يې ياد کړ که هر څو کاله تېر کړې ستا په نوم به

ناسته یم او له بل سره به واده ته غاړه کېښېږدم که حتا ژوند مې هم له لاسه ځي؛ خو په خپلې ژمنې به ټینګه ولاړه یم هغه شپه یې محسن ته وویل: نه پوهېږم، چې مینه څه ده خو پرته له تا څخه مې بل هېڅوک نه خوښېږي، چې ته زما په څنګ کې نه یې هېڅ ژوند خوند نه راکوي زړه مې ډېر بې کراره وي؛ خو چې ته راسره یې نو زړه به مې په کرار وي خپل ځان راته د نړۍ تر ټولو خلکو نېکمرغه ښکاري. محسن د زینب لاسونه، چې تر اوسه یې لا د ده په زړه ایښي وو په خپلو لاسونو کې ونیول او ښکل یې کړل. هغه شپه د دوو میناو د بېلتون شپه وه، هو! د هجران د پېیل شپه. د خوښیو د پای او د غمو د پیل شپه وه. که څه هم زینب هغه شپه په پاسته پالنګ پرته وه خو د محسن له تګ سره یې خوښیو هم د زړه له کوره کډه کړې وه، له ستورو سره یې خبرې کولې خپل د زړه راز یې ور سره شریک کاوه. نومورې له سبا ورځې څخه وېرېدله، هغې ورځې څخه، چې پرته له محسن څخه پیلېدله. پرته له محسن د کلي له کوڅو یې هم کرکه کوله هر څه ورته بې رنګه ښارېدل زړه یې نا اتکل شوې اندېښنې زوراوه. پرته له محسن د کلي له ماشومانو اوهم یې له کلي څخه کرکه کوله، پرته له هغه ټوله نړۍ ورته توره تیاره، بېروحه او د نه زغملو وړ ښارېدله. په دې اند وه پرته له محسن به څه ډول ښکلي پېتنکانو پسې منډې وهي څه ډول به یې رانیسي د کلي په خاورینو کوڅو کې به یوازې څه وکړي، څنګه به یوازې سیند غاړې ته لاړه شي په چا به اوبه وشیندي، چا لپاره د سیند د غاړې د ښکلي ګلانو ګېډۍ سازې کړي، هغه شپه د زینب د سترګو سیند په څپو راغلی و د غم اوښکې یې تویولې. د سترګو هسک یې په شېبو شېبو ورېده. هغه شپه پرته له روح د ژوند کولو شپه وه. د دوه وړو میناو د مینې په نړۍ کې د خوښیو وروستۍ شپه وه. زینب په ناتوانه او وړو کتو سره د

هسک له هر یوه ستوري څخه مرسته غوښته، له هغه څخه یې غوښتنه کوله، چې محسن دې له تګ څخه پښېمانه کړي له شپې څخه یې هیله کوله د تل لپاره دې خپله توره لمنه نه ټولوي.
زینب له دې اوږدو یادونو څخه رابهر شوه، په دوه جالونو کې نښتې وه یو خوا رحیم ورور یې، چې ډېره زیاته مینه یې ورسره لرله یوه شېبه یې د هغه خپګان او په سترګو کې اوښکې نه شولې زغملی او بل لورې ته یې خپله مینه، خپل ژوند او د ژوند ټوله شتمني محسن و. پرته د اوښکو تویولو ټولې لارې یې پر مخ تړلې وې، نه پوهېدله، چې څه وکړي د چا ژوند وژغوري خپل که د رحیم په همدې سوچ کې وه. چې یو مهربانه او نرم لاس یې په خپل ولي احساس کړ د اوښکو ډکې سترګې یې د هغې په لور واړولې سترګې یې په زهرا؛ یانې د هغې د خلاصون ملایکه، د ټپونو مرحم، د هر راز محرمه او تر ټولو نږدې ملګرې، چې د دې په خوښیو به خوښه او په خپګان به یې خپه وه ولګېدې د هغې په لیدلو لکه ټوله نړۍ یې، چې ورکړي وي ډېره خوشاله شوه بېواکه له ځایه راپورته شوه او د هغې په غېږ کې یې ځان وغورځوه په چیغو یې ژړل زهرا ورسره سم ژړل. د دوی همدردۍ او خواخوږۍ لپاره څو شېبې کور یواځې و. رحیم او مور یې د واده د سودا لپاره ښارته تللي وو او پلار یې هم د کوم کار لپاره دباندې وتلی و، څو ساعته دواړو پرته له دې، چې څه ووایې وژړل. زهرا له ځایه پورته شوه اوښکې یې پاکې کړې او ویې ویل: بس کړه زینب هېڅ کومه ګټه نه لري پرته له دې، چې خپلې سترګې له لاسه ورکړې. راځه سیند غاړې ته اوبو پسې ځو هلته به په دې اړه سره خبرې وکړو ګوندي کومه د خلاصون لار ورته پیدا کړو او لږ پام به دې هم غلط شي.

زینب هم له ځایه پورته شوه مخ او لاسونه یې ومینځل د اوبو منګی یې را واخیست او دواړه له کوره ووتلې، په زړه یې د غمونو ډېرې پرتې وې. خوښۍ او خوشحالۍ یې د زړه له کوره کډه کړې وه. د ژوند پر وړاندې یې یو عجیبه احساس پیدا کړی و نور نو نړۍ او ژوند ورته بې ارزښته ښکارېدل. نه یې غوښتل له محسن سره دې مخ شي له هغه څخه شرمېدله په خلپې ژمنې نه وه ولاړه اند ېښنې یې په زړه وزرې غوړولې وې لکه د بې روحه کالبوت د زهرا په څنګ کې غلې روانه وه د کلي له تنګو او خاورینو کوڅو څخه ورو ورو پناه کېدلې داسې یې انګېرل، چې دا هغه د څو ورځو وړاندې زینب نه ده. هغه زینب، چې په لار به تله مستۍ او خنداګانو به یې کلی او کوڅې په سر اخیستې وې؛ خو اوس هغه مستې، هغه شور او خنداګانو ورڅخه کډه کړې وه. او س هغه زینب نه وه کومه، چې د خوښۍ هیلو یې په سترګو غوټې وهلې او له ورایه څرګندېدلې. د محسن په هیلو او د هغه په نړۍ کې ډوبه وه، له محسن سره د ګډ ژوند هیله. هغې لا داسې سوچ هم نه و کړی، چې داسې یوه ورځ به لا هم راځي، چې دا به په خلپو لاسو د بل د خوښیو په موخه محسن قرباني کوي. ناڅاپه اخرې کوڅه کې له عباسقلي سره مخ شوه.

عباسقلي، چې خپه په اسپ سپور و زینب ته رانږدې شو او ویې ویل: زینب ما ته دې غږ وکړ؟ هو غواړم له تاسره د څه په اړه وغږېږم یا روښانه یې درته ووایم یوه هیله درڅخه لرم که ویې منې. عباسقلي له اسپه راکوز شو زینب ته نږدې راغی، زینب وویل: پرېږده، چې لاسونه دې ښکل کړم هیله کوم له ما څخه لاس واخله ما پرېږده، هسې هم په کلي کې ښکلې نجونې ډېرې دي. زه به هېڅ کله تا خوشحاله نه کړم، نه شم کولی، چې له تاسره ژوند تېر کړم. ایا ته دا زغملی شې، چې جسم مې له تا سره خو روح مې له بل چا سره وي. ته به څه ډول له ما سره ژوند تېر کړې هغه

ښځه، چې د خاوند لپاره يې په زړه کې يوه زره هم مينه نه وي هغه به څه ډول ژوند وي ته پخپله له ځان سره فکر وکړه. ته خو زموږ د ماشومتوب ملګرې يې او ښايي په دې به هم ښه پوهېږې، چې ما او محسن يو له بل سره څومره مينه لرله او اوس يې هم لورو.

خو عباسقلي د زينب په ښکلا او مينه کې داسې ډوب شوی و، چې د زيب يوه خبره يې هم وانه ورېده او نه يې هم هغه درک کولی شوه، چې په کوم اکر (حالت) کې ده. څه وايې او څه غواړي. اوس يې خپل ځان د زينب خاوند ګڼه سرنه ترپښو يې په يوه نظر تېره کړه له ځان سر ومسکېد او ويې ويل: په ټوله نړۍ کې لکه ستا په څېر ښکلې نجلۍ به پيدا نه شي. مينه کول خو په داستانونو کې وي ولې زه په رښتيا له تاسره مينه لرم. زه ستا د مينې لېونی يم. ما لپاره همدا بسيا ده او وروسته يې ورته دغه بيتونه هم ډالۍ کړل:

ستا نظر به خپل نظر کړم
کلی کور به پرې خبر کړم
زه به دومره مينه در کړم
چې دنيا به شي حيرانه

– هيله کوم عباسقلي هم دې خپل ځان او هم ما مه تبا کوه، ترڅو چې زه ژوندۍ يم هېڅکله به درسره مينه ونه کړم که ته هرڅومره مينه راکړې بيا به هم زه وايم:

نه فکر د حرم وای او نه خيال د بُت خانې
بس ژوند او جانان جانان جانان
بس ژوند وای او جانان بس ژوند وای او جانان

خو زه به يوائې له محسن سره مينه کوم هغه زما ژوند دی، هغه زما لومړۍ او وروستۍ مينه ده مينه يو ځل کېږي نه په کراتو کراتو، که ما

دې واده ته غاړه اېښې هغه زما مجبوري ده يوائې د رحيم د خوښيو لپاره ده. ته به داسې ښځه څه کړې، چې روح يې له بل سره وي او نه به هم تا لپاره ښه او وفاداره وي.

د عباسقلي په شونډو ترخه مسکا څرګنده شوه او ويې ويل: زه خو کوم ليونې نه يم، چې ستا په دې څو خبرو وغولېږم او ژر وواېم، چې سمه ده ما خوشې کړې او په خپله خوښه دې واده وکړه. اوس دې پرنا وخته دې ټوله خبره خلاصه ده او په دې دوه راتلونکو ورځو کې به زما ښکلې ناوې جوړېږې. کله، چې زينب وپوهېده زړه يې لکه د کاڼي دی هېڅ کومه اغېزه ورباندې نه کوې. بېرته وګرځېده اوښکې يې په مخ لکه د سېلاب داسې روانې وې داسې يې انګېرل، چې ځمکې ورته خوله خلاصه نيولې اوغواړي، له ستونې يې تېره کړې. له ټولو يې کرکه کوله، يوه بوډۍ، چې د خپل کور مخه يې پاکوله زينب او عباسقلي يې په خبرو وليدل؛ خو نوره په دې ونه پوهېدله، چې د څه په اړه خبرې کوي له ځان سره وغورېده په قهر يې درواز وتړله او له ځان سره لګياوه، څه عجيب وخت او زمانه ده څومره دا خلک بېشرمه شوي دا بې حيا نجلۍ وګوره، چې يودوه درې ورځې نور هم صبر نه شي کولی په سمه لار د خلکو د سترګو پر وړاندې له خپل خاوند سره خبرې کوي. پخوا څه ښه وختونه وو. چې هلک او نجلۍ به يو بل هېڅ نه وليدلي او تر واده به يې نه سره ليدل او نه به يې هم خبرې کولې اوس وګوره پر سمه لار د خلکو پر وړاندې داسې ښه خپلې کيسې کوي. توبه خدايه توبه نالت دې پر شيطان وي.

زينب او زهرا، چې د کلي کوڅې پنا کړې او د سيند غاړې ته ورسېدې زهرا په ټوله لار په دې سوچ کې، چې دا خوارکۍ څومره بېوسه شوې د خپل ژوند د ژغورلو لپاره د هرچا مخې ته ودرېږي او د خپلې مينې

خیرات ورڅخه غواړي؛ خو هېڅوک یې خبرې نه اوري او نه وریاندې زړه سوزوي.
زهرا د د زینب پر حال ډېره ځورېدله؛ خو چاره څه وه هېڅ یې هم نه شول کولی. کله، چې دواړه د سیند غاړې ته ورسېدلې زینب ډېره ستړې وه ځان یې د سیند په غاړه پړ شنو وخو وغورځاوه او کراره پرېوته سترګې یې پټې کړې. د زهرا پر زینب سترګې ولګېدې، چې لږه ارامه ده؛ نو هېڅ غږ یې ورباندې ونه کړ ورو لاړه د هغې او خپل منګی یې ډک کړ. زینب دلته ځان لږ څه ارام احساس کړ؛ ځکه هغه چا چې دا قرباني کړې وه له هغوې څخه لرې وه نه یې سترګې وریاندې لګېدې اونه یې هم د هغوې خبرې اورېدلې.
په دې ځای کې زما او د محسن د هر قدم او هرې خبرې یادونه نغښتې دي، زموږ هره سا او د زړه درزا د ونو له پا ڼو څخه اورېدل کېږي. د محسن تود او زړه را ښکونکی غږ اورم څومره خپه او پرېشانه دې غږ یې دسیند پر غاړه او د ونو په پاڼو او غونډیو کې انګازې کوي، چې ماته چیغې وهي د لیونو په څېر هرې خواته منډې وهي او ما لټوي؛ خو زه د غمې ډبرې شاته پټه ناسته یم د محسن له وېرې او پرېشانې څخه څومره خوند اخلم او څومره مینه او محبت، چې هغه یې له ماسره لري احساسوم او کله به یې، چې پیدا کړم نو دومره به خوشحاله شو، چې خپله ټوله ستوماني به هم ورڅخه هېره شوه او وبه یې ویل: شکر خدایه، داسې ګومان مې کاوه، ګوندې د سیند لېونو څپو د تل لپاره له ماڅخه جدا او خپلې غېږ ته له ځانه سره یوړې؛ خو هېڅکله به هم زما له لېونتوب او شوخۍ څخه نه خپه کېده او نه به یې هم زړه ته نیوله. ای لویه خدایه ج! له ما سره مرسته وکړه له دې ګردابه مې وژغوره. زه څنګه کولی شم پرته له محسن د بل په څنګ کې ژوند تېر کړم. له ځان سره یې په لوړ غږ

خبرې کولې. (محسنه بويه، چې ته ما وبخښې، که زه دې واده ته غاړه ږدم؛ نو يواځې د رحيم لپاره؛ خو زما روح به تل او په هرځای کې له تاسره وي او نه به هم د زړه په کور کې پرته له تا بل چا ته ځای ورکړم يواځې به ته زما د زړه تاج يې)؛ خو يوناڅاپه يې محسن د سترګو پر وړاندې ودرېده، چې په کرکه دې ته ګوري، دا ورته لاسونه نيسي خو هغه ورڅخه ځان لرې کوي. زينب زارې کوي محسنه زه ګرمه نه يم زه يې مجبوره کړم؛ خو محسن يې له سترګو پنا شو. دې چغې وهي محسنه. محسنه. يوناڅاپه يو نرم لاس يې په خپلو تورو اوږدو وېښتانو حس کړ وويې ويل: کراره شه ګرانې زه دلته يم ستا د سترګو پر وړاندې هېڅکله دې يواځې نه پرېږدم او که څه هم دغه ظالمان مو ږ سره بېلوي.

زينب سترګې وغوړولې ګوري محسن يې سرته ناست دی، د شنو سترګو ځلايې اوښکو څوڅنده کړې وه ټول ګرېوان يې په اوښکو لوند خيشت و. کله چې زينب محسن وليد بېواکه کيناسته او ويې ويل: اوه محسنه ته دلته يې؟ زه په خپلو خيالونو او سوچونو کې دومره ډوبه وم، چې ستا په راتلو هېڅ ونه پوهېدم.

محسن وويل: ګرانې کله، چې راغلم ومې ليدل چې سترګې دې پټې کړې او له ځان سره خبرې کوې، ومې نه غوښتل ستا په خيال کې را ودانګم او نارامه دې کړم. همداسې دې د دې ښکلې مجسمې تماشې ته، چې د ځکمې په مخ پرته وه ودرېدم اوهغه خوږې خبرې دې، چې له خولې يې راوتلې ورته غوږ وم. که څه هم زه په دې پوهېدم، چې ته هم له ماسره بې کچې مينه لرې؛ خو هېڅکله مې ستا له خولې داسې نه و اورېدلي. کله چې وپوهېدم ته له ماسره دومره مينه لرې؛ نو اوس چې هرڅومره ستونزې او کړاوونه راباندې راشي زغملی يې شم.

زينب، چې د محسن له خولې څخه دا خبرې واورېدلې په بڼه کې يې بدلون پيدا شو زړه يې غوښتل د محسن غېږ ته ځان وغورځوي او ښه ډېره وژاړي. تر هغې وژاړي ترڅو له سترګو يې د اوښکو په ځاې وينې وبهېږي. خپلې لمدې سترګې يې د محسن په ښکلې او جذابه څېره کې وګنډلې، له ځان سره يې ويل: اى خدايه! څومره ښکلې ځوان، دا ښکلې دنګه ونه، زړه را ښکونکې سترګې، طلايې وېښتان، جګه پزه او وړه خوله. د نړۍ ټوله ښلايې ده ته ورکړې؛ خو د هغه مقابله څېره عباسقلي جړ پړ وېښتان تا به ويل، چې په ټول ژوند کې يې يوځل هم ګومنځ کړي نه دي، پراخه پايڅې او لنډ کميس، تک زيړ غاښونه او اوږده او ببره ږيره. زينب سرټيټ کړ. په زړه يې د غمونو ډېرۍ پرتې وې وويل: محسنه ما و بخښه ما يواځې د رحيم لپاره دې واده ته غاړه کېښوده. د رحيم لپاره زه له خپلو خوښيو څخه تېره شوم. رحيم په مريم زړه بايللى او پرته له هغې ژوند نه شي کولی. هغه ډېر نازولې او حساس دى، هغه په مينه کې ماته نه شي زغملی او نه هم دومره مقاومت لري. په ډېرې زارۍ يې له ما وغوښتل، چې د هغه په بدل لاړه شم: ځکه عباسقلي ماغواړي زه ځنګه کولی شم د ورور له ژونده تېره شم د هغه ژغورلو لپاره بويه زه له خپله ژونده واوړم. ما خو ټول عمر ستا په خيالونو کې تېر کړ تاسره د ګډ ژوند هيله مې لرله.

څنګه پرته له تا ژوند تېرولی شم. په خپله خوښه دا کار نه کوم ډېره مجبوري ده هيله کوم ما وبخښه مانه مه خپه کېږه همدا به يې زموږ په برخه کې ليکلي وو. ټولې لارې مې په مخ تړل شوي دي هېڅوک مې خبرې نه اوري که نه زه خپله عباسقلي ته ورغلم دامې ورته جوته کړه، چې مينه ورسره نه لرم. ښه په ښکاره مې ورته وويل: چې زه له محسن سره مينه لرم. پوهېږې هغه راته په ځواب کې څه وويل؟ هغه وويل:

دومره مینه به درکړم، چې ته خپله مجبوره شې راسره مینه وکړې او محسن هېر کړې.

محسنه ټولې لارې زموږ پر مخ تړل شوې ښکاري، ما ته دا سې برېښې، چې دې ټولو لارو زموږ د قربانولو په موخه لاسونه یو کړي ځانونه یې چمتو کړي.

د زینب خبرو د محسن په زړه اور بل کړی و ویې ویل: زینب داسې خبرې مه کوه زما په زړه کې لومړنۍ او اخرنۍ مینه ستا ده ته هم وایه، چې یوازې له ما سره مینه لرې.

د زینب سترګې د پسرلي موسم په څېر تل لمدې وې، بیا یې ورښت پیل کړ.

زینب هیله کوم مه ژاړه یوازې زما د پوښتنې ځواب را کړه.

زینب وویل: محسنه ته ډېر ناوخته راغلې هېڅ ګټه نه لري اوس یې خرڅه کړې یم. ای کاش، چې یو څو ورځې مخکې راغلی وی. ته ولې له ما څخه پوښتنه کوې له دې سیند څخه، د دې ځای له هرې ونې هر یو بوټي څخه، چې هره ورځ به زما په اوښکو خړوبېدل پوښتنه وکړه د سیند غاړې له الوتونکو څخه پوښتنه وکړه هره ورځ به زما په اوښکو لمبېدلې پوښتنه وکړه، پوښتنه وکړه محسنه کله، چې ته دلته نه وې ما څه حالت درلود څه ډول به مې هره ورځ له دوې سره د زړه خواله کوله ستا د بېلتون غم به مې ورسره شریکاوه، هره ورځ به مې په ساعتونو ساعتونو د ماشومتوب په یادونو اوښکې تویولې هره ورځ به مې ستا لار څارله ګوندې که ته راشې. نور نو له ما څخه هېڅ پوښتنه مه کوه د ویلو توان یې نه لرم او نه هم کوم څه د ویلو لپاره لرم.

د محسن زړه د کلیوالي نجلۍ له سوزه ډکو خبرو او کړاونو، چې بېلتون په وخت کې یې زغملي وو، دې ته یې انځورول اور اخیسته، د دې هر څه

په اوربدلو ډېر شرمېدلې و ان دا. چې سترګې یې هم ورسره نه شوې مخ کولې. له ځان سره یې وویل: (ای خدایه! که یوه اونۍ وړاندې راغلی وای هېڅ خبره نه وه ما د دې هرڅه مخه نیولی شوه. نه پوهېږم څه وکړم څه ووایم؟) سر یې ټیټ ونیوه په نیولي غږ یې وویل: زینب همدومره ووایه، چې مینه درسره لرم. زه به ستا بېلتون دا هر څه په پټه خوله وزغمم. د زینب د بدن هر غړي د محسن له غمه اور اخیستنه. زهراته، چې د دوی په خواکې ولاړه دوی ته یې شا اړولې او د سینند د ازادو او لېونو څپو په تماشه وه په شرمناکه انداز وکتل او ویې ویل: محسنه تاته به اوس څرګنده شوې وي، چې څومره مینه درسره لرم محسن یې په خبرو کې راو دانګل او ویې ویل: که ته له ماسره په رښتیا مینه لرې له عباسقلي سره واده ته غاړه مه ږده، مقاومت وکړه او د نورو خوښیو لپاره، چې ستا په فکر کې نه دي خپله خوښي له لاسه مه ورکوه.

زینب په ژړا وویل: خو زه د دې توان نه لرم. چې د ورور خوښي دې د پښنو لاندې کړم، د هغه له ژوند سره دې لوبې وکړم هغه بابېزه وګڼم. دا راته اسانه ده، چې له خپل ژوند څخه دې تېره شم ځان قرباني کړم. زه ورسره ډېره مینه لرم تر اوسه یې زه په یوه خبره هم نه یم خپه کړې: نو څنګه ورڅخه خوښي واخلم او نه هم دومره ځانغوښتونکې یم، چې د هغه زړه د خپلو پښنو لاندې کړم، هغه زما یوائېني ورور دی دا هرڅه زه نه شم کولی. د هیلو سترګې یې ماته نیولي. په سترګو کې یې معصومیت څپې وهي. ما خو بیا هم په دې څلورو کلو کې د بیلتون خوند څکلی، لږه تجربه لرم: خو نه شم کولی په هغه اور. چې زه سوزېدلې یم هغه هم وسېزم. نه محسنه نه زه داسې نه شم کولی.

محسن د دې هرڅه په اورېدلو ډېر په غوسه شو له سترګو یې اور ورېده کلک سوک یې دیوال ته ورکړ او ویې ویل: زینب ته هم په دې ښه

ږپوهېږه، چې رحیم او مریم به زما او ستا د مینې په قربانولو. زړه په ماتولو او د هیلو بربادولو په ازار به ښه ورځ و نه ویني او نه به هم په ژوند کې د نېکمرغۍ رنګ ووینې. زما او ستا د مینې اور به تل هغوی سېزي وجدان به یې تل ځوروي ارامه ژوند ته به یې نه پرېږدي.

محسن لکه پانه داسې رېږېده، چیغې او نالې یې کولې. اوښکې یې تویولې او زاري یې کوله:

د تره کره دې ولاړه شه ورته و وایه، چې زه نه غواړم واده وکړم. زینب ته دا حق نه لري ځان سره زما ژوند هم برباد کړي. ته خپله ډېره مهربانه یې خو هېڅوک په تا زړه نه خوږوي نه درباندې رحم کوي. په ډېرې سادګی سره تا قرباني کوي له خپلې کړنې څخه هېڅ پښېمانه نه دي. هغه څوک، چې په تا رحم نه کوي ته یې هم درباندې مه کوه. ته کولی شې تره ته دې ووایې او د یوڅه مودې لپاره د هغوی په کور کې ژوند تېر کړې.

محسنه زه نه شم کولی د خپل پلار او ورور سر ټیټ کړم خلک به څه وایې؟

ګوره زینب د خپلې کورنۍ په اړه دومره مه حساسېږه یوازې د کورنۍ خبره نه؛ بلکې زما او ستا د ژوند او مرګ خبره هم ده او دا زموږ د ژوند پورې اړه لري نه، د خلکو د ژوند پورې او دومره یې بابېزه مه ګڼه.

محسنه سره له دې، چې له ټولې نړۍ څخه هم زیاته مینه درسره لرم: خو هغه کار، چې زما او زما د کورنۍ په عزت او ابرو باندې تور داغ لګوي نه کوم.

محسن په ځان وپوهېد، چې په خبرو کې یې زیاتی کړی زینب ته نږدې شو خپلې سترګې یې د هغه په اوښلنو سترګو، چې د اسې اوښکې یې تویولې ښخې کړې او ویې ویل: زینب بخښنه غواړم زه دومره پرېشان یم، چې ان په دې هم نه پوهېږم څه وایم څه کوم هېڅ په خود نه یم نور نو

فکر مې هم کار نه کوي نه پوهېږم، چې څه وکړم چېرته لاړ شم. چاته پناه یوسم؟ ته پوهېږې، چې پرته له تا لکه د بې روحه کالبوت داسې یم او په دې هم پوهېږم، چې ته څه وایې ښه دې درک کولی شم زما او ستا د مینې نیالګې مخکې له دې، چې غوټۍ یې ګلان شي مړاوې شوه. پاڼې یې ورژېدې؛ خو په دې وپوهېږه ریښې به یې تل تازه وي او ترڅو چې مینه وي دا به هم ژوندۍ وي او له منځه به نه ځي.

محسن غلي د زینب د خبرو خوږه موسیقي اورېده وروسته له یوې وړې خاموشۍ یې وویل: زینب زه هم د ژوند ترورروستۍ سلګۍ پورې درسره مینه کوم او نه هم څوک دا توان لري ستا مینه دې زما له زړه څخه وباسي.

زهرا، چې تر دې شېبې غلې ولاړه وه د دوی خواته راغله او ویې ویل: محسنه زینب هسې هم ډېره خپه ده ته یې خپګان نور مه زیاتوه.

محسن وویل: زهرا زه نور څم خو ته په زینب پام کوه نوره یې مه پرېږده، چې ډېره اندېښنه وکړي. د تګ پر وخت یې زینب ته وویل: غواړم مخکې له جمعې دې یو ځل بیا ووینم. سر یې ټیټ کړ یو ښکلی ګل یې د سینډ له غاړې راوشکاوه زینب ته یې ورکړ او ورته یې وویل: زینب ستا مینه به تل زما په زړه کې د دې ګل په څېر شفافه وي.

زهرا وویل: زینب منګی دې را واخله ډېر ناوخته شو کور ته ځو د هغوی به اندېښنه پیدا وي.

زینب محسن ته وویل: هیله لرم یوځل بیا هم سره ووینو. محسن داسې خپه او نیولی و لکه د نړۍ ټول غمونه، چې د ده په زړه انبار وي ویې وویل: زه دلته راځم کېدای شي سره ووینو.

د زینب له سترګو اوښکې را توی شوې لکه شبنم څاڅکی رڼې په ګل پرېوتې محسن، چې یوځل بیا د زینب په سترګو کې اوښکې ولیدلې

نور يې د هغې زغم نه درلود مخ يې وګرځاوه مخه ښه يې واخيسته او د کلي پر لور روان شو. زينب تر هغه د سترګو لاندې څاره ترڅو. چې له سترګو پناه شو، اوښکې يې تويولې اسويلي يې کول خپل منګی يې واخيست او دوی هم د کور پر لور وخوځېدې غلې روانه وه د خبرو کولو توان يې هم نه درلود، غوښتل يې د محسن هره خبره يې په زړه کې پاتې شي. زهرا هم نه غوښتل، چې چوپتيا يې ورماته کړي. کورته ورسېدې. زهرا مخه ښه واخيسته او د خپل کور پر لورې ولاړه. زينب منګی له تخرګ څخه کوز کړ او د کوټې په لورې لاړه. په کوټه کې يې د مور په زوړ بکس ډډه ووهله او په خپلو سوچونو او خيالونو کې ډوبه شوه دخيالونو په نړۍ کې يې محسن ليده، چې له دې څخه لرې کېږي هڅه يې کوله ځان زينب ته نږدې کړي؛ خو يو لاس راځي او هغه شاته کشوي. د محسن ګل يې راواخيسته او په خپلو وېښتانو کې يې وتومبه سترګې يې پټې کړې ځان يې د واده په سپينه جوړه کې وليده محسن سره په څنګ کې ولاړه او هرې خوا ته د خوښۍ او خوشحالۍ سرودونه اورېدل کېږي محسن هم، چې د نړۍ تر ټولو ښکلې ناوې يې په څنګ کې ولاړه ده وياړي، په لاس کې يې د ښکلي ګلانو ګېډۍ وه هغه زينب ته ورکوي او لاسونه يې ښکلوي. د کليوالو د لاسونو پړکار پورته کېږي د ټولو خولې له خندا څخه ډکې وې د شور او مستۍ غږونه يې ان تر اسمانه پورته کېدل خو په يوه شېبه کې دا غږونه په ستونو کې ماتېږي او يو ناڅاپه محسن ورڅخه پټوي له سترګو يې پناه کېږي د زينب له خولې کړيکې وځي ژر يې سترګې وغوړولې؛ خو هغه څه يې، چې ليدلي وو هغه ټول يو خوب و يو وېروونکی خوب سوړ اسويلی يې وويست له ځان سره يې وويل: (څه عجيبه خوب و). د مور غږ يې تر غوږ شو (زينب لورې راشه په کار مې يې) زينب په ناتوانه ګامونو او الوتې



CS CamScanner

رنګ د مور خواته ورغله. د هغې ورځې په سبا بیا هم محسن و، زینب وه او غمونه یې. د سیند غاړه یو ځل بیا د دوو میناو د مینې او محبت، سوز او درد، غمو او اندېښنو شاهد و په ټول شور او مستۍ یې د دوی تماشه کوله. کله به، چې سره یوځای شول؛ نو د زماني څرخ به هم ورځخه هېر شو. دې دواړو سره له دې، چې هرڅه یې له لاسه ورکړي وو خو یوه شېبه یوځای اوسېدل به یې لوی غنیمت ګاڼه. په دې ورځ یې سره ډېرې خبرې وکړې د زړه خواله یې وکړه؛ خو دا هرڅه بې ګټې وو.
هغه ورځ او شپه هم تېره شوه. ورو ورو د چارشنبه ورځ را ورسېده. زهرا او زینب د نورو ورځو په څېر له نورو ملګرو څخه وړاندې د کلي کوڅې پناه کولې د تل په څېر خپل ټاکلي ځې ته ورسېدې. د زینب زړه په ګوګل کې د بېوزلې مرغۍ په څېر، چې خپله ځاله یې ورکه کړې وي بېوا که ټوپونه وهل. د محسن لیدو پسې ټپېده. هغه څه یې، چې غوښتل محسن ته ووایې. له ځانه سره تکرارول. ناڅاپه د عباسقي د پلار غږ ـ دې د افکاور لړۍ ور وشکوله. زینب له ناچارۍ څخه سلام وکړ. هغه وویل: لورجانې نن لږ څه ژر کور ته لاړه شه ځکه نن مازیګر د خپلې ښکلې ناوې نکاح تړوزه هم اوس ستاسې کورته ځم ترڅو مورو پلار دې راخبر کړم. زینب حیران کتل ـه پوهېدله، چې څه ووایې. د هغه خبرې یې په زړه لکه د ټوپک ډز داسې لګېدې. د ژبې لاندې بونګېده. نن، اخر ولې همدا نن. غږ یې په ستوني کې مات شو. په بڼه کې یې بدلون پیداشو زهرا له لاسه و نیوله. د بدن له هرغړي څخه یې کرکه ورېده. مشهدي کاظم سره له دې، چې د هغې په بڼه کې په بدلون وپوهېده خو هیڅ یې هم ونه ویل ځان یې ناګاره ونیو لنډه مخه ښه یې وکړه او د هغوی د کور پر لور وخوځېد. زینب لکه د ځمکې په مخ مېخ شوې وي. زهرا ځانته رانږدې کړه او ټینګه یې په غېږ کې ونیوله. زینب خولې ته کولپ

اچولی و؛ خو په زړه کې یې یوه عجیبه غوغا او شورماشور جوړ و. په زړه کې یې توپان راپاڅېدلی و، وېرې او وحشت یې په بدن کې لکه د سرطان رېښې غزولې وې. د محسن د لاسه ورکولو وېرې یې ټول بدن لکه شمع ویلې کاوه. هېڅ یې باور نه کېده، چې محسن دې دومره په سادګۍ سره له لاسه ورکړي. پر لار د تللو توان یې نه درلود. په سترګو یې تپه تیاره خوره وه. نه پوهېده چېرته ځي ځان یې په زهرا تکیه کړی و، د هغه ناروغ په څېر، چې میاشتې یې د ناروغۍ په بستر کې تېرې کړې وي او د لارې د تللو توان نه لري. وروسته له ډېره ځنډه سیند غاړې ته ورسېدلې. غلې او ارامه په لمدو کبلو کېناسته. سر یې په زنګون کې نیولی و په چیغو یې ژړل په ژړا کې یې وویل: زهرا ما داسې کومه ګناه کړې، چې اوس یې بویه سزا و وینم؟

محسن، چې دوی ته نږدې د یوې ونې په ډډ، ډډه وهلې وه د زینب د حالت په لیدلو ډېر خپه شو ورنږدې او زینب ته مخامخ کېناست او ورته یې وویل: زما ګرانې له کله راهیسې، چې راغلی یم تل دې د ژړا په اکر کې وینم د دې هرڅه په لیدلو زه سوزم زړه مې ایره کېږم له زهرا څخه یې پوښتنه وکړه بیا څه پېښ شوي؟ زهرا د ورور تودې او تبې نیولې څېرې ته د ورکتلو توان نه درلود سر یې ټیټ ونیو او ویې ویل: محسنه نن مازدیګر ته د زینب نکاح تړي. د دې خبرې په اورېدلو د محسن په بدن کې د اور لمبې بلې شوې سر په زنګونونو خواشینی کېناست لکه د خبرو ځواک یې، چې ورڅخه اخیستی وي. وخت په ځنډونو تېرېده د زمان د ځپو ښکالو د دوو مینانو په وجود دروندوالی کاوه. محسن د زینب د ارامولو په موخه سر راپورته کړ او ویې ویل:

ګرانې! ته که په هر ځای کې یې هرچېرته اوسې، د مرګ تر ګړۍ به درسره مینه لرم. زموږ په برخه به یې همدا لیکلي وي، چې د نورو د هوسونو او

ځانغوښتنو قرباني شو؛ خو مور، خپله هم د ځان ګناهکاران یو ځکه د خپلو د خوښیو په بربادولو کې مو له هغوی سره لاس یو کړ. په خپل خون کې مور، هم لاس لرو. خپله مو خپل غمونه زیات کړل. د خپلې مینې قاتلان یو. د زینب د سترګو چینه نوره وچه شوې وه سر یې پورته کړ د محسن په پاکو او معصومو سترګو کې یې سترګې ښخې کړې په سادګۍ یې وویل: (محسنه زه نور نه شم کولی، چې تا ووینم ښایې دا به زمور، وروستی دیدن وي هیله منه یم، چې زما د ژوند وروستۍ ورځ هم وي) محسن د زینب په ښکلې او جذابو کلمو او الوتي رنګ کې محوه شوی و ویې ویل: داسې خبرې دې نور له خولې وانه ورم مور، به تل په خپلو خیالونو او خوبونو په نړۍ کې یوځای ګډ ژوند تېروو.

زه وروسته له نکاح، چې زما مرګ نامه هم ده نوره نه شم کولی تا ووینم او پرته له تا نه شم کولی، چې ژوند وکړم او نه هم ژوندۍ پاتې کېدلی شم.

نه ګرانې ته بویه هرڅه وزغمې که تل دې دا حالت وي ډېر ژر به دې له پښو وغورځوي. دا څلور کاله ته راسره نه وې خو په هرځای هره شېبه او ګړۍ کې ستا هیلې راسره وې. راتلونکي ته هیله او تاسره د ګډ ژوند هیله مې لرله. که څه هم له تاڅخه بیلتون راته ډېر ګران او ځوروونکی و؛ خو تا سره د ګډ ژوند او ستاڅنګ ته د راتلو په هیله به دا ترخې شېبې راته بېرته خوږې شوې. اوس څه وکړم هرڅه مې له لاسه ورکړي، ته، ژوند، هیلې ځان، دغه تکېدلی او فناشوی وجود څنګه کولی شي دغه دروند پیټی په سر واخلې.

محسنه ته نه پوهېږې زه په دې ځوورځو کې څومره ځورېږم. ما په خپلو لاسونو زمور، د مینې قبر وکینده. بویه تر دې زیاته سزا ووینم. ماته ډاډ مه را کوه، په ما رحم مه کوه، ما ورټه، له ځان څخه مې وشړه، هم ته او هم مې ځان نا بود کړ زه ستا د پاکې او حقیقي مینې ارزښت نه لرم، زه نه شم

کولی او نه یې هم ځواک لرم ترڅو هغه څه، چې زما په زړه دي په ژبه یې راوړم. له دې هم بویه ډېره سزا و وینم. هغوی څه ډول کولی شي موږ د خپلې مینې قرباني کړي. محسنه کله له خپلې کړنې څخه ډېره پښېمانه شم؛ خو، چې بېرته د رحیم مظلومو سترګو ته وګورم نو د هرڅه توان راڅخه اخیستل کېږي. ځیني وخت داسې انګېرم، چې له رحیم سره له ځانه هم ډېره مینه لرم. د هرډول کړاونو او غمونو د زغملو توان لرم؛ خو رحیم نه شي کولی په مینه کې ماته وزغمي. هغه به مړ شي، زه پرته له رحیم څنګه کولی شم د نېکمرغۍ او ارامۍ احساس وکړم.
محسنه هم راته ستا بیلتون د هرڅه نه ګران دی. ای خدایه نو څنګه کولې شم ځان او ستا له ژوند سره لوبې وکړم هیڅ باور نه شم کولی.
ـ ګوره محسنه ژمنه راسره وکړه په ورځ کې دې یوځل له لرې څخه ووینم.
محسن ژر خپل مخ وګرځاوه ترڅو زینب یې په سترګو کې اوښکې ونه ویني. زهرا چې هم له دوی سره اوښکې تویولې وویل: زینب ډېر ځنډ مو وکړ راځه نور ځو ښایې څوک راپسې راشي. زینب له ځایه پورته شوه او یو ځل یې بیا خپلې سترګې د محسن په سترګو کې خښې کړې دومره یود بل په سترګوکې ډوب شوي وو ان دا، چې د زهرا په غږ هم ونه پوهېدل. اخر زهرا زینب په ولي وښوروله او ورته یې وویل: زینب راځه ځو؛ خو زینب ته ډېره ګرانه وه، چې محسن پرېږدي او دا ورڅخه ډېره لرې لاړه شي. په لړزېدلي پښو لاڅوګامه نه وه تللې، چې د محسن زړه راښکوني غږ بېرته په خپل ځای ودروله. ځان یې محسن سره ډېر نږدې ولیده په شرم یې له هغه سترګې واړولې او ځان یې څنګ ته کړ. محسن په لاس کې یوه وړوکې ښکلې قوتۍ نیولې وه ویې وویل: زینب په دې کې زما او ستا د کوژدې حلقه ده. هلته په بهر کې مې فرمایش ورکړی و

دغه دوه زړونه، چې په کې کبنل شوي په زرهاو هیلو او امېدونو مې ستا لپاره واخیستل. دا اوس تا پورې اړه لري دروایې خله. زه اوس دا له ځان سره نه شم زغملی زینب دواړه لاسونه په مخ کېښودل او دومره زور یې ورکړ، چې د ګوتو خاپونه یې په مخ پاتې شول. بیا یې وویل: که محسن هغه وخت مخکې راغلی وی، څومره ښکلې څه رنګینه نړی به مولرله په رښتیا سره به د نړی تر ټولو نېکمرغه وو؛ خو اوس یې نه شم زغملی، چې د بل کورته به ځم او ستا حلقه به مې په لاس وي. ما وبخښه زه نه شم کولی، هیله کوم تر دې مې ډېره مه ځوروه.

_ ومې بخښه بیا مې غلطي وکړه.

د نفرت او کرکې اوښکې د زینب له سترګو بهېدلې مخ یې د محسن پرلورې واړاوه او ویې ویل: ښایې زه به د دې ورځې هیله له ځان سره ګورته یوسم.

محسن نور د دې خبرو د اورېدلو توان نه درلود خپل موټر ته وخته او زینب ته یې وویل: زه ښار ته ځم نه شم کولی نن دې په خپلو سترګو ستا د قربانۍ تماشه وکړم؛ خو سبا ضرور غواړم یو ځل دې بیا و وینم.

زینب په حسرت او درد سره و ویل: ما وبخښه نور نو د تل لپاره د خدای په امان.

محسن سترګې پټې کړې په ډېر زحمت له هغه ځایه یې ځان پناه کړ. د محسن له تللو سره د زینب له پښو هم ساه لاړه په ځمکه کېناسته او زهرا ته یې وویل: زه نه شم کولی، چې منګی پورته کړم. زهرا له خپل منګي څخه اوبه واړولې د زینب منګی یې په غېږ کې واخیست او د کور پر لور وخوځېدې.

د زینب زړه نه غوښتل، چې د کلي پر لور لاړه شي. ډېر کوښښ یې کاوه تر څو په خپلو احساساتو کابو شي؛ خو بې ګټې و ونه توانېده. ناچاره

په ونه یې ډډه و وهله. په دې ورځو کې، چې هرڅه ورته پېښ شوي وو له ځان سره یې انځور کړل. سر یې هسک ته پورته کړ د کوم ورک شوي څیز په لټه کې شوه، هو هغه یې وموند د ورېځو له پاسه چېرته، چې ستوري د لمر له وېرې ځانونه پټوي. زړه یې وښویده. غوښتل یې چیغې کړي او محسن ته ووایې له ځان سره یې پورته کړي او ورته وایې، چې څومره مینه ورسره لري پرته له هغه یوه شېبه هم ژوند نه شي تېرولی.
په دې وخت کې دوه ټوټې ورېځې د لمر لاسته راوړلو په موخه سره جګړه پیل کوي. د دې جګړې په ترڅ کې د محسن ښکلې څېره د ورېځو شا ته پناه کېږي. زینب له ځان سره وایي کاشکې، چې مورږ هم د خپلې مینې لاسته راوړلو په موخه مبارزه کړې وای ګوندې بریالي شوي وای؛ خو نه اوس ډېر ناوخته دی. هېڅوک زما خبرو ته غوږ نه نیسي. ما خپله ټولو ته وویل: د عباسقلي مور و پلار ته، خپله عباسقلي ته، رحیم او خپل مور و پلار ته سره له دې، چې هغوی ټول په دې پوهېږي زه له دې واده څخه راضي نه یم؛ خو هېڅوک زما خبرو ته پاملرنه نه کوي. نه شم کولی عباسقلي سره ژوند تېر کړم، خدایه ج! ته را سره مرسته وکړه.
د زهرا غږ هغه د خیالونو له نړۍ څخه را بهر کړه. د زهرا پر لور ورغله زهرا وویل: زینب رنګ دې الوتی او حال دې ښه نه دی.
نه زهرا زه ښه یم اند ېښنه مه کوه.
بېرته د سیند غاړې ته لاړه لږې اوبه یې په مخ او سر وشیندلې. حال یې لږ څه ښه شو او د کلي لار یې ونیوله. د کلي په کوڅو کې شور ماشور و. څوک ښکته او څوک پورته تلل او د نکاح لپاره یې چمتوالی نیوه.
زینب وویل: (وګوره زهرا دا ظالمان زمورږ د قربانولو لپاره څومره په تلاش کې دي څومره ټول خوښ او خوشاله ګرځي) د زهرا په زړه کې خپلې نږدې ملګرې او هم د خپل ورور لپاره اوریل و. نوموړې په دې

پوهېده، چې په کومه کچه دوی يو له بل سره مينه لري او دې دوه مينانو ته يې په زړه کې څومره درناوی لاره. زينب وويل: زهرا مازيګر ته به ته هم موږ کره راشې. دا هرڅه زه په يوائې توګه نه شم زغملی. ته راسره مرسته وکړه که ته نه وې نو زه به ځان يوائې احساس کړم ستا شتون حتمي دې بويه، چې راشې او له ما سره غمشريکي وکړې.

زهرا وويل: ګرانې ته پوهېږې زه ستا د قربانۍ شپه په خپلو سترګو نه شم ليدلی. ډېره راته ګرانه ده. ومې بخښه، چې په داسې حالت کې دې يوائې پرېږدم. باور وکړ دا هرڅه زما له وسې نه دي پوره.

دايې وويل او په چټکۍ سره ورڅخه لاړه. زينب يې د غمونو او رنځونو سره يوائې پرېښوده. زينب په ډار کورته ننوتله. کليوالې د دوی د کور په سينګارولو بوختې وې. د خبرو په ترڅ کې يوې بلې ته وويل: د دوه زړونو پيوندول ډېر ثواب لري.

نو موږ هم هيله لرو، چې لوی ښتن به زموږ له دې کار څخه خوښ او راضي شي. زينب هم پرته له دې، چې هغوی ته کومه پاملرنه وکړي منګی يې په خپل ځای کې کېښود. څنګه چې د ښځو ورياندې سترګې ولګېدې ټولې ورياندې راټولې شوې هرې يوې به په ټوکو او مستۍ ورته خپلې خبرې کولې او خندل به يې يوې وويل: (څومره ښکلې ناوې له بدو سترګو دې لرې وي.) بلې وويل: (تل نېکمرغه اوسې). يوې مستې کليوالې په شوخۍ سره وويل: نه پوهېږو، چې عباسقلي به د خدای د رضا لپاره داسې څه کړي وي، چې دومره ښکلې هوره يې په برخه شوه. ټولو په کړس وخندل هرې يوې به بېلابېلې زينب ته د يو نېکمرغه ژوند دعا کوله او ښکلوله به يې. زينب غوښتل په چيغو وژاړي او ټولو ته څرګنده کړي، چې دا زما د واده نه بکله د مرګ ورځ ده. د خوښۍ او خوشالۍ پرځای راته وير او ماتم ونيسئ؛ خو نه يې غوښتل د هغوی

زړونه دې هم ورمات کړي، نه یې غوښتل دا ساده کليوالې دې له ځان څخه ناراضه کړي، له زړه څخه یې ويني څڅېدلې ويې ويل: تاسې څه پوهېږئ، چې زه په کوم حال کې یم. ټولو په حيرانۍ سره يوبل ته وکتل؛ خو د زينب خبرو په مانا ونه پوهېدلې، چې څه وايي. ټولو هک پک زينب ته کتل زينب ژړ لاړه کوټې ته ځکه نه یې غوښتل په انګړ کې دې پاتې شي: ترڅو د کليوالو خبرې، چې د ټوپک ډز داسې اغېزه يې وربانده کوله وانه وري او په زخمونو يې ورته مالګه ونه دوړوي. غوښتل يې يوائې اوسي چېرته، چې د چا غږ وانه وري يوازيتوب يې خوښېده. يوځل بيايې د سترګوڅني په څڅېدو راغلې. شبېه په شبېه په کور کې اله ګوله زياتېده نه پوهېده، چې څومره وخت يې دوام وکړ له ډېرې ژړا څخه يې سترګې تکې سرې اوښتې وې. مور يې د لور له درد سره سمه دردېدله. خو هېڅ يې ځان نه پوهاوه؛ ځکه هغې خپل ځانغوښتونکي او ضدي خاوند ښه پيژنده. ليدل يې، چې يوائينۍ د زړه ټوټه يې څه ډول ويلې کېږي؛ خو هېڅ مرسته يې ورسره نه شوه کولی. ډېره اندېښمنه وه د زينب له ګاندې څخه يې وېره لرله. دې به تل محسن خپل زوم ګاڼه هغه، چې يو ښکلی او پوه ځوان و وياړ يې وربانده کاوه. له عباسقلي څخه يې ډېره کرکه لرله: خو مجبوره وه، چې په دې هرڅه دې سترګې پټې کړي او د خپلې کورنۍ عزت دې په پام کې ونيسي.
پيغلې د ناوې سينګار لپاره کوټې ته ورغلې؛ خو زينب په خپل ځای ودرېدله او ويې ويل: هېڅوک دې نږدې نه راځي زه نه غواړم سينګار وکړم، پيغلو چې هرڅومره هڅه وکړه بريالی نه شوې ناوې يې ساده بلې کوټې ته، چې په رنګه څراغونو او ګلانو سينګار کړې وه راوسته زينب هم لکه د بېوزلې مرغۍ په څېر، چې وزرونه يې ورڅخه پرې کړي وي او

حلالولو ته يې وړي غلې روانه وه ځو ښځې او سړي په کوټه کې ناست وو. زينب يې د ملا په څنګ کې کېنوله. ملا د نکاح په خطبې ويلو پيل وکړ. زينب سترګې وتړلې. په خيال کې يې محسن وليد، چې په څنګ کې يې ناست دی او يوه ښکلې د سرو زرو ګوته يې په لاس کې نيولې، چې د هو په ويلو سره يې ورته په ګوته کړي. محسن له ښکلو او غټو سترګو سره، چې خوښې ورځخه له ورايه ورېږي. سپين پرتوګ او نصواري کميس سره، چې د هغه ښکلا يې لا څو برابره زياته کړې وه. په بې صبرۍ سره د زينب ځواب ته په تمه دی: څو کله يې چې وليدل زينب ژر ځواب نه ورکوي؛ نو د ښکلو بادامي سترګو په اشارې سره زينب پوهوي، چې ژر ځواب ورکړي. زينب هم ډېره خوشاله وي هو وايي، چې ناڅاپه د ښځو او سړو د خوښۍ غږونو او چيغو هغه په خود کړه. ژر يې هغه ځای ته، چې محسن ناست و وکتل. سترګې يې د عباسقلي په بدرنګه څېره چې په سپين سترګۍ سره يې دې ته کتل ولګېدې. يوناڅاپه يې ټکان وخوړ او له ځايه راپورته شوه. د خلکو په منځ کې يې لار وکړه او له کوټې څخه يې دباندې منډه واخيسته. ځان يې ځمکتل خونې ته ورساوه له دننه څخه يې ور ځان پسې وتاړه د هغې شپې په يادولو يې لکه د ليونو يوعجيبه اکر لره. ژر يې سترګې وتړلې، چې بيا هغه صحنه ونه ويني. غوښتل يې له محسن سره خپل غمونه شريک کړي او ورته ووايي، چې څومره ژر يې غاړه کېښوده څومره ژر يې د هوځواب ورکړ او څومره ژر يې خپل ژوند وبايله؛ څو کله چې محسن راشي ډېر په غوسه وي په کرکې او غوسې سره د دې پر مخ لاړې تو کړي او ووايي: ته بېوفايې، ته د دې پاکې او سپېڅلې مينې ارزښت نه لرې. څومره په اسانۍ سره دې ځان خرڅ کړ، زه له تا څخه کرکه لرم، تا زموږ پاکه مينه پښو لاندې کړه، تا د مينې په پاکه لمن تور داغ

ولګاوه، ته په مینه کې د سوزېدو ارزښت نه لرې. څه شوه هغه ژمنه هغه قول، چې ما سره دې کړي وو. د ماشومتوب هغو خوږو خاطرو او یادونو ته څه وایې. په یاد دې دي. چې تا به ویل محسنه پرته له تا به زه څنګه په دې کلي کې ژوند تېرکړم. ته یې چې زه هم دلته ژوند تېروم. بېوفا. هغه دې په یاد دي تا به ویل. که له لمر سره مینه لرم ستا لپاره. که شپه مې خوښېږي او که د ژوند سره مینه لرم: نو ستا لپاره هغه ټول دروغ وو. ته دروغجنه یې. ته د مینې په ارزښت نه پوهېږې. ته د مینې کولو ارزښت نه لرې. ته زما د دې ټولې بې کرارۍ ارزښت نه لرې. ته له ما سره مینه نه لرې، ته دروغجنه یې ته ته ته...

زینب پر خپلو غوږونو لاس کېښود. د محسن د رټلو توان یې نه درلو. محسن دا بېوفا ګڼله خو دا بېوفا نه وه. دروغجنه نه وه دې پرته له محسن بل له هېچا سره مینه نه لرله. ژر یې سترګې خلاصې کړې وېرېدله. چې سترګې پټې کړي نوره له محسن څخه وشرمېدله. په وینه او روح کې یې د محسن مینه اغږل شوې وه. یوه شېبه یې هم له محسن څخه د بېلتون زغم نه لاره. د محسن له نظره وېرېدله. محسنه! دومره ژر دې زه هېره کړم. ته خو پوهېږې چې زه څومره مجبوره وم، ښه پوهېږې چې ما بله لار نه لرله. ته باید باور وکړې. ژړا یې د کوټې ټوله فضا نیولې وه. ژړا یې هم د زړه غوټې نه خلاصولې. څو نجونې او ښځې د وره شاته ولاړې وې او زاري یې کوله ترڅو ورخلاص کړي. زینب چې په کړیکو ژړل ویې ویل: نور نو له ما څخه څه غواړئ هرڅه مو راڅخه واخیستل او نه هم کوم څه پاتې دي چې راڅخه یې واخلئ. زړه مو لایخ نه دی چې زما ژوند مو برباد کړ، زه مو قرباني کړم. له ژوند کولو څخه مو بېزاره کړم. هرڅه مو راڅخه واخیستل. نور؛ نو څه پاتې، چې تاسې یې اخیستلو ته راغلي یاست. تاسې ټولو زما په قربانولو کې ګډون کړی او ټول ورکې لاس لرئ. څئ

لاړې شئ نه غواړم تاسې ووینم. له تاسې ټولو څخه ډېره کرکه لرم. زینب په چیغو چیغو ژړل یو دروند پیټی یې پر خپل زړه احساسوه. له ژوند او هم یې له نړۍ څخه کرکه کوله. نه یې غوښتل هېڅوک ووینې. داسې یې انګېرل چې دا ټول جلادان دي او د دې د وینو د څښلو په موخه راغلي دي. د ټولو لاسونه یې په خپلو وینو سره لیدل. د خپلې مور غږ، یې ډېر خپه او نیولی ترغوږو شو. چې ویل یې: (زینب لورې! موږ ټول د رحیم او مریم نکاح تړلو ته د مریم کورته ځو په کور پام کوه) ای خدایه! د یوې مور زړه د تیږې په څېر دی. دومره بې‌رحمه ده؟ نه د هغې له وسې هېڅ نه دي پوره. نه پوهېږي څه وکړي. د لومړي ځل لپاره یې په زړه کې د رحیم او مریم لپاره کینه پیدا شوه. ولې دې هغوی نیکمرغه ژوند ولري: خو ای خدایه! مه پرېږده زما ټولې خوښۍ اوهیلې له منځه لاړې شي. مه پرېږده، چې په شپاړسم پسرلي کې دې پانه پانه شم. په دې شېبه کې یې یو شوم فکر او خیال په مغزو کې را تاو شو، نه زه نه پرېږدم د عباسقلي لاس ماته راورسي زه ځان وژنم. هم به زه د تل لپاره له کړاونو څخه و ژغورل شم او هم به محسن نور نه ځورېږي او عباسقلي به هم د یوه داسې چا سره واده وکړي. چې هغه هم ورسره مینه وکړي او تل یې خوشاله وساتي. هو همدا ډېر ښه کار دی زه نه غواړم ژوند وکړم نه غواړم څو ژونده دې له ځانه سره تباه کړم.

له ځایه پورته شوه خپلې اوښکې یې پاکې کړې دومره خوشاله وه، چې ان د څو شېبو وړاندې ویرجنه او غمجنه نجلۍ یې نه پېژندله. د کوټې ور یې خلاص کړ په کور کې هېڅوک نه وو د مور کوټې ته ننوتله څو ټوټې اپین. چې د پلار یې و راواخیست جام یې له اوبو څخه ډک کړ، هرڅه یې چمتو کړل د مور په زاړه صندوق کېناسته شیطان یې ناهیلې شېبه په شېبه نوره هم ور زیاتوله. د مرګ پرښتو د دې پر وړاندې د مرګ

خوشالي کوله د سترګو پر ورانديٍ ورته نڅېدلې او د دې پر حال په کرس کرس خندېدلې او ويل يې: (وخوره بېعقلې نجلۍ، ولې خندا کوې؟ له دې کړاونو او دردونو څخه د ژغورلو يواځينۍ لار همدا ده ته بايد د عباسقلي له لاسونو څخه ځان وژغورې. پرته له محسن مه پرېږده بل څوک دې ستا ژوند ته راشي. د مرګ غېږ ته پنا يوسه. د ژغورلو يوائينۍ لار همدا ده نورې لارې دې پر مخ تړلي دي. لاس يې پورته کړه، چې اپيين وخوري او د تل لپاره ځان وژغورې يو ناڅاپه د محسن نرم او زړه ښکونکي غږ د دې نارامه روح لږ څه په ارام کړ. (نه زينب نه تا ډېر لنډ فکر وکړ، ته لېونۍ شوې يې. ايا ته کولې شې په دې توګه ځان وژغورې؟ داخو لا ستا د درد لومړنی پړاو دی، ايا تا خدای ج هېر کړی. ته له دوزخ څخه ډار نه لرې؟ ته نه پوهېږې هغه خلک. چې د ژغورلو يوائينۍ لار په ځان وژنه کې ګوري د هغوی ځای د دوزخ په لمبو کې دی، ته خو يوه پاکه او ايمانداره نجلۍ يې، نو تا څنګه غاړه کېښوده. چې خپل پروردګار هېر کړې. نه ګرانې نه هيله کوم له دې زيا ته جزا مه راکوه. ته خو پوهېږې که ته دې د ژوند ډيوه د تل لپاره مړه کړې زه خو ستا د ډيوې پتنګ يم نو زه هم ژوندی نشم پاتې کېدلی. د موروپلار زړونه ماتوې د تل لپاره يې سرونه ټيټوې، زه په دې هم خوشاله يم. چې کله خوبه دې له لرې وينم. همدا يوه هيله هم راڅخه مه اخله. تاخو په خپلو لاسونو موږ بدمرغه کړو. هغه مينه چې له وړکتوب څخه زموږ په وينه کې روانه وه، تا له منځه يوړه. د دواړو ژوند دې د يو بې ځايه شرم قرباني کړ، زما د زړه خوښي دې د تل لپاره په غمونو وربدله کړه زه دې دې ته اړ ويستم، چې په خپله د خپل مرګ سوال وکړم. زه دې هېر کړم. ټولې هغه هيلې دې هېرې کړې، هغه ژمنه دې ماته کړه، چې تل به مو پرې سوګند يادوه. له دې ټولو سره بيا هم زه نه شم کولی تا ته بېوفا

ووایم ځکه ته بېوفا نه یې. ستا په بې پایه مینې، چې نسبت ماسره یې لرې ښه پوهېږم. پوهېږم څومره مینه راسره لرې. پوهېږم، چې ماته او زما مینې ته تل وفاداره وې. خو زه او ځان دې د بېځایه احساساتو قرباني کړلو. په دې نه پوهېږې، چې ژوند خو کومه لوبه نه ده او نه هم یوه یادوه ورځې دی؛ بلکې یو عمر مو سره له دې، چې روحونه یو ځای دي بېل ژوند وکړ او که رښتیا ووایم؛ نو سوزو به. تا د دې حق نه لاره، چې ما هم د رحیم لپاره ځار کړې او نه دې هم دا حق درلود، چې ځان له مریم څخه ځار کړې).

زینب وویل: ته حق لرې ماته لېونی ووایې.

_ تراوسه خو لاهم لږ وخت لرو ته د هغه لیوني سره واده مه کوه. ته زما د هیلو ماڼۍ مه رانړوه.

تل به مې داسې انګېرل د نړۍ یو توان او قدرت هم نه شي کولی، چې تا راڅخه واخلي. لږ تر لږه له خپل مرګ سره ما مه مجبوروه، چې زه هم ستا لار ونیسم. هیله کوم دغه کار مه کوه. زه غواړم ته تل ژوند وکړې که ماسره وې او یا هم له بل سره؛ خو مرګ دې نه شم لیدلی. تل ژوندۍ اوسې د پسرلي ګلونو په څېر، زموږ د مینې ونې د ریښو په څېر، هغې ونې په څېر، چې ما او تا وکرله په خپلو اوښکو او د زړه په وینو مو خړوبه کړه. که ته نه یې؛ نو زه به هم مړ شم او هغه ونه به هم وچه شي، چې ته یې نه غواړې.

زینب چیغې کړې، نه محسنه زه هېڅکه نه غواړم داسې دې وشي؛ خو ته راته لار وښایه څه وکړم؟ هېڅ نه شم منلې، چې ستا پر ځای دې بل څوک په خپل څنګ کې ورغمم. نه شم کولې واده وکړم نن یې، چې کله زما نکاح تړله وپوهیدم، چې له ځان سره مې څه وکړل.

_ ګراني صبر کوه یوازې صبر.

د دروازې ټکولو زينب د خيالونو له نړۍ څخه را بهر کړه. له ځايه راپورته شوه او له ځان سره يې وويل: (اى خدايه! ته راسره مرسته وکړه) پښو يې د تلو توان نه درلود، په لړزېدلي ګامونو د وره خواته وخوځېده دروازه يې خلاصه کړه. په زهرا يې سترګې ولګېدې ځان يې د هغې په غېږ کې وغورځوه. په ژړا يې پيل وکړ په زوره زوره يې ژړل. زهرا هم ژړل ويرجن غږ سره يې وويل: لږ صبر وکړه، چې ور بند کړم. وروسته دواړه په کوټه کې کېناستې او په ژړا سر شوې يوه شېبه دواړو ښه وژړل څو چې زړونه يې سپک شول د زهرا سترګې په اپيين، چې په زاړه بکس د کوټې په کونج کې ايښې وا و د اوبو ډک جام يې هم په څنګ کې ايښی و ولګېدلې. يوه عجيبه وېره يې په زړه کې پيدا شوه ويې ويل: زينب دا څه دي؟ زينب په شمېرلو کلمو ځواب ورکړ. غوښتل مې په دې توګه ځان وژغورم. که محسن مې مرستې ته په خپل وخت نه وی راغلی نه پوهېږم، چې څه به پېښ شوی وای ښايې زه به اوس په دې نړۍ کې نه وی. زهرا کړيکې کړې او ويې ويل: زما ګرانې نور داسې لېونتوب ونه کړې. تاهېڅو دومره هم فکر ونه کړ، چې دا خلک به څه وايې څه ډول پوښتنې به کوي، څه تورونه به پرتا لګوي. محسن ډېر بېوسې دی تردې يې نور هم مه بېوسې کوه. داهرڅه پرېږده دا راته ووايه محسن چېرته و، چې ته يې وژغورلې؟

زينب وويل: زهرا زه تل له محسن سره او محسن له ما سره دی هر کله، چې سترګې وتړم؛ نو محسن په خپل څنګ کې وينم هغه زما په زړه کې دی زهرا اوس مې هغه ته شا کړې د هغه او له مينې سره يې ما خيانت کړی. د هغه هرڅه هيلې او امېدونه مې ورته د پښو لاندې کړي. تر اوسه هم هغه ما او زما مينې ته، چې زه يې په ارزښت ونه پوهېدم وفادار دی. لا اوس هم له ما سره دی.

ـ زینب دومره ځان مه زوروه، ته بویه ژوند وکړې. اوس د بل چا د ژوند یوه برخه کېږې. هغه هم له تا څخه هیله لري، د یوه ښکلي ژوند هیله، په تا پوره حق لري. هغه له تاڅخه خوښي، خوشالي، نیکمرغي او بلاخره هغه څه، چې یوه ښځه او خاوند هغه ته اړتیالري غواړي.

زینب چیغې کړې: (هغه هېڅکله هم باید له ما څخه د داسې شیانو تمه ونه لري او نه یې هم ورکولی شم هسې هم مخکې له واده ما پخپله هرڅه ورته ښه په ډاګه وویل. زه به له هغه سره د یوه پردي په څېر د یوه بې روحه کالبوت په څېر ژوند وکړم. ما ورته ویلي، چې هېڅ مینه ورسره نه لرم. خپله یې ومنل. د زمانې تاړاکونو زه په دوه برخو وېشلې یم. زما روح او احساسات، چې له هر ډول خوښیو، مستۍ، ژوند، عشق، مینې، شور او وفا څخه ډک دی تل به له محسن سره وي او هېڅوک دا توان نه لري، چې هغه دې له محسن څخه واخلي او یوازې ضعیفه، خوار، له ژوند څخه بېزاره، خپه او ناتوانه جسم به د بل په وک کې وي همدا به د لوی پروردګار خوښه وه.

ـ زینب نوره غلې شه ځان دې په دې بېځایه خبرو واژه.

زهرا ته پوهېږې د نکاح په وخت کې ما څومره ژر هماغه په لومړي ځل د هو ځواب ورکړ. پوهېږې ولې؟

ځکه کله، چې زه کېناستم ژر مې سترګې وتړلې ترڅو دا هرڅه په خپلو سترګو ونه وینم؛ خو چې څنګه مې سترګې وتړلې. داسې مې وانګېرل ګوندې دا زما او د محسن نکاح تړي؛ نو سم له واره مې د هو ځواب ورکړ.

زهرا دا ناتوانه نجلې، چې هرڅه یې له لاسه ورکړي وو. په غېږ کې ټینګه ونیوله.

ـ نوره غلې شه ګرانې ځان وژنې؟ په یاد دې دي ځو ورځې وړاندې دې. چې په هر ځای کې پل کېښود؛ نو غمونو به له هغه ځایه کډه کوله. ټول به دې خندول. زمو د بڼ‌ار ګل او د سر تاج وې.

اوس څه وشول. د سترګو هسک دې تل په ورښت وي. په ژوند کې هر څه پېښېږي مونږ بويه دومره ژر خپل ځان له لاسه ورنه کړو. بويه ته ژوند وکړې که په دې ډول دوام ورکړې؛ نو ته به ډېر ژر ځان له لاسه ورکړې.

اوس هم کولی شې هماغه د څو ورځو وړاندې تل خندانه او خوشاله جلۍ اوسې.

ـ زهرا له زړه مې د غمونو او اند ېښنو کان جوړ شوی. څنګه کولی شم په خوله خندا؛ خو په زړه کې ويني وژاړم.

ـ ته څومره زغم لرې ته؛ خو به په ډېرې ژړا سره خپل ځان ووژنې. زړه مې غوښتل چې يوازې دې پرېږدم ته خپله پوهېږې، چې هغه شېبه مې په خپلو سترګو نه شوه ليدلی. اوس مې هم په بل ځي کې کار درلود ومې ليدل، چې چوپه چوپتيا ده وپوهېدم ټول د نکاح لپاره د مشهدي کور ته تللي او ته به په کور کې يواځې يې؛ نو راغلم ترڅو تا ووينم. اوس پور ته شه خپلې اوښکې دې پاکې کړه او هم له ما سره دا ژمنه وکړه، نور به داسې کوم کار او يا کوم فکر هم نه کوې.

زينب پور ته شوه زهرا يې په غېږ کې ونيوله ويې ويل: زهرا يوازې ته زما د درد او غم خواخوږې يې بخښنه غواړم ته مې په خپلو بېځايه خبرو ناراضه کړې. زه به بيا هېڅ کله داسې فکر ونه کړم. که هر څومره غمونه او دردونه وي ورسره به يې ګالم ځان به ورسره عادت کړم: خو داسې کوم کار به نه کوم، چې تاسې او يا هم زما کورنۍ دې ورپاندې غمجنه شي.

زهرا زينب سره مخه ښه وکړه او ورڅخه لاړه. د هغې ورځې په سهار زهرا او زينبـډ سيند غاړې ته اوبو پسې تللې، چوپه چوپتيا وه، يو

دردونکې او سوزنده سکوت د دوی په منځ کې خپور و. زینب غمجنه او رنګ یې الوتی و، تورې سترګې یې بیا هم لمدې وې او وربښت ته یې ځان چمتو کړی و.

له زهرا څخه یې وپوښتل: زهرا محسن تر اوسه نه دی راغلی؟

ـ نه پرون شپه په ښار کې پاتې شو.

په دې وخت کې له شاڅخه په وښو کې د پښو ښکالو تر غوږ شوه. له دې سره سم د محسن مېړانه غږ تر غوږ شو (ګرانې زه تل لکه د سیورې درسره یم. زه نه پوهېږم، چې نور درته څه ووایم؛ خو تل به په درد او غم کې درسره شریک یم.) د زینب په مخ اوښکو بیا د ګرېوان لار ونیوله.

محسن وویل: ګرانې وژاړه څومره، چې ژړلی شي وژاړه، زړه دې ښه تش کړه غمونه دې له ما سره ووېشه.

د زینب د دې حال په لیدلو سره د محسن زړه په اور سوزېده بېواکه ټوپونه یې وهل زړه یې ډېر زورېده؛ خو هرڅه یې په پټه خوله زغمل ځان یې ډاډه نیولی و او زینب ته یې ډاډ ورکاوه. زینب وویل: محسنه څه ووایم نور څه د ویلو لپاره نه لرم، هېڅ نه شم تحمل کولې.

ـ زما ګرانې او معصومې زینب. موږ باید دې اندېښنو او غمونو ته دومره ژر ځان ونه سپارو. بویه د تل په څېر، چې وفاداره او پاک مینان وو هماغسې اوسو د زغم او صبر څخه کار واخلو، دومره مقاومت وکړه تر څو، چې د زړه له کور دې د تل لپاره غمونه او اندېښنې کډه وکړي.

ـ ګران محسنه! ښایې موږ کومه لویه ګناه کوو. موږ بویه نور یو بل ونه وینو. که څه هم، چې ډېره ګرانه ده؛ خو نور مجبور یو او بویه دا هرڅه وزغمو. محسنه ما وبخښه.

پښې یې بېواکه شوې، په سترګو یې تپه تیاره خوره شوه، لاس یې اوږد کې، چې زهرا ونیسي. د محسن ورته پام شو په منډه یې ځان

ورساوه او هغه يې ټينګه ونيوله، په شنو کبلو يې کېنوله. زهرا په غېږه کې ونيوله د هغې سر يې په خپله سينه کېښود، محسن له جېب څخه دسمال را وويست هغه يې د سيند په اوبو لوند کړ او زهرا ته يې ورکړ، چې د زينب په تنده يې کېږدي. زينب سرې تبې نيولې وه سترګې او د مخ بڼه يې لکه د وينو جام داسې سره اوښتې وو.

د زهرا په غېږه کې يې زګېروي کول. زهرا يې په تنده لوند دسمال کېښود وروسته له نيم ساعت څخه يې حالت لږ څه ښه غوندې شو. محسن لکه د لېونو د زينب په دې حال چيغې وهلې: بې رحمو وګورئ په څه ډول دغې بېوسې او مظلومې نجلۍ ته جزا ورکوئ. زينب سترګې خلاصې کړې او ويې ويل: محسنه! ستا دې په پاک الله قسم وي، نور زړه ته غم مه ورکوه. زه هرډول درد او غم اخستلو ته تياره يم له ټولو څخه کرکه لرم. د هغوی کرکې مې په ټول بدن کې ريښې غزولې دي، وده کوي، ای خدايه ټول زموږ د قربانولو په موخه څنګه جشن نيسي. زهرا ورو محسن ته وويل: لا لا د خدای په خاطرله دې ځايه لاړ شه مه پرېږده دا خوارکۍ دې نوره وزورېږي. څومره، چې تا ويني هغومره زورېږي.

محسن په پرېشانه او تبې نيولې څېرې زينب ته وويل: زما ګرانې او يوائينۍ مينې د الله په امان ما وبخښه، چې ډېر ناوخته راغلم. که يوځو ورځې مخکې راغلی وای نو... ؛خو په هر حال اوس نور د دې خبرو وخت نه دی وخت له وخته تېر دی.

په چټکو ګامونو يې د هغوی له سترګو ځان پناه کړ. نور يې هرڅه له لاسه ورکړل ان له يو بل سره ليده کاته هم زينب له ځايه راپورته شوه ويې ويل: زهرا زه اوبه نه شم وړلی حالت مې ښه نه دی.

- لږ وار وکړه، چې خپل منګې راپورته کړم. زينب غوښتل لاړه شي؛ خو پښې يې سستې وې لړزې نيولې وه د تلو توان يې نه درلود.

زهرا ډېره اندېښمنه وه له ځان سره یې وویل: خوارکۍ هرڅه یې ورڅخه واخیستل. په چټکۍ سره یې ځان ورساوه ورته یې ویل: ګراني لږ وار کړه زه هم اوبه نه ورم. زینب را وګرځېده په غوسې سره یې زهرا ته وویل: زما له ټولو انسانانو څخه بد راځي، له ټولو کرکه لرم، حتا تا او محسن څخه هم. ما یوازې پرېږده نه غواړم تاسې ووینم. زهرا ښه پوهېده، چې زینب په څه حالت کې ده ویې ویل: ښه ده زه درڅخه ځم او یوازې دې پرېږدم دا یې وویل او د سیند پر لور لاړه. زینب خپل ګامونه نور هم ګړندي کړل. نه پوهېده څه کوي، څه وایې او چېرته ځي. کله، چې زینب له سترګو پنا شوه زهرا هم خپل منګی له اوبو څخه ډک کړ. غمجنه او نارامه خپل کورته ستنه شوه. د کوټې په مخ کې په چوترې کېناستله او د هغې بېوزلې نجلۍ په اړه یې په سوچونو کې ډوبه شوه. له ځان سره یې وویل: (ای خدایه دغه پاکه او معصومه نجلۍ؛ خو نوره لېونۍ شوې، یو نا څاپه یې لاس په خپل ولي احساس کړ سر یې، چې پورته کړ په محسن یې سترګې ولګېدې ډېره خپه او نیولی ښکارېده. زهرا له ځایه پورته شوه هغه یې په مخ ښکل کړ او ویې ویل: محسنه زه نن د هغې په اړه ډېره اندېښمنه یم. دومره خپه وه، چې ان پرمایې هم چیغې کړې له ځانه یې وشړلم او دا یې ویل: له تاسې ټولو څخه کرکه لرم هم له تا او هم دې له محسن څخه. د محسن له سترګو بیا اوښکو د ګرېوان لار ونیوله او ویې ویل: زهرا موږ باید کوم کار وکړو، همداسې دې د هغې تماشه ونه کړو. بویه مخه یې ونیسو پرېنږدو لکه د شمع دې وېلې شي زه نه پرېږدم هغې د مور و پلار د بېځایه غوښتنو له امله د مرګ غېږ ته وسپارم.

زهرا زه هم پرته له زینب ژوند نه شم تېرولی که په هغې کوم څه وشول زه هم مړ کېږم، زهرا چې لا تراوسه یې محسن دومره غمجن او نا امیده نه و

ليدلی، ويې ويل: محسنه ټولې لارې ترلې موږ اوس هيڅ لار نه لرو او نه هم دومره وخت لرو، چې کوم څه وکړو. همدا نن شپه زينب د عباسقلي کورته وړي او زينب هم له خپل ورور سره دومره مينه لري داسې کوم کار ته غاړه نه ږدي، چې د هغې ورور ته دې کوم زيان ورسوي. بايد ته د څو ورځو لپاره له دې ځايه لرې لاړ شې. د څو ورځو لپاره ښار ته لاړ شه ستا به هم لږ څه پام غلط شي او هم به زينب لپاره ښه وي؛ ځکه کله چې هغه تاويني؛ نو د تياره راتلونکي په اړه ډېره اندېښنه کوي. محسن سوړ اوسيلی وکېښ او ويې ويل: څومره په اسانۍ سره مو خپل ژوند بايلود موږ بويه دومره ژر نه وی تسليم شوی ولې مو دومره ژر غاړه کېښوده. دوی لا په خپلو خبرو کې وو، چې د دروازې غږ يې تر غوږو شو مخ يې ور واړوه په زينب يې سترګې ولګېدې. سلام يې ورکړ. محسن د خوشالۍ نه په جامو کې نه ځايده حتا تصور يې هم نه کولو، چې په داسې وخت کې دې زينب دوی کره راشي.

_ سلام.

_ سلام زينب ښه راغلې. د ګل په څېر مخ دې زما پسرلی دی، د سترګو خمار دې زما د روح صفايې ده او چنار ونه دې زما د عمر بقاده.

زينب مسکه شوه او ويې ويل: محسنه په دې خبرو دې راته زړه څېرې کړ.

_ زموږ کوډله دې په راتلو سره روښانه کړه.

محسنه نور؛ نو ما ته هيڅ نه دي راپاتې.

نه زينب ته اوس هم کولی شې هغه ښکلې کلمې دې پر ژبه راوړې.

زينب د زهرا خواته ورغله، زهرا له ځايه راپورته شوه ټينګه يې په غېږ کې ونيوله په مخ او سر يې ښکل کړه. زينب وويل: زهرا زه بخښنه غواړم

هغه وخت په ځان نه پوهېدم، چې څه مې درته وويل. په ټوله نړۍ کې يوائې همدا تا لرم. تا تل زما غمو نه نيم په خپل سر اخيستي.
زهرا يې لاس په خپلو لاسو کې زور کړ او ويې ويل: دومره مهمه نه ده. ته ښه پوهېږې، چې زه هېڅکله له تا څخه نه خپه کېږم که هرڅه راته ووايې.
زه دې ښه درک کوم.
دا هرڅه پرېږده راځه کېنه.
ته پوهېږې، چې په کور کې څه روان دي، که هغوی وپوهېږي چې زه دلته له تاسو کره يم نه پوهېږم بيا به څه راپېښ شي. ته پوهېږې زه يې ستاسې له کوره منع کړې يم ويل يې هېڅکله به تاسې کره نه راځم: خو هغه ورځ مې ته ډېره خپه کړې راغلم څو له تا څخه بخښنه وغواړم.
وروسته يې مخ محسن ته کړ او ويې ويل: محسنه! هيلم منه يم وکولی شې. چې ما وبخښې. د هغه ظلم، چې هم مې په ځان او هم مې په تا وکړ، د خدای په امان.
ـ زينب دغه وروستۍ هيله درڅخه لرم يوه شيبه ودرېږه.
سر دې پورته کړه غواړم يوځل بيا د تېر په څېر ستا سترګو ته، چې زما ټولې هيلې يې له ځان سره ځای کړې وګورم.
زينب سر پورته کړ خپلې سترګې يې د محسن په پرېشانه او ستومانه سترګو کې وګنډلې او ويې ويل: زما په سترګو کې اوس هغه مستي او شوخي نه ليدل کېږي. اوس دا نظر د يوه مړي د نظر په څېر دی يو بې روحه نظر دی. پرته له رڼا او پرته له هيلو، زما په سترګو کې اوس د ژوند نښه نه ليدل کېږي. اوس يوائې له سرګردانۍ، غم، درد او پرېشانۍ څخه نور هېڅ نه دي راپاتې.

هېڅ راته نه دي راپاتې، چې تا په ځان کې جذب کړي ما په خپل حال کې پرېږده، د ژوند په سرګردانه دښتو کې مې خوشې کړه، زه ستا د بې پایه او بې دریغه مینې او محبت په ارزښت ونه پوهېدم. پرېږده د خپلې بېوفایۍ په دښته کې ورکه شم ورسته شم همدا مې سزا ده.
محسن له ځان سره وانګېرل نور په زینب کې هرڅه له منځه تللي. د هغه جادويې کتلو اثر يې په سترګو کې نه ليدل کېده کوم به، چې کله محسن د هغې په سترګو کې ډوب شو نو ټوله نړۍ به ورڅخه هېره شوه اوس هغه اغېزه نه وه پاتې. کتل يې بې روحه او بې اغېزې وو. غمجن او يوازې، ښکلې سترګې يې تشې وې له صفا، مينې ژوند او محبت څخه، کرکې يې ټول بدن کابو کړی و او دا ټول هغه څه وو، چې محسن يې ډېر زوراوه. محسن خپل ځان ګرم ګڼه داسې يې انګېرل، چې د زینب د خوښيو قاتل زه يم. که يو څو ورځې وړاندې راغلی وای نو دا هرڅه نه پېښېدل. سترګې يې تردېدمه لا د زینب په سترګو کې ګنډلې وې ويې ويل: زینب کولی شم یوځل دې بيا ووينم؟ زینب سر ټيټ کړ هېڅ يې ونه ويل. محسن وويل: زه نن ښار ته ځم نه غواړم ستا د قربانولو په جشن کې تماشا چي اوسم. څو ورځې هلته پاتې کېږم. ته زما په اړه اندېښنه مه کوه. زینب په چټکۍ سره له کوره ووتله.
ورځ له نیمایې اوښتې وه په کلي کې د خوښۍ شور ماشور جوړ و. د کليوالو ښځو د ډنګ او ډونګ غږونو ان بوډاګان مست کړي وو او نڅا ته يې پورته کړي وو. زینب غلې وه، خبرې يې نه کولې، ژړل يې هم نه، د سترګو چینه يې وچه شوې وه. کلیوالو ښځو او سړو هڅه کوله تر څو د واده مراسمو ښکلا نوره هم څوچنده کړي؛ خو زینب لپاره دې شوراو غوغا داسې رنګ درلود لکه په مرداره مچان چې راتاو وي او هر يو د بریالیتوب هڅه کوي. يوه کليواله زینب ته نږدې شوه او ويې ويل:

عباسقلي ډېر ناکراره دی خوب او ارام ورڅخه تا ورې. زینب ډېره په غوسې شوه؛ خو هېڅوا هم کوم غبرګون ونه ښوده. لمر هم ورو ورو خپلې زرینې وړانګې راټولولې. د ورځې واکمني یې شپې ته سپارله. ښایې لمر هم د دې توان نه درلود، چې د دوو میتانو بېلتون دې وزغمي؛ خو داغروب د زینب د خوښۍ او د ژوند غروب و. شېبه په شېبه خلک رازیاتېدل هر لوري نه د خوښۍ او خوشالۍ غږونه پورته کېدل. ټول په زینب راټول وو او د زوم کره وړلو لپاره یې چمتو کوله. د واده سپینې جوړې سره زینب څومره ښکلې ایسېده، لکه د یوې پاکې ملایکې او حورې په څېر. نور یې د تورو غټو سترګو څخه اوښکې نه بهېدلې. نه یې غوښتل د کوم څه په اړه فکر وکړي. نور ورته ژوند ارزښت نه درلود. نړۍ ورته د یوه تور او تیاره ګور په څېر ښکارېده، چې خوله یې خلاصه نیولې او غواړې دا له ستوني تېره کړي. هغې چې هرڅه یې له لاسه ورکړي وو، ولې یو ناڅاپه له یوې عجیبې وېرې او پرېشانۍ سره لاس اوګرېوان شوه. په زړه کې یې شور او ماتم څپې وهلې. شېبه په شېبه یې په زړه کې وېره زیاتېدله. د ورا خلکو په خوښۍ، خندا، شور اوغوغا سره ناوې د زوم کور ته ورسوله.

عباسقلي له ډېرې خوښۍ په جامو کې نه ځایده. خوله یې له خندا نه راټولېدله. د کلیوالو په خبره د نړۍ تر ټولو ښکلې ناوې یې په برخه شوې وه. د کلي په ځوانانو کې یې ویاړ کاوه، چې د نړۍ تر ټولو ښکلې ناوې لري او ځوانانو هم، چې دا ښکلې ناوې یې لیدلې وه له عباسقلي سره او هغه چانس یې، چې په برخه شوی و بخیلي کوله. مریم لکه د طاوس داسې سینګار کړی و د خپلې مینې او خوښیو کورته د تک لپاره یې شېبې شمېرلې. په ډېر غرور سره د وریندار کوټې ته راغله. خوله یې له خندا ډکه وه زینب یې په مخ ښکل کړه. عباسقلي یې له لاسه

ونیو او د زینب په څنګ کې یې کېناوه. د خندا په څپو کې یې وویل: مخکې له دې، چې ما هم خپل کورته پوسي غواړم تاسې دواړه هم د شوخۍ او خندا په حالت کې ووینم. وګورم څومره مینه سره لرئ زما او رحیم په کچه او که ترهغې لږه یاډېره زموږ مینه خوان له کچې هم وتلې.
د عباسقلي پېړ او بدرنګه لاس یې را واخیست او د زینب په ښکلي لاس یې کېښوده. زینب په تاو سره د عباسقلي لاس له خپل لاس څخه لرې کړ او په کرکجن انداز یې هغه ته وکتل. ژر یې سترګې پټې کړې ترڅو د هغو دواړو شومه څېره ونه ویني؛ خو مریم ورڅخه لاس نه اخیست. ویې ویل: زینب که زما ورور سره خبرې ونه کړې نو زه به یې ستا له ورور څخه ضرور غچ اخلم.
لاس یې پوته کړ ترڅو یو ځل بیا د زینب لاس ونیسي. د زینب په زړه کې عجیبه غوغا پارېدلې وه، یو ناڅاپه د محسن ښکلې څېره یې د سترګو پر وړاندې انځور شوه. زړه کې یې اندېښنه شیبه شیبه ډېریده له ځان سره یې وویل: (نه پوهېږم ولې مې زړه بده ګواهي راکوي نه، چې محسن ته کوم څه پېښ شوي وي هغه خو به په کومه ستونزه کې نه وي.)
دا لا په خپلو سوچونو کې وه، چې مریم یوځل بیا لاس وراوږد کړ. زینب وړاندې ناڅاپه چیغې کړې: ما په خپل حال پرېږدئ نور نو راڅخه څه غواړئ، هر څه خو مو راڅخه اخیستي. اوښکې یې په مخ رواني شوې.
مریم ولې پورته وغورځول او ویې ویل: بخښنه غواړم زما ښایسته ورینداره. ډېره مې وځورولې. نور یې نو په ناز د نېکمرغۍ پر لور وزرې وغوړولې او لاړه ترڅو د نېکمرغۍ ښکلې مرغۍ په غېږ کې ونیسي. د زینب د ژوند له لاسه ورکولو شپه، توره او تیاره شپه، بې پایه، د یوانځېتوب او سکوت شپه پای ته ورسېده. توره او کرکجنه شپه ورو ورو رڼا شوه. د لمر وړانګو په ټولو ځایونو واکمني کوله او ټول ځایونه

یې یوځل بیا روښانه کړل؛ خو د زینب په زړه لا هماغسې تیارې واکمنې کوله، نړې هرڅه ورته تور برېښېدل. د کلي خلک ګېډۍ ګېډۍ د ناوې او زوم لیدوته راتلل؛ خو زینب ډېره خپه او رنګ یې الوتی و. له هېڅ سره یې خبرې نه کولې او نه یې هم د هغوی مبارکۍ ته کومه پاملرنه کوله، د ټولو څخه یې کرکه کوله. سترګې یې تروږمې یوې او بلې خواته د کوم څېز په لټه کې وې. هغې زهرا لټوله خپله د ژغورلو پرښته یې لټوله.

نږدې ماسپښین و نور یې نو د دې حوصله نه لرله، چې له خلکو سره دې کېني. زهرا یې هم لیدو ته نه وه راغلې زړه یې یوې مرموزې اندېښنې ځېراوه. له ځایه پورته شوه او د یوې داسې کوټې په لټه کې شوه ترڅو په هېڅ یې سترګې ونه لګي. سر یې هم ډېر درد کاوه یوناځاپه یې په لیلا سترګې ولګېدې. د هغې خواته په منډه شوه یو ګوښه ځې ته یې یوړه او ورته یې وویل: لیلا یوه هیله درڅخه لرم په هر ډول، چې وي یوځل د زهرا کور ته لاړه شه او ورته ووایه که شونی وي یوځل دې دلته زما لیدلو ته راشي.

لیلا وویل: ښه ده زه همدا اوس ځم په منډه له کوره ووتله. زینب هم د لیلا له تللو څخه وروسته یوې تشې کوټې ته لاړه او ور یې ځان پسې وتاړه. مرموزې اندېښنې یې په زړه وزرې غوړولې وې. په زړه کې یې یو عجیبه شور را پارېدلی و ټول بدن یې په ډاګه لکه د پاڼې داسې رپېده. هرڅومره هڅه یې کوله ترڅو ځان کنټرول کړي؛ خو ونه توانېدله. خدایه دا څه شوي د محسن لیدو پسې یې زړه بېوا که ټوپونه وهل؛ خو بې ګټې و، ځکه محسن ښار ته تللی و او د څو ورځو لپاره همدلته پاتې کېده؛ خو نه پوهېده، چې زهرا یې ولې لیدو ته نه راځي. عادت شوې وه هره ورځ به یې زهرا لیدله ورځ به وریاندې نه تېرېدله، چې کومه ورځ دې ونه ویني،

ځکه زهرا د دې د ماشومتوب ملګرې وه او تل به سره یوځای وې، که به خپه وه نو خپګان او که به خوشاله وه؛ نو خوشالي به یې ورسره شریکوله. زینب کومه خور نه لرله خو تردې دمه یې بې خوري نه وه احساس کړې؛ ځکه زهرا هغې ته له خوره هم ډېره نږدې او ګرانه وه. نه پوهېده، چې نن یې ولې لیدلو ته نه ده راغلې څه پېښ شوي. ولې نه راځي. اندېښنو یې لکه د غنې داسې په ټول وجود کې تار ځغلولی و. نه پوهېده ولې دونه اندېښمنه ده.

کله به، چې محسن پسې خپه شوه نو هغه ناوکی، چې د محسن د ماشومتوب د لاس نښه وه او هم یې سترګې د محسن په څېر سترګې شنې وې هغې سره به یې خبرې کولې. هغه د محسن ډالۍ وه ډېره وریاندې ګرانه وه. له ځان څخه به یې هېڅ نه لرې کوله؛ خو اوس. چې کوټه له کلیوالو ښځو او ماشومانو څخه ډکه وه او د ناوې او زوم لیدلو ته راغلي وو څنګه د ټولو په وړاندې له هغې سره زړه خواله وکړي. ایا په دې کار سره به هغوی دا هوښیاره ګڼله د دې په اړه به یې څه خبرې کولې؛ خو نور ورته دې هرڅه کوم ارزښت نه لاره، چې د دې په اړه څه وایې. په کومه سترګه ورته ګوري. د ځواب ویل حوصله یې نه لرله، چې د خلکو پوښتنو ته دې ځواب ووایې. نیمه ګړۍ لا نه وه تېره شوې، چې لیلا ډېره پرېشانه او په الوتي رنګ سره راښکاره شوه. زینب ډېره ورخطا شوه په منډه یې ځان ور ورساوه. په وېرې سره یې پوښتنه وکړه. لیلا څه خبره ده هیله کوم رښتیا راته ووایه څه ټکه رالوېدلې؟ لیلا په زړه لاس کېښود او ویې ویل: هېڅ هم نشته خو په منډه راغلم نو زړه مې لږ څه ستړی شو. شېبه وروسته یې وویل: زینب زهرا ویل. نن مې لږ څه کار درلود نو و مې نه شول کولی ستا لیدلو ته راشم. که خېر وسبا ته ضرور راځم.

زینب خپلې کوټې ته د تللو په حالت کې وه ویې ویل: مننه لیلا، خیر تر سبا به ورته صبر وکړم.

څو گامه لا نه وه تللې بېرته راوگرځېده د لیلا سترگو ته ځیر شوه او ویې ویل: لیلا زما زړه یې نه مني. تاماته رښتیا نه دي ویلي داخبرې مې په زړه کېنه ناستې، داهرڅه، چې تا وویل. ټول دروغ دي. رښتیا ووایه هیڅ شونې نه ده، چې زهرا دې داسې ووایي. هیله کوم رښتیا ووایه څه خبره ده. زړه مې نور مه ځوروه.

لیلا د زینب دا حالت نور نه شو زغملی ور نږدې شوه او ویې ویل: راځه زینب کوټې ته ځو د خلکو پر وړاندې یې نه شم ویلی. نوموړې یې له لاسه ونیوله اوکوټې ته یې وبوړه. د کوټې په یوه څنډه کې، تخت پروت و هلته دواړه په تخت کېناستې، لیلا وویل: زینب ته غلې شه زه به هرڅه درته ووایم؛ خو یو شرط به مې هم منې، چې هیڅ کوم شور به نه کوې او نه به هم خلک په ځان خبروې.

زینب ډېره بې کراره وه له ځایه پورته شوه او ویې ویل: لیلا ولې خبره تېروې، هیله کوم هرڅه راته ښکاره ووایه.

لیلا وویل: په څه ډول یې درته ووایم په خولې مې نه راځي. پرون شپه یې، چې ځنگه ته ناوې کړې محسن... زینب ور وړاندې شوه په چیغو یې وویل: پرون شپه څه؟ په محسن څه شوي؟ هیله کوم ژر یې ووایه لیلا یې له مټ څخه ټینگه ونیوله او په هغو سترگو، چې زارۍ ورڅخه ځېپې وهلې او د لیلا زړه یې درداوه د لیلا خولې ته ځیر شوه: خو په دې وخت کې د عباسقلي د مور غږ، چې زینب یې غوښتله ترغوږ شو. لیلا هڅه کوله، له زینب څخه ځان خلاص کړي. د دې خبرې توان یې نه درلود، چې زینب دې وړاندې خبره کړي. ځان یې د وره خوا ته راښکوده خو زینب ټینگه ونیوله او ویې ویل: ترڅو یې چې ونه وایې په محسن څه

شوي تر هغې دې نه پرېږدم. لیلا سر ټیټ ونیو او ویې ویل: محسن پرون شپه ټکر کړی؛ خو اوس یې حالت ښه دی.
د ټکر کلمې د زینب په غوږو کې انګازې وکړې. ځو ځله یې د ټکر کلمه ترغوږ شوه سر ورياندې و ګرځېده. ژړه یې په ټوپونو شو، رنګ یې تک سپین واوښت یو ناڅاپه په ځمکه ولېدله. لیلا د دې په لیدو ډېره ورخطا شوه ژر یې د عباسقلي مور راخبره کړه.
زینب بې هوښه شوه ټولو په منډه ځانونه کوټې ته را ورسول. د ګلاب ګلان یې ورته په مخ وشیندل او چا یې پښې او لاسونه مږل؛ خو هېڅوک په دې نه پوهېدل، چې ولې زینب یوناڅاپه بې هوښه شوه.
وروسته له څو ساعتونو د زینب حالت لږ څه ښه شو سترګې یې وغړولې لیلا په هماغه شېبه، چې زینب بې هوښه شوه له وېرې کور خوشې کړ ترڅو ښځې ورڅخه پوښتنې ونه کړي، چې د دې هرڅه لامل څه و؟ خو د زینب په اړه ډېره اندېښمنه وه. خپله وره خور یې د هغوې کورته ولېږله.
ترڅو د زینب خبر ورته راوړي. زینب، چې څنګه په هوښ راغله د ټکر کلمه یې د ژبې لاندې ویله. خو غږ یې دومره ټیټ او ستومانه و، ان خپله یې هم نه اورېده.
کله یې، چې حالت ښه شو د څو شېبو وړاندې پېښه یې د سترګو پر وړاندې انځور شوه ویې وویل: لیلا څه شوه، چېرته لاړه، هیله کوم هغې ته غږ کړئ تر ماپورې راشي؛ خو لیلا هېڅ نه ښکارېده، یوې ښځې د لیلا خورته وویل: ژر ورشه لیلا خبره کړه او ورته ووایه، چې زینب دې غواړي؛ خو د لیلا خور په هرڅه پوهېده ویې ویل: لیلاخو په کور کې نشته د سیند غاړې ته د اوبو پسې تللې. نور یې په منډه ځان خلاص کړ ترڅو د زینب د جوړېدلو خبر لیلا ته ورسوي. عباسقلي د زینب له بې هوښۍ څخه ډېر په اندېښنه کې و په څنګ کې یې کېناسته د هغې

لاسونه یې په خپلو لاسو کې ونیول او ویې ویل: څه وشول زینب؟ خو له ځان سره داسې وانګېرل، چې تر ټولو ډېره کرکه له عباسقلي څخه لري. خپل لاس یې ورڅخه لرې کړ، مخ یې ورڅخه تاو کړ او نه یې هم د هغه پوښتنې ته کوم ځواب ورکړ.

ښځو هرې یوې له ځانه سره څه ویل: هرې یوې به له ځانه بېلا بېل لاملونه د زینب بې هوښه کېدو په اړه ویل. هره شېبه لکه د کال په زینب داسې اوږده تېرېدله، وخت په ورو تېرېده. له ځان سره یې وویل: که زه نه وی نو دا ټکه به په محسن نه راولېده.

هغه دې حالت ته ما ورساوه، د دې ټولو ستونزو لامل زه یم. که په محسن څه شوي وي نو زه به هم ځان ووژنم بیا نو نه له دوزخ، نه له خدای او نه هم له هېچا څخه وېرېږم. هو ځان وژنم بویه، چې ژوندی پاتې نه شم. نور نو په نړۍ کې څوک لرم مرګ راته ډېر خوږ خو ژوند راته تریخ شوی.)

غوښتل یې ټول ورڅخه لاړ شي او دا یواځې له خپلو غمونو سره پرېږدي ترڅو په کړیکو وژاړي په ژړا سره خپل زړه تش کړي. نږدې و، چې غم، وېرې، درد او رنځ یې لېونی کړي هېڅوک نه و، چې خپل د زړه حال ورته ووایې. خپل غمونه ورسره شریک کړي. له ځان سره یې وویل: (ای خدایه! په محسن څه ټکه رالوېدلې ده، نه پوهېږم څه وکړم، څومره کلک ځان لرم ولې نه مړه کېږم، زه نوره له دې ژوند څخه، چې ټول درد، غم او کړاو دي ډېره ستړې شوې یم. څه وخت به د ژوند له کړاونو څخه خلاصی مومم.)

لیلا، چې وپوهېدله زینب اوس ښه شوې، د عباسقلي کوړته راغله. زینب د لیلا په لیدلو اوچته له ځایه پورته شوه، خو پښو یې د تلو توان نه درلود، دېوال یې کلک ونیوه. یوې ښځې غوښتل مرسته ورسره

وکړي؛ خو دې لېپاره دا هرڅه بې ارزښته وو. ان ادب، اخلاق او احترام داهرڅه یې بې ځایه او لیونتوب ګڼه. په ګواښ سره یې وویل: هیله کوم لاس مه راوړه ما یواځې پرېږده. ټولې ښځې له کوټې څخه ووتلې. عباسقلي هم ولیدل هغه ډېره خواشیني ده نو پورته شو او د مېلمنو خوا ته ولاړ.

کله، چې زینب او لیلا په کوټه کې یواځې پاتې شوې. زینب نور د ژړا توان نه لاره په ضعیفه غږ یې و پوښتل: لیلا هیله کوم اوس راته هرڅه رښتیا ووایه.

لیلا وویل: لیلا ځواب ورکړ په سترګو په خبرو یې پیل وکړ او ویې وویل: کله، چې پرون شپه محسن غوښتل ښار ته لاړشي په لاره کې یې له موټر سره ټکر وکړ. ډرېور هغه په خپل موټر کې روغتون ته ورساوه او نن سهار یې کورته راغلی ، چې هغوی ته خبر وکړي او هم یې د محسن مور، پلار او زهرا له ځان سره ښار ته وېوړل. کله، چې زه ورغلم زهرا ته ووایم ته یې غواړې؛ نو په کور کې یې هېڅوک نه وو د هغوی له ګاونډې څخه مې پوښتنه وکړه دا هرڅه راته هغې وویل.

زینب وویل: لیلا زه اوس څه وکړم د دې ټولو بدبختیو لامل زه یم که زه نه وای دا هر څه به محسن ته نه پېښېدل. هغه به ولې ښار ته تللو. لیلا زینب ته ډاډ ورکاوه هرڅه به ښه شي او که د محسن هرخبر راغی؛ نو ضرور به یې زه تا ته دررسوم.څو ورځې تېرې شوې نور نو زینب د کلي هغه پخوانۍ مسته او شوخه نجلۍ نه وه. هغه نجلۍ خو لا په هماغه ورځ مړه شوه کوم، چې د عباسقلي سره یې واده کولو ته غاړه ایښې وه. اوس یې نه هغه ښکلا پاتې وه او نه هم هغه سترګې، چې رڼا به یې کوله. ښکلې سترګې یې بې روحه او نمناکه وې، لاسونه یې رېږدېدل، د تګ په وخت کې به یې هډوکو له ډېره درده شغار کاوه، دردونکي درد یې په

ټول بدن واکمني کوله، تل به يې ځان تود و تبه يې لرله، له چا سره به يې، چې خبرې کولې د خبرو کولو په ترڅ کې به يې بېواکه ژړل، نور نو هېڅ شي ورته ارزښت نه درلود، بس ټوله ورځ به يوازې زهرا ته سترګې پر لاره وه.

يوه مياشت د محسن په بېلتون کې په اور سوځېدله په دې يوې مياشت کې نه د محسن کوم خط راغی او نه هم کوم خبر، د محسن کورنۍ هم همالته په ښار کې له محسن سره وه او کلي ته هېڅ نه وه راغلې. د زينب لپاره يوه شېبه لکه د يوې پېړۍ داسې تېرېده. مور يې هم د لور په حالت، چې څنګه په دې يوې مياست کې رژېدلې او بې حاله ده ډېره زورېدله، پلار يې هم اوس ډېر پښېمانه و، چې د لور د ګل په څېر ځواني يې په خپلو لاسونو داسې پانه پانه کړه. د زينب د بدمرغۍ او فلاکت سيورې د رحيم په ژوند او زړه، چې د ګل په څېر خور يې د خپلې ميني قرباني کړه دروند والی کاوه. کله به رحيم د خور په رنځ او درد دومره خواشينی کېده، چې ان له مريم او د هغوې له ټولې کورنۍ څخه، چې د زينب روح د وژل کېدو لامل وو په زړه کې کرکه پيدا شوه؛ خو اوس وخت له وخته تېر و هېڅ يې له وسې نه کېده هغه څه، چې بويه نه وای شوای اوس شوي وو. رحيم د خپل وجدان د عذاب لاندې و، وجدان يې ارام نه لاره يو نا اټکل شوي رنځ زوراوه. په دې يوې مياشت کې زينب ته د محسن هېڅ کوم خبر رانه غی او دا ورته ډېره دردونکې او د نه زغملو وړ وه.

د زړه توان او ځواک يې له لاسه ورکړی و اوس نو ټول د دې د زړه له رازه خبر شوي وو. ټول په دې پوهېدل ولې يې ښکلی وجود لکه شمع داسې ويلې شو؛ خو ټولو ځانونه ناګاره اچول هېڅ کومه مرسته يې ورسره نه کوله، څو ځلې رحيم هوډ وکړ، چې ښار ته د محسن ليدلو لپاره لاړ شي؛

خو د محسن له مخ څخه شرمېده د هغه د دې حالت لامل همدی و؛ نو ځنګه به یې ورسره سترګې مخ کړې وای. همدا لامل و، چې بېرته به له خپله هوډه واوښته. په هغه ورځ زینب داسې وانګېرله، چې نوره نه شي کولی تل دې په کور کې کېني. زړه یې غوښتل د سیند غاړې ته لاړه شي هغه ځای یې نن ډېر په زړه راورېده. ناروغی، چې ډېره کمزورې کړې وه په رېږدېدلي ګامونو د عباسقلي مور ته ورغله او ورته یې وویل: زه نن سیند ته د اوبو پسې ځم ښایې که هوا بدله شي او حالت مې لږ ښه شي. یوازې روانه شوه د عباسقلي مور وړباندې غبږ وکړ لږه شېبه وار وکړه، چې څوک درسره ولېږم حالت دې ښه نه دی.

_ نه مورې یوازې تللی شم اند ېښنه مه کوه.

له کوره یوازې ووتله کله یې، چې د لومړي ځل لپاره پښه په کوڅه کې کېښوده؛ نو داسې یې وانګېرل، چې د کلونو کلونو بندی دې له زندانه راخوشې شوې وي. غمجنه او ناروغه یوازې په لار روانه وه. د خلکو اله ګوله وه په ځنګ کې یې تېرېدل راتېرېدل؛ خو دې ورته پام نه کاوه او نه یې هم په افکارو کې د ماشومانو شور ماشور کومه اغېزه ښندله. ګنګس او بې حاله وه. ټول وجود یې سست او ستومانه و. یو عجیبه درد یې په سینه کې احساسوه او دایې ډېره زوروله. ورو ورو به یې ګام اخیسته یوه شېبه به ودرېده ستومانتیا به یې وایستله، سا به یې په سینه کې دروندوالی کاوه. دوه کلیوالې ښځې یې له ځنګه تېرې شوې کوم څه یې سره وویل؛ خو زینب هېڅ ارزښت ورنه کړ او نه یې هم پرې پام غلط کړ، (یوې وویل: خوارې له کله راهیسې یې، چې واده کړې ډېره خرابه شوې هغه پخوانی ځواني یې له لاسه ورکړې)

بلې یې وویل: (مریم لکه د ګل داسې غوړېدلې ورځ تر ورځ یې رنګ ښه کېږي.)

زينب ورو ورو تله د څو شيبو لار يې په څو ساعتونو کې ووهله څو د سيند غاړې ته ورسېدله. له ډېرې ستومانتيا څخه د سيند غاړې په وښو وغزېدله. وروسته له څو شيبو، چې حالت يې لږ څه ښه شو سيند غاړې ته لاړه په يوه تيږه کېناسته لاس يې په اوبو کې ډوب کړ، سترګې يې د سيند په مستو څپو کې خښې کړې. په يوه ځای کې اوبه غلې روانې وې خپله څېره يې په اوبو کې وليده له ډېرې وېرې يې سترګې پټې کړې، له بې روحه سترګو څخه يې اوښکو خپله خپلواکي ترلاسه کړه. له سترګو څخه يې يوڅاڅکی اوښکه د سيند په اوبو کې ولوېده سيند هم په خپله پراخه غېږ کې پنا ورکړه له ځان سره يې لرې يوړه. د ماشومتوب هغه ښکلي خواږه يادونه ورته د سترګو پر وړاندې انځور شول کله به، چې دې او محسن لوبې کولې؛ نو دواړه به د سيند غاړې ته را تلل په لمدو وښو به سره پرېوتل ساعتونه به يې هملته تېر کړل. د درې يا څلور کلنۍ څخه به، چې دواړه سره يوځای شول نو له ټولو لوبو څخه به ورته همدا يوځای والی په زړه پورې و. محسن به ورته خوږې خوږې کيسې کولې هره شپه يې له خپلې مور څخه غوښتل، چې ورته کيسه وکړي کله به يې، چې مور ورته کيسه وکړه نو دې به ورته غور سره غوږ اېښی و بيا به يې سهار زينب ته کوله او هم به يې هڅه کوله هغه څه، چې په ښونځي کې زده کوي هغه زينب ته هم ور زده کړي. پوهه يې په يوې اندازې زده کوله يوځای به سره پر مخ تلل. که به د محسن کوم خواږه خوښېدل؛ نو زينب به هم هماغه خواږه خوړل او که زينب به کوم څه نه خوړل؛ نومحسن به هم هغه خواږه نه خوړل. څومره به، چې لويدل مينه او لېوالتيا به يې نور هم ډېرېده. هغه وخت يې رایاد کړ کله، چې لس کلنه شوه يوه ورځ يې ورته پلار وويل: لورې ته اوس لس کلنه يې

محسن هم څوارلس کلن دی دواړه شکر غنې یاست نوره محسن سره هرې خواته مه ځه.

ـ هغه ټوله ورځ یې تر ماښامه وژړل، په ورې خبرې به یې بهانه لټوله. ډوډۍ یې هم ونه خوړه په یوه ګوښه ځای کې یوائې ناسته وه له هېچا سره یې خبرې نه کولې. دا ورځ وریاندې ډېره اوږده شوه کله یې، چې پلار راغی پوښتنه یې ور څخه وکړه ولې ډوډۍ نه خورې او ځان ته ناسته یې د دې خبرې په اورېدلو یودم په ژړاشوه مور یې رامنډه کړه هغه یې په غېږ کې ونیوله او ویې ویل: څه خبره ده لورې ولې ژاړې؟ زینب همداسې ژړل او سلګو د خبرو وار نه ورکاوه، ویې ویل: محسن پسې خپه یم ډېر مې یاد پرې. که محسن ونه وینم؛ نو زه هم ژوندۍ نه شم پاتې کېدلې زه هره ګړۍ او هره شیبه باید چې محسن ووینم.

پلار یې وخندل هېڅ باور یې نه کېده، چې دومره وړه عاشقه دې په داسې سپین سترګۍ او ګستاخۍ سره له خپل محبوب څخه دفاع وکړي ور ویې کتل. د زینب واړه لاسونه د محسن دفاع لپاره له هرخنجر څخه تېره او له هرې ژبې څخه ګویا وو. کله چې د زینب پلار د دې ماشومې صداقت او ربښتیني مینه ولیده؛ نو ویې نه شول کولی، چې په خپل دغه تعصب باندې ودرېږي همداو، چې ویې ویل: ستا دا دومره ماتم یوائې د همدې خبرې لپاره و، چې ماویلي وو ته به نوره له محسن سره نه ګورې او نه به ورسره ګرځې، چې داسې ده مورې ستا خپګان او ویر نه شو زغملی ځه ورځه د خپل ګران محسن زیارت دې وکړه. اوس، چې ستا د رنځ دارو دومره اسانه دي؛ نو مورې یې ولې درڅخه وسپمو.

زینب د پلار له دې خبرې سره لکه ټوله نړۍ یې، چې ورکړي وي له ځایه پورته شوه، د هغه په غاړه کې یې ځان وغورځاوه او په څو څو کراتو یې د هغه مخ ښکل کړ او پرته له دې، چې کوم څه په پښو کړي لوڅې پښې له

کوره ووته او په منډو شوه، پلار يې ورغږ کړ لورې را وګرځه ته؛ خو په سرې تبه کې سوزې راشه مور دې کوم درمل يا نور څه درکړي؛ خو زينب لکه د مينې کوترې په څېر وزرونه غوړولي وو لاړه والوته، په کوټه کې يې منډې وهلې او سترګې يې هرې لور د کوم ورک شوي شيز په لټه وې او نه يې هم له دې خبرې څخه، چې په کوټه کې لوڅې پښې منډې وهي وېره لرله. کله، چې د محسن کور ته ورسېده دروازه خلاصه وه زړه يې لکه د ټپي مرغۍ په ګوګل کې ټوپونه وهل. کورته په منډه ننوتله په انګړ کې د محسن له پلار سره څو کسان ناست وو او مور يې په پخلنځي کې د کوم څه په پخولو بوخته وه او زهرا هم کور جارو کاوه. د زينب سترګې سرګردانه د محسن په لټه وې. محسن د کوټې په مخکې په چوتره په سوچونو کې ډوب او سر په زنګون ايښې و زينب په منډه ځان وروورساوه او هغه يې ټينګ په غېږ کې ونيوه په مخ او سر يې ښکل کړ. محسن هم په غېږ کې ټينګه کړه د هغې واړه او ښکلي لاسونه يې په خپلو لاسو کې ونيول او دواړه څرخېدل. محسن هېڅ باور نه کاوه ويې ويل: زينب څنګه دې وکولای شول، چې د پلار له اجازې پرته راشې؟

_ زه پرته د هغه له پوښتنې نه يم راغلې دومره مې وژړل، چې ان ناروغه شوم او ډوډۍ مې هم نه خوړه پلار مې زما د حالت په ليدلو دې ته اړ شو، چې ما ته اجازه راکړي، چې ستا خواته راشم. ما مې خپل پلار ته وويل: هره شېبه او هره ګړۍ بويه زه تا ووينم؛ نوره به هېڅکله له تا څخه نه جلا کېږم.

ښه دې وکړل زينب، چې راغلې که رښتيا ووايم ما هم ستا بېلتون نه شو زغملې پرته له تا څخه راته ژوند ډېر ګران دی. د محسن پلار او هغه مېلمانه، چې ورسره ناست وو د دې دوو مينانو د خبرو په اورېدلو يې په سترګو کې اوښکې راغلې. محسن زينب له لاسه ونيوله دواړه کوټې ته

په منډو ستانه شول محسن غوښتل، چې د خپل برې خبر خپلو همزولو ته هم ورسوي. دوی په منډو روان وو، چې يو ناڅاپه د زينب په پښه کې د تيږې يوه ټوټه لاړه محسن په احتياط سره هغه تيږه د زينب له پښې څخه راو ايستله او د خپلو پښو بوټان يې هغې ته ور په پښو کړل. دې دوه مينانو په هماغه ورځ د هجران تريخوالی وڅکه؛ نو له بېلتون څخه به ډېر دارېدل. که يوه شېبه به هم سره لرې وو وېرې او وحشت به يې په ټول بدن واکمني کوله ډېر به يې زورول او کله به يې چې له يو بل سره وليدل خپلې کيسې به يې کولې، چې څنګه ورياندې دا ترخې شېبې تېرې شوي. د زمانې له تاړاکونو څخه به يې سرټکاوه، چې دوی يې يوه شېبه سره جلا کړي وو؛ خو اوس د تقدير لوبه ګوره، چې دوی يې د تل لپاره تر ابده سره جلا کړي د بېلتون په اور کې به سوزي او پرته له سوزېدلو بله لار هم نه لري. زينب ډېره پرېشانه وه له لرې څخه د موټر غږ راغی دغه غږ ورو ورو دې خواته رانږدې شو او د زينب پرېشانۍ يې نوره هم پسې زياته کړه، دې غږ زينب د ماشومتوب له خوږو يادونو څخه رابهر کړه موټر د دښتې له زړه څخه د سيند غاړې ته را نږدې شو څو ګامه وړاندې له زينب څخه ودرېده زهرا، چې له لرې څخه زينب ليدلې وه، له موټره پلې او د زينب خواته په منډو شوه له لرې يې زينب ته چيغې وهلې زينب، چې د زهرا غږ واورېد له ځايه راپورته شوه په سترې او ناتوانه ګامونو د هغې پر لور وخوځېده څو ګامه لا نه وه تللې؛ چې پښې يې سستې شوې د تللو ځواک يې له لاسه ورکړ، ناچاره په خپل ځای ودرېدله. زينب، چې د زهرا څېرې ته وکتل هغه يې سمه ونه پېژندله زينب د جسم له پلوه ډېره ضعيفه شوې وه خپل ټول بدني ځواک يې له لاسه ورکړی و زهرا، چې زينب ته نږدې شوه په هغې يې سترګې ولګېدلې يو ناڅاپه يې ټکان وخوړ ځای پرځای ودرېده د هغې الوتې

بنې او خزان شوې څېرې ته یې یوه شېبه ښه په ځېر وکتل، له ځان سره یې وویل: ایا زه خو به تېروتې نه یم، دا به زینب وي زینب، چې کله ولیدل زهرا زړه نا زړه ده په هغې یې غږ کړ او ویې ویل: زهرا ته حق لرې، چې ما ونه پېژنې، هو ګرانې زه زینب یم ستا بدمرغه، ناتوانه او یواځې ملګرې.

زهرا، چې له سترګو نه یې د اوښکو لښتي روان وو زینب یې ټینګه په غېږ کې ونیوله دواړو یوه بله ښکلولې. زهرا وپوښتل: څه یې دریاندې کړي، چې دومره رنځوره او ناتوانه شوې یې.

زینب وویل: لومړی ماته ووایه اوس محسن څنګه دی؟ زهرا چې یوه شېبه یې هم سترګې له زینب څخه نه اړولې وویل: اوس هغه ښه شوی.

زهرا هکه پکه وه، چې په دې یوې میاشت کې څنګه زینب دې حالت ته رسېدلې ده، ولې دومره ژړیې هغه ښکلې ځواني د خزان څپو وهلې او دا یې دومره مړاوې کړې. زینب هم لکه د مړي خپلې بې روحه سترګې په زهرا کې ګنډلې وې. یو سوړ اسویلی وکړ بیا یې ځان د زهرا په غېږ کې وغورځاوه دواړو په چیغو چیغو ژړل د زهرا مور او پلار، چې په موټر کې ناست وو هغوی هم په ژړا شول، ډرېور هک پک پاتې و نه پوهېده، چې ولې دوی ټول ژاړي چو په خوله کله به یې یوه ته کتل او کله هم بل ته؛ خو هېڅ یې نه پوښتل، چې څه خبره ده. له څو شېبو وروسته زهرا ډرېور د ګوتو په اشاره وپوهاوه څو هغوی لاړ شي او دېته دې نه کېني. زینب یې له لاسه ونیوله د سیند د غاړې ونو منځ ته یې له ځانه سره بوتله. په یوه تیږه دواړه کېناستلې. زهرا ورته د هغې ورځې په اړه داسې وویل: په هغه ورځ، چې ستا واده و محسن له ډېر خپګان څخه په ځان نه پوهېده موټر یې ډېر تېز چلاوه ستا او خپل تیاره راتلونکې په اړه په سوچونو کې ډوب و، چې یو لوی موټر ورته نږدې شو، محسن خپل کنټرول له

لاسه ورکړی و او په همدې وخت کې يې ټکر وکړ. تردغه دوه ورځې مخکې پورې بېهوښه و څنګه، چې په هوښ راغی پرته ستا له نوم څخه نور هېڅ يې نه ويل. ته به يې ډېره يادولې ډاکټرانو وويل: نور نو کوم خطر نشته هغه اوس ښه دی، زينب هم په دې يوه مياشت کې تو خې ډېره ځوروله او اوس هم تو خې د خبرو وار نه ورکاږه. زهرا وويل: موږ په دې دوه درې ورځو کې بويه بېرته ښارته لاړ شو. زينب د زهرا خبرې ښه په غور سره اورېدلې او له اوښکو سره يې بدرګه کولې. شکر يې وايست. تو خې يې شېبه په شېبه زياتېده د خبرو وار يې نه ورکاوه په ډېر زحمت سره يې وويل: محسن به څه وخت له روغتون څخه رخصت کړي؟
زهرا وويل: نه پوهېږم خو ډاکټران وايي څو مياشتې نور دې هم بويه په روغتون کې پاتې شي. زينب په ناهيلۍ سره وويل: څو مياشتې! زينب نو نوره تو خې ډېره په تنګ کړه يوه خبره يې له خولې څخه نه وتله.
زهرا وويل: اوس ته ووايه ولې داڅه درباندې شوي؟
زينب وويل: د سينې درد مې ډېره ځوروي. يو مرموزه درد د هر هډوکي په بندبند کې حس کوم تو خې مې دومره ډېر دی، چې ان يو ګوټ اوبو ته مې هم نه پرېږدي، چې له ستونې يې تېرې کړم. غم او اندېښنه خو مې لا پر ځای پرېږده. که کلونه کلونه د ناروغۍ په بستر کې پرته وای هم به يې دومره نه وای زورولی، لکه څومره چې د محسن يوې ورځې بې خبرۍ وزورولم، ډېره راته ګرانه وه، زهرا نه پوهېږې، چې دا يوه مياشت په ما څنګه تېره شوه. زه د محسن له حاله هېڅ خبره نه وم تاسې هم په ښار کې وئ. همدغه درد، رنځ او غم زماد ځوانۍ له منځه وړلو لپاره بسيا و. ما په دې موده کې خپل برباد شوي ژوند، فناشوې ځوانۍ او د خاورو شو هيلو په اړه فکر کاوه.

همدا، چې له محسن څخه بې خبره وم نو دغه بېلتون له پښو څخه وغورځولم، هره شېبه هره ګړۍ، هره ورځ او هره شپه به زه ستاسې د راتلو په هيله وم توله ورځ به مې په دروازه کې سترګې ټومبلې وې ګوندې که ستاسې له کوره کوم څوک يا کوم خبر راشي، څه شپې وې تر سهاره به مې د اسمان ستوري شمېرل. شپې او ورځې په همدې توګه تېرېدلې. له يوې ورځې به بلې ته زه انتظار، رنځ او غم ډېرېده حوصله مې له لاسه ورکوله، د عباسقلي مور هم له دې څخه، چې يوه ناروغه اينګور کورته راوړې ډېره خپه او پښېمانه ده. زه هم نه شم کولی له هغې سره په کور او د کور په کارونو کې مرسته وکړم. د هېڅ کار وس نه لرم، عباسقلي هم زما له ناروغۍ څخه ډېر په کړاو دی. له ماسره ډېره مينه کوي، سره له دې چې هېڅ ښه وضع ورسره نه کوم بيا هم ډېره مينه راکوي، خو زه نه شم کولی د هغه د بې پايه مينې او محبت ځواب په مينه ورکړم، نه يې غواړم او نه يې هم کولی شم. د هغه بېځايه ځان غوښتنې د دې لامل شوې، چې هم دې زه خپل ژوند له لاسه ورکړم او هم دې هغه په ژوند کې د خوښۍ مخ و نه ويني.

تل دې د يوې رنځورې ښځې ساتنه وکړي او هم دې هره ورځ د مور پېغورونه واوري. زه نور د هېڅ پروړاندې کوم احساس نه لرم.

هرڅه راکې له منځه تللي دي، عاطفه، احساس، غېرت، مستي، خوشالي او شوخي، هرڅه، چې پخوا ما په ځان کې ليدل هغه ټول مړه شوي. زړه مې له خپلې کورنۍ څخه موړ دې زړه مې نه غواړي خپله مور، پلار او يا هم ورور ووينم. هېڅکله د هغوی کورته نه ځم؛ خو کله کله هغوی دلته زما ليدو ته راځي. د هغوې پر وړاندې کوم غبرګون نه ښکاره کوم او نه يې هم په ليدلو خوشاله کېږم.

شپېه غلې شوه وروسته يې اوږده سا واخيسته او ويې ويل: اه ځومره هوسا شوم دا ټولې خبرې لکه د غوځونکې چړې مې داسې په زړه کې خښې وې روح يې راته ډېر زوراوه، بل چاته مې هم دا خبرې نه شوې کولی، پرته له تا څخه ته تل زما خواخوږې او ښه ملګرې وې او يې.
زهرا وويل: زينب کله، چې محسن د لومړي ځل لپاره په هوښ راغی او خبرې يې وکړې؛ نو لومړی يې ستا پوښتنه وکړه. ستا نوم يې په خوله و. تاسره يې ډېره انديښنه وه په ما هم ډېر په غوسه شو. چې ولې په دې موده کې ستا ليدو ته نه يم درغلې، له ماڅخه يې دا غوښتنه وکړه، چې کلي ته راشم او دلته له تا څخه پالنه وکړم او پرېنږدم، چې ته دې ډېره انديښنه وکړې.
که هغه تا په دې حال ووينې؛ نو داهرڅه نه شي زغملې خپل ژوند به له لاسه ورکړي، ډاکټرانو وويل: (هغه دې د ژورو ټپونو او د هډوکي د ماتوالي له امله بايد څلور يا پنځه مياشتې نور هم په روغتون کې پاتې شي.)
محسن هم دا پرېکړه کړې، چې نور کلي ته نه ځم.
زينب نور د ژړا توان هم ورو ورو له لاسه ورکاوه. په بې نوره سترګو د زهرا څېرې ته ځير شوه. د سترګو د ښورولو توان يې هم ښايي له لاسه ورکړی وي همداسې يې کتل. زهرا د زينب لاسونه په خپلو لاسو کې ونيول او ويې ويل: نور خپګان مه کوه را پورته شه، چې کلي ته ځو.
دواړه د کلي پر لور وخوځېدې. زهرا به هره ورځ د زينب ليدلو ته کورته ورتلله. په ساعتونو ساعتونو به يې د زړه خواله کوله. د زينب حالت ورځ په ورځ نور هم خرابېده. ډېر ټوخي له کاره ايستلې وه. زهرا به درېيمه ياڅلورمه ورځ د محسن پوښتنې ته تلله؛ خو د زينب د ناروغی په اړه به يې ورته هېڅ نه ويل. د زينب له واده څخه درې مياشتې واوښتې

ناروغۍ نوره د کټ کړې وه، له ځایه نه شوه پورته کېدلی. تل به یې هډوکي او ټول بدن په سرې تبې سوزېده، ټوخی یې هم خپل اوج ته رسېدلی و. عباسقلي به شپه او ورځ د هغې سر ته خپه ناست و او اوښکې به یې تویولې. له ځان سره یې وویل: (ما دکلي تر ټولو ښکلې نجلۍ سره مې واده وکړ تل ورسره ښه چلند کوم ډېره مینه ورکوم؛ نو داڅه وشول ولې ورځ تر ورځ یې ښکلې ځوانۍ خزان کېږي تر کومه، چې د پلار په کور کې وه ښکلا به یې له یوې ورځې بلې ته ډېرېدله، تل به روغه او خندانه وه ان دا، چې یو ورځ هم نه وه ناروغه شوې. سترګو او له نازه ډکو کتو به یې بې شمېره ځوانان په خپل جال کې راښکېل کړي وو ټولو کلیوالو به په ښکلا او ښه اخلاقو د دې مثال ورکاوه د ښکلا ستاینې یې د ټولو کلیوالو په خوله وې؛ خو اوس څه شوي ولې ورځ تر ورځ یې ناروغي زیاتېږي، ښه یې الوتې، رنګ یې ژېړ وي نظر یې بېروحه وي هغه پخوانۍ جادو ورکې نه لیدل کېږي. مسکا یې له شونډو څخه کډه کړې، تل اوښکې تویوي او یا یې سترګې نمناکه وي، له خلکو تېښتي په یوه ګوښه ځای کې د غم په زنګون پښه او نیولې ناسته وي. دا په زړه کې یې څه غم پروت دی، چې ټوله خوښي یې له خولې خندا، توان شور او مستي ورڅخه اخیستې او ورځ تر ورځ یې ضعیفه کوي. ای خدایه! ته وربانديې ورحمېږې.) له دې کړاو څخه یې وژغورې یوځل بیا هماغسې د کلي مسته او تل خندانه ورڅخه جوړه کړې.

عباسقلي به تل هڅه کوله زینب دې ته اړ کړي، چې روغتون ته لاړه شي؛ خو په خپلو هڅو به نه بریالی کېده. یوه ورځ چې له کوره دباندې تللو په وره کې له زهرا سره مخ شو. وروسته له سلام او روغبړ څخه عباسقلي زهرا ته وویل: ته خو د زینب تر ټولو نږدې او ښه ملګرې یې ستا هره خبره مني. هیله کوم ته یې راضي کړه، چې له ما سره روغتون ته

لاړه شي. د مرګ په بستر کې پرته ده زما خبره نه مني که هرڅومره زاري ورته وکړم؛ خو بې ګټې ده که په همدې توګه وي ګومان نه کوم، چې هغه دې تر دې ډېره ژوند وکړي. ټوله شپه د تبې، درد او ټوخي له لاسه خوب او ارام نه لري. زه ورته ډېر په اندېښنه کې یم اخر به څه کېږي.

هغه خو تل خندانه، شوخه او روغه نجلۍ وه نه پوهېږم ولې داسې شوه. زه ورسره ډېره مینه لرم ان له خپل سره هم ورته تېر یم، که چېرې پوه شم د کوم ډاکټر په درملو ښه کېږي، چې د نړۍ په هر ګوټ کې وي بولو ته یې چمتو یم؛ خو هغه ډاکټر ته تګ لپاره غاړه نه ږدي. یوائینۍ هیله مې ته یې ګوندې ستا خبره ومني.

د زهرا له زړه نه د دې خبرو په اورېدلو سره وینې څڅېدلې ویې ویل: عباسقلي کاشکې هغه وخت تا د زینب خبرې اورېدلې وای، چې درته یې وویل زه له دې واده څخه خوشاله نه یم نه غواړم دا واده وکړم خو هېچا یې خبره وانه ورېدله ان تا هم د هغې خبرو ته ارزښت ورنه کړ. د زینب زړه رنځور شوی هغه نه غواړي، چې ژوند وکړي له دې نړۍ څخه ډېره کرکه لري غواړي د تل لپاره ورنه سترګې پټې کړي.

نور ورته هېڅ ارزښت نه لري، چې ایا ته، مور و پلار یې د هغې په مرګ خپه کېږئ او که نه. هغه نوره له ژوند څخه ستړې ده، د ژوند کولو لپاره هېڅ هیله نه لري اوس د هغې یوائینۍ هیله همدا مرګ دی، تریخ مرګ ورته ډېر خوږ شوی او د هغې غېږې ته د پناه وړلو لپاره شېبې شماري او په همدې موخه ډاکټر ته هم نه ځي.

کاشکې، چې تاسې هماغه وخت د هغې خبرې اورېدلې وای اوس ډېر ناوخته دی وخت له وخته تېر دی هغه څه، چې بویه نه وی پېښ شوی اوس شوي.

زينب خپله ځواني او روغتيا اوس له لاسه ورکړې. هېڅوک دا توان نه لري نه ډاکټر او نه هم بل څوک، چې هغه دې د څلور، پنځو مياشتو پخوانۍ زينب کړي. هغه د شمعې په څېر ويلې شوې ښايې همدا به يې د ژوند وروستۍ شېبې وي. زه به خپله هڅه وکړم ګوندي په خپله موخه بريالۍ شم.

عباسقلي له ليلا څخه مننه وکړه او په خپله مخه لاړ. زهرا هم زينب ته لاړه زينب د کوټې په کونج کې دېوال ته ډډه وهلې وه او سر يې په ګرېوان کې کښېښته کړی و، وچ او ناتوانه لاسونه يې له زنګون څخه تاو کړي وو د زهرا چې ورباندې سترګې ولګېدې د دې حالت په ليدلو يې زړه نه شو ټينګولی. غلې يې په ځنګ کې کېناسته له خبرې يې نه کولې.

زينب له ډېرې ضعيفۍ څخه په سابندۍ اخته شوې وه، ولې يې ښکته پورته الوتل زهرا د زينب وچ کلک لاسونه، چې لکه د پاڼې داسې رپېدل په خپلو لاسونو کې ونيول او په ويرجن غږ يې ورته وويل: ګرانې زينب سر دې راپورته کړه.

زينب، چې د زهرا غږ يې تر غوږ شو، خپلې ناتوانه او په کندو کې لوېدلې سترګې راپورته کړې د زهرا په څېره کې يې وګنډلې.

زهرا وويل: زينب هغه شور او مستي چېرته لا ړه؟ هغه مهر او سپېڅلتيا دې څه شوه، سر دې راپورته کړه غواړم درسره خبرې وکړم. زما خبرې ښه په غور سره واوره. ته په دې توګه نور ژوند ته دوام نه شې ورکولی. ولې د دوی خبره نه منې ډاکټر ته نه ځې؟ آيا ته نه غواړې، چې له دې دردونکې او لعنتي درد څخه خلاصون ومومې؟ نه غواړې يوځل بيا هغه پخوانۍ روغتيا لاس ته راوړې؟ ولې دې ځان ته دومره کړاو ورکوې؟ حيف چې د څو مياشتو پخوا مسته او سرشاره، نجلۍ دې د کوټې په کونج کې د سل کلنې بوډۍ په څېر له درد او رنځ څخه زګېروي وکړي.

کورنۍ او خپلوان دې هم له تا سره ډېر زورېږي ستا له املة هغوی هم ژوند کې په خوښۍ نه پوهېږي. زینب زه ستا ملګرې یم ستا د دې حالت په لیدلو زه هم ویلې کېږم. اخر ولې دومره ضد کوې. ولې دې له ځان سره دښمني را اخیستې ده. د څه لپاره غوارې ځان ووژنې. که له ما سره ژمنه وکړې، چې ډاکټر ته به ځې؛ نو زه به هم له تا څخه ډېره خوشاله شم؛ خو دا نه شم ویلی، چې نوره به دې لیدلو ته نه راځم؛ ځکه ته زما ژوند او زما ځان یې د دې وس نه لرم، چې له خپل ځان څخه دې مروره شم. ولې ډېره به درڅخه خپه شم هرڅنګه چې کېږي ته به زموږ لپاره هم روغتون ته ځې. زما ګرانې آیا دا ژمنه راسره کولی شې، چې روغتون ته به ځې. که زموږ لپاره نه وي؛ نو د محسن لپاره دغه کار وکړه.

زینب، چې نور د اوښکو تویولو توان نه درلود، خپلې نمناکې سترګې یې په زهرا کې وګنډلې او ویې ویل: زهرا هیله کوم پرېږده، چې زما د ژوند ډیوه دې نوره تته شي. پرېږده دا بېرحمه او قاتل زړه دې پوستکي واچوي خوسا شي. ځان او محسن یې د خپلو بې ځایه غوښتنو قرباني کړل. پرېږده د خپلې ګناه سزا وویني. پرېږده، چې دا زړه د خرورونو خاورو لاندې شي. همدا مې سزا ده ته هم باید پرمازړه سوی ونه کړې. زه ستا د ورور قاتله یم ماورڅخه خوښي اخیستې او نړدې و، چې ژوند یې هم ورڅخه واخلم، ته بیا هم په ما زړه سوزوې رحم راباندې کوې، ما هم ځان او هم محسن د رحیم د خوښیو قرباني کړل؛ خو هغه یې په بدل څه راکړل حتا دا، چې د ښځې له وېرې زما پوښتنې ته هم نه راځي. زه د ځان په کیسه کې نه یم ولې محسن راته ډېر ګران دی او د هغه ځواني مې هم له ځان سره خاورې کړه. د خوښۍ پرځای مې غمونه او بد مرغي ورېه برخه کړه. ډېره ګرانه ده، چې انسان دې هغه شوک، چې له هرڅا او هر څیز څخه ورسره ډېره مینه لري په خپلو لاسو دې هغه نابود کړي او ما هم



CamScanner

همدا کار له محسن سره وکړ. زما سزا یوازې مرګ دې او ښایې زما له مرګ سره به مې وجدان هم لږ څه د ارامۍ او سوکالۍ احساس وکړي.
پرېږدئ، چې له دې ټولو دردونو او غمونو له نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړم څو هم خپله، هم مې کورنۍ، خپلوان، ګاونډیان راڅخه بېغمه شي او هم به محسن زما له بېوفايۍ څخه رنځ نه وړي.
_ زینب داستا بېځایه سوچونه دي محسن اوس هم له تاسره دومره مینه لري لکه څومره یې، چې پخوا لرله ښایې له هغې به لا هم ډېره وي.
هغه په دې ښه پوهېږي، چې تا ولې دې کار ته غاړه کېښوده. هېڅکله به هم تا ته بېوفاونه وایي.
د محسن لپاره لاړه شه هغه غواړي یوځل بیا تا ووینې. غواړي د پخوا په څېر درسره خبرې وکړي. زینب، چې یوځل د محسن د لیدلو هیله لرله. د زهرا دې خبرو سره یې یو ځل بیا په زړه کې نویو هیلو غوټۍ ونیولې. له ځان سره یې وویل: (اوس په ژوند کې مې یوائینۍ هیله همدا د محسن لیدل دي؛ نو ولې په خپلو لاسو دا اخرنۍ هیله له ځان سره تورو خاورو ته یوسم.)
سر یې پورته کړ او ویې ویل: زهرا سره له دې، چې پوهېږم هرڅه له منځه تللي د ژوندي پاتې کېدو هیله مې له منځه تللې. ستا لپاره او یوځل د محسن لیدلو په موخه یې منم.
زهرا، چې ډېره خوشاله شوې وه له ځایه پورته شوه په مخ یې ښکل کړه. مخه ښه یې ورڅخه واخیسته په خوشالۍ له کوره ووتله.
عباسقلي په دې ډاډه و، چې د زهرا خبرې به حتمي په زینب اغېزه کوي او هغه به بابېزه نه ګڼي کله، چې کورته راغی ډېر خوشاله و د زینب خوا ته لاړ په څنګ کې کېناست د هغې لاسونه یې په خپلو لاسو کې ونیول

ښکل يې کړل او ويې ويل: زينب جانې زهرا درسره د کوم څه په اړه وغږېده.

هو سره له دې، چې نوره د ژوند تمه نه لرم؛ خو يوځل له تاسره روغتون ته ځم. عباسقلي ډېر خوشاله شو د هغې په تورو اوږدو وېښتانو، چې د ښايست او روغتيا همدا يواځينۍ نښه ورپاتې وه لاس تېر کړ اوښکل يې کړه نور ورڅخه لاړ، چې ښار ته د تګ لپاره چمتوالي ونيسي. د هغې ورځې په سهار زينب، عباسقلي او زهرا هم ورسره ملتيا ګوله له کلي څخه د ښار په نيت ووتل کله، چې ښار ته ورسېدل عباسقلي زينب روغتون ته بوتله، ډاکټر له کتنو وروسته وويل: د زينب د سينې عکسونه واخلئ. عکسونه يې هم واخيستل. وروسته له درې ورځو عباسقلي له عکسونو او ځينې نورو معايناتو نتايج ډاکټر ته راوړل. ډاکټر هغه ښه په غور سره وکتل تندی يې ګونځې شو يوه شيبه غلی ناست و وروسته له لږ سوچ، څخه يې عباسقلي ته وکتل او ورته يې وويل: غواړم يواځې درسره وغږېږم. زينب په ډېر جرئت سره وويل: ښاغليه هرڅه چې وي زما پر وړاندې يې ووايه. که هره ستونزه وي زه يې زغملی شم. هيله کوم زه له هېڅ شي څخه نه وېرېږم هرڅه راته په ډاډه زړه ووايه. که په خپلې ناروغۍ وپوهېږم؛ نو کولې شم ځان لږ څه ارام احساس کړم. ډاکټر وليدل، چې د جسمي کمزورۍ پر خلاف يوه زړوره، همتي او غېرتي ښځه ده، ويې ويل: مېرمنې تاسې په يوې فنا کېدوونکې(سل) ناروغۍ اخته شوي ياست. ستاسې ټول بدن يې نيولی ان هډوکو ته مو هم رسېدلی، دغې ميکروب ستاسې په وينه او رګونو کې ريښې ځغلولي دي. ولې دومره ناوخته روغتو ته راغلئ؟

زينب د ډاکټر خولې ته هک پک کتل نوره په هېڅ نه پوهېدله، چې ډاکټر څه وايي. د مرګ ملايکو يې ورته په غوږو کې د مرګ شپېلۍ

غړوله. شوپر کونو یې د سترګو پر وړاندې د مرګ نښا نښلولې وه. ژوند هم څومره ژر او په اسانۍ سره ورته د خپل تېرې چېرې څوکه په زړه کې ور ښخه کړې وه. د مرګ بادبوړ کۍ څه ډول د هغې د ژوند تنسته شکولې او په یوې لوېې کنده کې یې اچولې وه. د ډاکټر شونډو ته یې کتل، چې څومره ژر یې ښوروي؛ خو یوه خبره یې هم غوږو ته نه رسېده او یا یې هم خپله نه غوښتل ځان وریاندې پوه کړي. په ناهیلۍ او بېچارګۍ سره یې عباسقلي ته وکتل، د عباسقلي په مخ لکه د سیند داسې اوښکې روانې وې او د ګرېوان لار یې نیوله. سترګې یې ژر بېرته د ډاکټر پر لور واړولې، ډاکټر وویل: ښاغلیه زه درته نه وایم، چې مېرمن مو هېڅېړې مه بیایئ؛ خو زما په اند دا هرڅه به بېګټې وي، ځکه اوس وخت له وخته تېر دی د ښه کېدو لپاره یې هېڅ کومه هیله نه ده پاتې پرته له دې، چې ورته دعا وکړو.

نوره یې مه زوروئ. پرېږدئ، چې په خپل کور کې ارامه وي. عباسقلي ته ژړا د خبرو وار نه ورکاوه په خوارۍ سره په خپلې ژړا کابو شو او ویې ویل: ډاکټر صاحب دا پنځه میاشتې هم نه کېږي، چې موږ سره واده کړې دا؛ خو په کلي کې تر ټولو پېغلو ښه او صلامته پېغله وه دا؛ نو څه ډول ناروغي ده، چې علاج نه لري او په دې لږې موده کې په یوه ناعلاجه رنځ اخته شوې؟

_ زه هم نه پوهېږم، چې ولې دومره ژر هرڅه وشول؛ خو اوس دې ناروغۍ دومره پرمختګ کړی، چې زموږ له وسې وتلې خبره ده. زما زړه هم د دې په ښکلې ځوانۍ سوزي؛ خو څه وکړم هېڅ مو له لاسه نه کېږي. کاشکې څه موده مخکې راغلی وای. شونې و، چې یو څه ګټه به یې کړې وی.

_ عباسقلي د خواخوږۍ له مخې زینب ته وکتل او ویې ویل: راځه ګرانې ځو نور هېڅ نه دي پاتې د خپلې اندېښنې، خواشینۍ او غمجنۍ نتیجه

دې ولیده، چې څه یې وکړل زموږ خبرې دې نه اورېدې له خپل ځان سره دې ظلم وکړ. دواړه ناهیلې او خپه له روغتون څخه کلي ته ستانه شول. کله، چې کورته ورسېدل عباسقلي ډېر خپه او غلی ناست وو مور یې د دې حالت په لیدلو ډېره ورخطا شوه. له هغوی څخه یې پوښتنه وکړه، چې ډاکټرانو څه وویل؟ خو نه عباسقلي او نه هم زینب د ناروغۍ په اړه تر څلورو ورځو هغې ته څه وویل؛ خو داسې خپه او پرېشانه وو، چې هرڅه له ورایه د دوی له بڼې څخه څرګندېدل. عباسقلي به شپه او ورځ اوښکې تویولې خبرې به یې نه کولې په درېیمه ورځ، چې ډېر خپه او سریې د غم په زنګون ایښی و او تیاره راتلونکې په اړه یې له ځان سره فکر کاوه. موریې ورو راغله په څنګ کې یې کېناسته د هغه په سریې لاس کېښود او ویې یل: زویه له کله راهیسې، چې له ښار څخه راغلی یې ډېر خپه او نیولی ښکارې ډاکټرانو داسې څه ویلي، چې خوب او ارام یې درڅخه وړی، نه څه خورې، نه له کوره وځې، اخر څه خبره ده ولې یې له ما څخه پټوئ. زه ستا مور یم هرڅه راته په ډانګ پیېلې ووایه هېڅ خبره راڅخه مه پټوه. هرڅه، چې وي د خدای ج رضا به وي همدا به یې ورته په برخه لیکلي وو.

د عباسقلي په زړه کې غم او اندېښنې لکه د سرطان ریښې ځغلولې وې صبر او حوصله یې لاسه ورکړې وه د مور په غېږ کې یې سر کېښود په چیغو چیغو یې ژړل. مور یې هم پرته له دې، چې په خبره ځان وپوهوي په ژړا سر شوه او ویې ویل: زویه څومره، چې ژړلی شې وژاړه د زړه غوټه دې خلاصه کړه زړه دې تش کړه نه پوهېږم ته به یې په کومه ګناه کې نیولی یې ما تاته واده وکړ څو هم زه او هم ته په ژوند پوه شو په مابه د کور کارونه لږ څه سپک شي؛ خو اخر څه مو په برخه شول. وروسته له څو شېبو عباسقلي سر پورته کړ او په رېږدیدلي غږ یې وویل: مورې زینب

سل ده او هغه هم داسې سل، چې خپل اوج ته رسېدلی هېڅ علاج نه لري که هر چېرته يې بوځو بې ګټې ده؛ خو مورې زه له زينب سره ډېره مينه لرم نه شم کولی ورته په کراره کېنم او هغه دې زما د سترګو پر وړاندې د ځنکدن سلګۍ ووهي. مورې زينب زما ژوند دې بايد، چې ژوندی پاتې شي زه پرته له هغې څخه ژوند نه شم کولی هيله کوم يوځه وکړه مه پرېږده، چې دومره ژر يې د ژوند ډيوه د تل لپاره مړه شي. هغه ډېره ځوانه ده تراوسه يې لا د ځوانۍ ولس پسرلي هم نه دي پوره کړي مه پرېږدئ، چې دومره ژر دې د هغې د ځوانۍ ګل پاڼه پاڼه شي.

مور يې د سل د کلمې په اورېدلو سره ټکان وخوړ په غوږ کې يې د سل کلمه څو څو ځله تکرار شوه په ځان نه پوهېده، چې څه ووايي، له يوې خوا يې د هغې په ځوانۍ زړه خوږېده او له بلې لورې د خپل يوائيني زوی په اړه انديښمنه شوه داسې نه، چې هغه دې هم په دې ناوړه ناروغۍ اخته شي. يوه شېبه غلې ناسته وه په کوټه کې چوپه چوپتيا خوره وه، وروسته له څوشېبو مور يې په ټوخې دا چوپتيا ماته کړه او ويې ويل: ګوره زويه کېدای شي زما خبرې په تا بده اغېزه وکړي؛ خو دا ناروغي ډېره خطرناکه ناروغي ده بويه ته ورڅخه خپل شيان بېل کړې نه غواړم، چې ته دې هم په دې وژونکې ناورغۍ اخته شې. بايد ته ورڅخه ځان لرې وساتې، له هماغې ورځې څخه د زينب بستره او هرڅه له نورو څخه بېل شول او هم يې د خوابې رويه کې بدلون راغی.

عباسقلي د زينب ليدلو ته نه شو تللی زينب نوره بيخي يوائې شوې وه هېڅوک يې ليدلو ته نه پرېښودل له خلکو به يې ځان ګوښه کولو، څو ځلې زهرا يې ليدلو ته راغله؛ خو دې ورڅخه په يوې او بلې پلمې ځان خلاص کړ او ورسره مخ نه شوه، نور يې له ځان سره داسې انګېرل، چې اوس د عباسقلي او د هغه د کورنۍ په سر يو دروند پيټی دی؛ نو له دې

خبرې څخه به يې هم ډېره رنځېدله، له يوه پلوه به يې ډېر درد ټول بدن لمبه کړ او له بله پلوه د محسن په اړه يې هم ډېره اندېښنه کوله. په دې شو ورځو کې يې نه غوښتل، چې ان زهرا سره هم مخ شي؛ ځکه له محسن څخه بې خبره وه، زهرا يې ډېره يادېدله؛ خو پرته له دې چې د خپلوانو او نږدې ملګرو بېلتون وزغمي بله لاره يې هم نه لرله، همدا و چې درد او غم يې څوچنده زيات شوی و، له يوې خوا په بيلتون او له بلې خوا په درد کې سوزېده. نه يې غوښتل کوم بل څوک دې هم په دې وژونکي ناروغۍ اخته شي له ټولو يې ځان لرې ساته، اوس له يوائېتوب او کوښه نشينۍ څخه ډېره وېرېدله، له بې کسۍ څخه هم ډېره په کړاو وه، يوڅه موده لا نه وه تېره، چې د زينب د ناروغۍ اوازې په ټول کلي او ولس خورې شوې، د کلي ښځو چا د خواخوږې او چا هم د شيطانت له مخې د عباسقلي د مور په زړه کې اندېښنې واچولې. ورته يې ويل: ته خو همدا يو زوی لرې؛ نو څنګه په خپلو لاسو هغه د مرګ کندې ته ورغورځوې. دا به هم شپه او ورځ زوی ته لګياوه داسې نه، چې ته هم په دې ناروغۍ کې رابنکېل شې، ژوند به دې تباه شي، ته؛ خو شکر ځوان يې تا لپاره ښځې ډېرې دي کوم حالت، چې زينب لري ته ورڅخه بويه ځان لرې وساتې نور په دې کور کې د هغې اوسېدل له خطره خالي نه دی، شونې ده، چې يوائې ته نه؛ بلکې مور ټول ککړ شو. هېڅوک زمور کور ته نه راځي يوه ورځ به د کليوالو او خپلوانو له سترګو هم وغورزېږو، عباسقلي غلی ناست و هېڅ يې نه ويل. مور يې ورته ډېرې خبرې وکړې اخر يې عباسقلي خبرو ته اړ کړ ويې ويل: مورې ته ووايه څه وکړو د حل لار يې څه ده؟ مور يې وويل: زينب ته طلاق ورکړه. عباسقلي په ګوابښ له ځايه پورته شو ويې ويل: مورې دا دې لومړی او وروستی ځل وي، چې داسې خبره وکړې. هغه زما مينه زما ژوند دې ما ورسره واده کړی ښځه مې ده

زه څنګه کولې شم، چې هغه دې په دې حالت کې ځانته پرېږدم هغه مونږ ته ډېره اړتیا لري. مور یې وویل: خو زویه هغه نوره تا لپاره یوه ښه مېرمن نه شي کېدلی زه پوهېږم ته ورسره ډېره مینه لرې ولې اوس هېڅ کومه لار نه لرو. مجبور یې ورڅخه بېل شې.

عباسقلي چیغه کړه: مورې هرڅنګه، چې وي هغه دې باید په دې کور کې پاتې شي او د ژوند وروستۍ سلګۍ به یې هم په همدې کور کې وي دا زما ژوند دی نه د خلکو زه د هېچا د خبرو پروا نه لرم هرڅه، چې وایې و دې وایې د کلیوالو خولې چا ګنډلې او که نه؛ نو ما مه اړکوه هغه کار وکړم، چې تر اوسه مې زړه نه غوښتل. زویه زینب هسې هم ډېر عمر نه شي کولی وروسته له هغې به بیا یوه نجلۍ هم له تا سره واده ته غاړه نه ږدي، چې د کور په هر شي او هرځای کې ټکې په ټکې د یوې ناروغې نجلۍ نښه پاتې وي. یوه شېبه هم له تا سره ژوند ونه کړي. هیله کوم زویه خپل ژوند دې مه تبا کوه، خپله ګانده مه خرابوه، تر اوسه لا ځوان یې، ستا لپاره په زړه کې ډېرې هیلې لرم تراوسه؛ خو لا یوه هم نه ده پوره شوې، زړه مې غواړي ستا ماشومان په غېږ کې واخلم، د هغوې له ساه څخه خپله فنا شوې ځواني احساس کړم او بیا نورې پېغلې نشته، چې تا د یوې ناروغې لمن ټینګه نیولی ده. لکه څنګه چې زینب د کلي تر ټولو ښکلې پېغله وه درته مې واده کړه همداسې به اوس هم هرڅوک، چې ته یې غواړې درته را واده کړم.

عباسقلي، چې لا تراوسه د لیلا غلچکۍ سترګې نه وې هېرې کړې ویې ویل: ښه سمه ده مورې هرڅه، چې ته وایې زه به په دې اړه له ځان سره سوچ وکړم.

مور یې، چې خپلې موخې ته نږدې شوې وه ډېره خوشاله شوه او ویې ویل: زویه دا نو سوچ نه غواړې هسې هم زینب خوارکۍ کې نور څه نه

دې پاتې د ژوند وروستۍ شېبې تېروي، همدا اوس راته وواېه، چې په کلي کې دې کومه نجلۍ خوښه کړې او که نه زه سر له نن څخه د هغې په فکر کې شم. عباسقلي له شرمه سر کښته ونیو سترګې یې په ځمکه کې وتېومبلې زړه نازړه یې ووېل: مورې اوس د دې خبرو وخت نه دی. مور یې ووېل نه زویه مه شرمېږه باید له همدا اوس څخه زه ستا په خوښه پوه شم. عباسقلي په شرمناکه غږ ووېل: مورې زموږ خپله کلیواله د سکندر لور لیلا ښکلې نجلۍ ده، ښایې هغه وکولای شي زما په زړه کې د زینب ځای لږ څه ونیسي. مور یې په خوښۍ سره ووېل: ولې به یې نه راکوي. د کلي له ځوانانو څخه؛ خو څه کم نه یې. ولې دومره ناهیلی یې. ته له همدې شېبې څخه له زینب نه ځان لرې کوه د لیلا غوښتل ماته پرېږده. له نېکه مرغه زه او د لیلا مور له ماشومتوبه تر اوسه خوږې او نږدې ملګرې یو. هرکله چې تا د زینب د طلاق کارونه خلاص کړل زه به هغه وخت د لیلا غوښتو ته ورشم. زه لا له هماغې اولې ورځې څخه ستا او د زینب کوژدې باندې راضي نه وم؛ خو تا مې خبره نه اورېدله. ځه زویه له همدې اوس څخه د طلاق په کار پیل وکړه. عباسقلي پورته شو د زینب کوټې ته لاړ. هلته یې کله له یوې خوا او کله له بلې خوا خبره پیلوله؛ خو د ویلو توان یې نه درلود زینب، چې یوه هوښیاره او پوه نجلۍ وه د عباسقلي په موخه وپوهېده ویې ویل: عباسقلي هرڅه، چې وایې ښه په ډاګه یې وواېه خبره مه اوږدوه. عباسقلي کله یوې خوا او کله بلې خوا ځان تېراوه زړه نازړه یې ووېل: زینب ته؛ خو پوهېږې، چې په یوې خطرناکه او ساري ناروغۍ اخته یې داسې شونتیا لري، چې زموږ په کور کې هم څوک په دې ناروغۍ اخته شي. که ته کوم اعتراض نه لرې موږ به سره بیل شو؛ خو که ستا خوښه نه وي زه به دې هېڅکله هم دې کار ته مجبوره نه کړم هرڅه، چې ستا خوښه وي هماغسې به وکړم. زینب په سوړ نظر د

زړه سوي او کرکې له مخې عباسقلي ته وکتل او ویې ویل: زه کومه ستونزه نه لرم راضي یم؛ خو ته هم ما وبخښه، چې ومې نه شول کولی تا ته یوه ښه مېړمن اوسم پر ته له غم مې هېڅکله هم خوښي درنه کړه. که څه هم ځو ورځې، مخکې له واده څخه هرڅه مې درته روښانه وویل؛ خو تا ونه منله. که منلې دې وی نه؛ خو به ما خپل ژوند، ځواني او خوښي له لاسه ورکړې وای او نه به هم تا داسې ورځ لیدله اوس هرڅه تېر شول هیله لرم. چې وروسته له ما نېکمرغه ژوند ولرې؛ خو ولې دادې هم په یاد وي، چې زما ځواني دې په ولسم پسرلي کې د خزان څپو ته وسپارله او هغه هم داسې څپې، چې په ژوند کې به د پسرلي مخ ونه ویني پرته له دې، چې ورژېړي. د عباسقلي په مخ لکه داوښکو مسابقه، چې وي په منډه منډه د ګرېوان پر لور روانې وې په لستوڼي یې اوښکې پاکې کړې او ویې ویل: زینب پرته له دې، چې بخښنه وغواړم نور هېڅ ویلو ته نه لرم ما داسې انګېرل ګوندې وروستـه له واده که له تا سره مینه وکړم؛ نو وبه کولی شم تا هم د عشق په جال کې رانښکېل کړم؛ خو په دې نه پوهېدم، چې دا جال به تا د مرګ کندې ته خطا کړي. څه ووایم ښایې ته به مې له هغه حسادت او کینې له مخې، چې له محسن سره مې لرله قرباني کړې یې. ما له ماشومتوب څخه له تا سره؛ خو تا له محسن سره مینه لرله. سره له دې، چې ستاسې مینه مې ښه درک کوله؛ خو غوښتل مې خپل برې د محسن پر وړاندې ښکاره کړم. څه وکړم په دې منځ کې ته قرباني شوې زه نه پوهېدم، چې داسې به کېږي څو، چې ژوندی یم خپل ځان به هېڅکله هم ونه بخښم؛ خو له تا څخه ډېره بخښنه غواړم په دې پوهېږم، چې د بخښلو وړ نه یم. هیله ده ما وبخښې.

زینب سر ټیټ نیولی و اوښکې یې څاڅکې څاڅکې په لمن کې تویولې. عباسقلي خپه او پرېشانه له کوره ووت، چې د طلاق لپاره ځینې شیان

چمتو کړي. وروسته له څو ورځو د طلاق کار پای ته ورسېد دواړه سره بېل شول. په هماغه شپه عباسقلي او مور یې د لیلا کور ته په مرکه ورغلل. کله یې، چې دروازه وټکوله لیلا ورته راووتله دلیلا، چې په عباسقلي سترګې ولګېدلې د کرکې له مخې یې خپلې شونډې دومره د غاښونو لاندې ټینګې کړې، چې خوله یې له وینو ډکه شوه. په ګونځې تندې یې سلام ورکړ او کوټې ته یې بوتلل غلې ناسته وه نه پوهېده، چې په کومه موخه له دوی کره راغلي؛ خو کله یې چې په عباسقلي سترګې ولګېدې ګوري، چې دوه سترګې یې د دې په مخکې ټومبلې دهغوی په موخه وپوهېده ولې ځان یې ناګاره واچاوه. وروسته له څوشېبو د عباسقلي مور خبره رایاده کړه. د دې په اورېدلو لیلا یو دم ټکان وخوړ سر نه تر پښو پورې یې له ټول وجود څخه یې کرکه او کینه ورېده له ځایه په غوسې راپورته شوه د عباسقلي په مخ یې لاړې تو کړې د چیغو او ژړا په څپو کې یې وویل: ځه ورک شه همدا اوس له کوره ووځه ته ګومان کوې، چې زینب مې بدمرغه کړه هغې یوازې د خپل ورور رحیم لپاره تاسره واده ته غاړه کېښوده تاسې ورباندې شرط اېښې و او هغې یوازې د خپل ورور د خوښۍ لاس ته راوړلو لپاره دا د زهرو ګوټ وکړ د دې لپاره، چې مریم رحیم ته ورکړئ؛ نو خواره او بېوسې نجلۍ دې ته اړ شوه، چې د خپلې خوښۍ او خپل محسن څخه لاس واخلي، مور ټول سره همزولي یو یوځای مو سره لوبې کړې. هم مور او هم د کلي ټول اوسېدونکي د محسن او زینب له میني، محبت او لېوالتیا څخه خبر وو ایا ته په دې نه پوهېدې، خبر نه وې. ښه خبر وې په دې هرڅه ښه پوهېدلې؛ نو بیا ولې د دې لامل شوې، چې له دې خوارې نجلۍ څخه ټوله خوښي او حتا ژوند هم ورڅخه واخلې ولې دې هغه دومره بدمرغه کړه په خپلو لاسونو دې د بدمرغیو تورې کندې ته ولېږله، اوس داسې ګومان کوې، چې زه هغه

خواره خو مې د مرګ کندې ته ولېږله کولی شم، چې نورې پېغلې به هم په همدې توګه ور ولېږم بدمرغه به یې کړم؛ خو ته ډېره اشتبا کوې مور. ټول پوهېږو د هغې بېوسې نجلې واده د مجبوریت له مخې و او هغه ورځ، چې ما کوم څه وکړل هغه هم یوائې د دې لپاره وو، چې ته له زینب څخه لاس واخلې. څه ورشه خپله قاتله او مرداره څېره دې په هینداره کې وګوره په دې ښه پوره باور لرم خپل زړه به دې هم د څېرې په لیدلو خراب شي. ځئ ورک شئ دواړه ووځئ، مور یې چې هغه له متې څخه کلکه نیولې وه دباندې یې کشوله په غوسې یې ورته وویل: غلې شه بې ادبې سپین سترګې داڅه بېځایه خبرې کوې ایا خلک له مشرانو سره په همدې ډول خبرې کوي؟ له کوټې څخه یې وایستله او وریې ورپسې بند کړ خپله کوټې ته راغله له هغوی څخه یې بخښنه وغوښته او ورپې ویل: هیله کوم د هغې په خبرو مه خپه کېږئ هغه لا په دې خبرو نه پوهېږي او بل دا، چې د زینب نږدې ملګرې ده ډېره مینه ورسره لري؛ نو ځکه یې وریاندې لږه بده اغېزه وکړه. د عباسقلي مور په خپل ځای ودرېدله په غوسې یې وویل: زه هم دومره سپین سترګې او بې ادبه اینګور نه غواړم. ډېره په غوسې وه له ځان سره غرمبېدله پرته له مخه ښې د عباسقلي سترګې لا یوې اوبلې خوا لیلا پسې ګرځولې له کوره په غوسې ووتله. زینب وروسته له طلاق څخه د پلار کورته لاړه. څو ورځې لا نه وې تېرې، چې د وریندار پېغورونو ډېره ځوروله، ځانته به د خپلې کوټې په کونج دکې ناسته وه. بې له کوم غمشریکه به یې په یوائې توګه د زړه ویني څښلې او وینې ژړېدله، د خپلې ځوانۍ په غم، ښایست او محسن په غم کې، چې اوس یې داهر څه له لاسه ورکړي وو، اوس یې ایله په ولس کلنې کې پښه ایښې وه؛ خو څومره ژړیې د ځوانۍ ګل پاڼه پاڼه شو، چې ان دا وریاندې هډو ونه پوهېده، څومره دردونکې ده، چې انسان دې خپل ژوند

د مور، پلار او نږدې ترینه ملګري په لاس له لاسه ورکړي، هغه هم د یوه بېځایه ضد پوره کولو په موخه. پرته له ژړا، غم او خپګان څخه یې بل کار نه و، ټوله ورځ به یې پرته له ژړا او د زړه وینې څښلو څخه بل کار نه و او د مریم پېغورونو به نوره هم ډېره زوروله له ژوند څخه ډېره په تنګ وه له یوې خوا دردونکې ناروغي او له بله پلوه د ورینداري خبرو له ژوند څخه ډېره بېزاره کړې وه سره له دې، چې دې د رحیم او مریم یو بل ته د رسېدلو په موخه ان خپل ځان قرباني کړ؛ نو ولې مریم دا هرڅه دومره ژر هېر کړل ولې د دې ښکلې نجلۍ قرباني یې بابېزه وګڼله. ولې یې و زوروي. مریم حامله وه په دې خبرې به یې ټوله ورځ پلمه لټوله، چې ولې راتلونکې ماشوم یې په یوه داسې ځای کې نړۍ ته راشي، چې هغه دې د سل په ناروغي ککړ وي. د زینب مور هم د ځوانې لور له غمه د مرګ په بستر پرېوتله. دوی که هرڅومره طبیبان ورياندې ستړي کړل؛ خو بې ګټې و، بلاخره وروسته له څه مودې څخه په یوې تیاره، خونړۍ او وېرونکې شپه یې له سراسر غمونو، دردونو او رنځونو څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې. خپله رنځوره او غمجنه لور یې د غمونو او رنځونو ډکې نړۍ ته، چې د ورېندار پېغورونو او د خلکو خبرې یې اورېدلې یوازې پرېښوده. نوره نو یوازې او بې وزله زینب وه، ژړا غمونه او دردونه، پلار به یې که هرڅومره هغې ته ډاډ ورکاوه او نصیحت یې ورته کاوه؛ خو هېڅ اغېزه به یې نه کوله، رحیم هم د ښځې له وېرې د خور پوښتنې ته نه ورتلو؛ خو کله به چې مریم په کور کې نه وه؛ نو دا به پټ ورتللو د زینب په پښو کې به یې ځان غورځاوه په ژړا او کوکو به یې د خپلې کړنې بخښنه ورڅخه غوښتله.

زینب، چې یوه ډېره مهربانه او زړه سواندې نجلۍ وه، سره له دې، چې دې ورځې ته هم همدې رسولې وه نه به یې غوښتل، چې خپل ورور خپه

ووینې، پورته به یې کړ او ورته به یې ووېل: رحیمه ستا ګناه څه ده. "تا: خو یواځې له مریم سره مینه کړې وه او دا مینه ستا حق و. ګناه: خو زما وه، چې ومې نه شول کولی وروسته له واده هم له عباسقلي سره مینه وکړم.
کله ناکله به، چې رحیم د زینب پوښتنې ته تلو؛ نو زینب به ورڅخه غوښتنه کوله، څو کوټې ته چې د سل په مکروب ککړه ده رانه شي له کوټې څخه دې دباندې نه دې ورسره خبرې وکړي.
وروسته د مور له مرګه نور؛ نو زینب ته په هغې کور کې اوسېدل ډېره سخته وه.
ورځ تر ورځ د مریم کنایې او پېغورونه ډېرېدل. زینب به شپه او ورځ یواځې د مرګ سوال کاوه ځکه همدا مرګ که تریخ هم و؛ خو د هغې لپاره پرده پوښ و.
زهرا هم وروسته له طلاقه ښار ته تللې وه او لا تر اوسه نه وه راغلې. د زینب زړه د محسن لیدلو پسې ډېر تپېده؛ خو اوس په دې پوهېدله بویه هېڅکله دې هم داسې کومه هیله یا غوښتنه ونه لري، له ځانه سره به یې ویل: زه یوه رنځوره یم داسې رنځوره، چې پرته له مرګ نور باید د هېڅ شي هیله ونه لرم، حتا تولنه هم ما نه مني، ټول راڅخه کرکه کوي، هېڅوک نه غواړي له ما سره خبرې وکړي، نه غواړي ان دا، چې یوه شیبه دې هم زما لیدلو ته راشي او یا دې راسره مخ شي، ټول راڅخه وېره لري، له ما څخه لرې تښتي؛ خو هغوی د دې حق لري، چې دا هرڅه کوي، مریم هم حق لري، چې له ما څخه کرکه وکړي ځان او رحیم راڅخه لرې وساتي، ځکه زما ناروغي یوه خطرناکه او ناوړه ناروغي ده، بویه ټول ورڅخه ځان وساتي. مریم نه غواړي خپله یې او یایې هم راتلونکی ماشوم په دې وژونکي ناروغۍ اخته شي. دا یې حق دی، چې ما له ځان څخه او ان له

دې کوره لرې وشړي. زړه يې غواړي، چې زه داکور پرېږدم او يو لرې ځای ته لاړه شم؛ خو چېرته؟ زه خو هېڅ کوم ځای نه لرم. د خاوند له کوره يې هم شړلې يم. مګر دا؛ خو مې د پلار کور دی دا مې پوره حق دی، چې د پلار په کور کې و اوسېږم. ای خدايه! ټول کور، حق، ژوند او هرڅه لري؛ خو زه يوازې د ژوند کولو حق هم نه لرم دانو څه ډول انصاف دی زه؛ خو اوس بدمرغه شوې يم ژوند مې له لاسه ورکړی؛ نو نه غواړم کوم بل څوک دې هم زما په شوم او غمجن برخه ليک اخته شي. ولې د رحيم او مريم په منځ کې د شخړې او بېلوالي لامل شم. زه به يخپله خپل شوم سيوری له دې کوره وباسم؛ خو نه پوهېږم ای خدايه چېرته لاړه شم. هېڅ ځای نه لرم هېڅوک مې نه مني ټول راڅخه تښتي، ای پروردګاره! ته راته ځای وښايه.
هو يوازې يوځای دی، چې په ورين تندي راته ښه راغلاست وايي او ماته په خپله پراخه سينه کې ځای راکوي، هغه داسې ځای دی، چې نه مې رټي او نه مې هم له ځانه شړي، هغه ځای زما د مور له قبر سره نږدې هديره ده.ماته بايد هلته يوه جونګړه جوړه شي، په دې شرط که دوی ته د يوې جونګړې د جوړولو ارزښت ولرم. غواړم د ژوند دغه وروستۍ شېبې پرته له پېغورونو، خبرو او رټلو په هغه ځای کې په ارامۍ سره تېرې کړم.
که موقع په لاس راغله؛ نو همدا نن ورځ رحيم ته دغه وروستۍ هيله وايم. ښايي زړه به يې ونه مني؛ خو هغه هم د ښځې له لاسه ډېر مجبور دی کېدای شي د هغې لپاره يې هم ومني، که څه هم زما لپاره ډېره سخته ده، چې يوازې او لرې له خلکو څخه ژوند وکړم؛ خو څه وکړم همدا د خلکو غوښتنه او خوښه ده، ما د سترګو پروړاندې نه پرېږدي، له ما څخه يې بد راځي او کرکه را څخه لري؛ نو زه ولې له هغوی څخه ځان لرې نه کړم.

ښايي زما په برخه به يې همدا ليکلي وو، چې يوائېتوب او بېکسۍ کې خپله ورروستۍ ساه ورکړم، تل مې له يوه داسې مرګ څخه وحشت درلود ډېره وېرېدلم؛ خو اوس مې همداسې مرګ په نصيب دی.

يوه ورځ مريم په کور کې نه وه زينب رحيم ته غږ کړ رحيم ته، چې زينب ډېره ګرانه وه په خوښۍ يې د هغې کوټې ته ځان ورساوه او ويې ويل: څه خبره ده ګرانې ولې دومره خپه ښکارې؟

_ نه هيله کوم کوټې ته مه راځه همالته دباندې ودرېږه له هماغه ځايه در سره د يو څه په اړه خبرې کوم.

رحيم دباندې له دروازې سره په يوه تېږه، چې د کوټې په مخ کې پرته وه کېناست. زينب وويل:

_ رحيمه زه نن له تا څخه يوه غوښتنه لرم هيله ده، چې ويې منې. لومړی لوړه وکړه، چې منې به يې.

رحيم له ډېرې خوښۍ څخه، چې د لومړي ځل لپاره يې خور ورڅخه څه غوښتي وو پرته له دې، چې په خبره ځان وپوهوي ويې منله لاسونه يې هسک ته پورته کړل سوګند يې ياد کړ که نن راڅخه خور حتا سر هم غواړي؛ نو نه به يې ورڅخه منع کوم.

زينب، چې د ورور خوښي وليده ترخه مسکا يې وکړه او يې ويل: زما ښه وروره، ته بايد ماته له کلي څخه لرې په هديره کې د مور د قبر ترڅنګ ته يوه جونګړه جوړه کړې. زه غواړم پاتې عمر هلته تېر کړم. نه غواړم، چې د چا د سر پېټی شم.

د دې خبرې په اورېدلو رحيم ټکان وخوړ يوه سوزونکې سا يې وايستله. لاسونه يې په سينه کېښودل زړه ته د زړه له خلاصه زور ورګړ. له سترګو يې اوښکو خپله ازادي واخيسته لکه د سېلاب يې پر مخ روانې وې. په چيغو او ژړا سر شو په سلګو يې وويل:

ـ ګراني خورې که ما ته دې ويلي واى، چې ځان ووژنه؛ نو ما ته به ډېره اسانه او د زغملو وړ وه، ولې دا درسره نه شم منلى. هيله کوم له ما څخه داسې غوښتنې مه کوه. ما په خپلو لاسونو ستا ژوند، هيله ارزو، ځواني او هر څه برباد کړل. حاضر يم تا لپاره خپل ژوند هم قربان کړم. دا ما؛ يانې يوه ورور خپله خور دې ورځې ته ورسوله. که مريم درته کوم څه ويلي وي او يا يې هم درسره جنګ کړى وي؛ نو ووايه همدا اوس به يې په پلار کېنوم؛ خو نور نه شم کولى تردې هم زيات ظلم درباندې وکړم. که مريم درته څه ويلي وي هيله کوم رښتيا ووايه ستا دا نازکه او وړوکى زړه اوس داسې خبرې نه شي زغملى.

نه رحيمه هېڅ راسره بد چلند نه دى کړى؛ خو زه خپله نه غواړم زما په ناروغۍ او دې شوم برخه ليک دې کوم بل څوک اخته شي. ته هم په دې وپوهېږه، چې دا زما د ژوند وروستۍ هيله ده او تا خپل سوګند خوړلى په هېڅ ډول به له خپلې ژمنې څخه نه اوړم.

رحيم ډېر ژړل خورته يې زاري کوله او سر يې ټکاوه، چې ولې مخکې له دې، چې په څه و پوهېږم ژمنه مې وکړه؛ خو اوس يې سوګند ياد کړى و ژمنه يې کړې وه مجبور و، چې له خپلې ژمنې سره سم په خپلو لاسونو د خپلې ځوانې او ناکامې خور قبر وباسي. د هغې ورځې په سهار رحيم د جونګړې په جوړولو پيل وکړ، وروسته له دوه درې ورځو هر څه تيار شول د دې د اړتيا وړ شيزونه يې هم ورته په هغه ځاى کې ځاى پر ځاى کړل؛ خو خپله يې نه شول کولى د زينب وتلو په وخت کې دې دا په کور کې وي. له کومې ورځې، چې زينب د پلار کورته راغلې وه پلار به يې ډېر لږ په کورکې و هڅه به يې کوله، چې ډېر له خپلې لور سره مخ نه شي، چې د وجدان عذاب يې ډېر ونه زوروي. ټوله ورځ به يې له کوره بهر تېروله.

هغه ورځ هم رحيم د زينب غوښتنې په اساس پلار ته د زينب د کور پرېښودو په اړه څه ونه ويل.
رحيم هم له کوره ووتلو، د دې توان يې نه لاره، چې په کور کې کېني او خپله ځوانه او رنځور خور وګوري، چې څومره په خوښۍ د مرګ او د يوازېتوب کور ته هر کلی وايي. زينب ټول کور زره زره، چې د دې د ماشومتوب، پېغلتوب او هم يې د مور يادونه په کې نغښتي وو، ښه په ځير ځير له نظره تېر کړ او نور يې سترګې هغه ځای ته، چې دې او محسن د ماشومتوب يادونه ورته د سترګو پر وړاندې انځورېدل؛ يانې هماغې زړې او پخوانۍ ونې لاندې، چې د انګړ په منځ کې ولاړه وه. دې او محسن د لوبو کولو ځای و وګڼلې هغه ځای، چې دا به ټل هلته کېناسته او ويل به يې: (محسنه هر کله، چې زه مړه شوم؛ نو ما به په دې ځای کې ښخه کړې او خپله به دې هم ټل زما سر ته ناست يې؛ ځکه زه له يوازېتوب او ستا له بېلتون څخه ډېره وېرېږم وحشت ورڅخه لرم.)
محسن به بيا ويل: زه به دې ونې لاندې دوه قبره اوباسم کله، چې ته مړه شوې ما دې په هغه بل قبر کې، چې ستا په څنګ کې دی خاورو ته وسپارې. پر ته له تا يوه شېبه هم زه ژوندی نه شم پاتې کېدلی.)
زينب ونې ته ډېره و وهله هغه ناوکۍ، چې محسن د ماشومتوب د لاس نښه وه زړه ته نږدې کړه او وېې ويل: آه محسنه ته چېرته يې زه پر ته له تا څومره په ستونزو او بدبختيو کې راښکېل يم. دغه يوه هيله يې هم راڅخه واخيسته. د دې ونې لاندې د خاورې کېدلو هيله.
_ محسنه کله، چې د هديرې هغه تياره او خاموشې، سړې او وحشتناکې جونګړې ته لاړه شم، څه ډول يوازېتوب، بېوزلي او بېکسي وزغمم. که څه هم ټل يوازې وم دارا ته کومه نوې خبره نه ده او نه هم ورسره نابلده يم؛ خو دا کلی، د کلي له شور او غوغا څخه ډکې کوڅې او د کلي دا ښکلې

هوا، چې تکی په تکی ستا بوی ورڅخه راځي او زه هم تر اوسه همدې ژوندۍ ساتلې وم پر پرېږدم. زه نور د سیند غاړې ته د تللو توان نه لرم او نه یې تللو ته حق لرم، په زړه مې دا ارمان دی، چې یوځل بیا د سیند غاړې هغه پخوانۍ وچه ونه ووینم، په څنګ کې یې کېنم د بېلتون او هجران څخه ورته شکایت او زړه خواله وکړم.
محسنه ټول زما د مرګ هیله لري، دوی غواړي زه دې ژر له دې غمجنې او ستومانه نړۍ څخه سترګې پټې کړم. اوس زه هغه افت او بلا یم، چې د ټولو روغتیا مې له ګواښ سره مخ کړې محسنه ته چېرته یې، چې د کور او کلي د بېلتون غم له تا سره شریک کړم زما دا ناتوانه او وړوکی زړه دا هرڅه په یوازې تو ګه نه شي زغملی.)
زینب ساعتونه ساعتونه اوښکې توی کړې کوکې یې وکړې. د خپلې مور کوټه یې یوځل بیا، چې اوس مریم ورکې اوسېدله له نظره تېره کړه. مریم سره یې لنډه مخه ښه وکړه، د دروازې پر لور روانه شوه بېرته په خپل ځای کې ودرېدله یوځل یې بیا ټول کور په ځغلنده نظر له سترګو تېر کړ. خپل، مور، پلار، محسن او رحیم خواږه یادونه یې یو ځل بیا د سترګو پر وړاندې انځور شول ټولو ورته د هیلې لاس نیولی زاري کوي، چې مور یوازې مه پرېږده. ژر یې مخ وګرځاوه، په زړه یې لاس کېښود پر مخ یې د اوښکو لښتي روان وو. د تل لپاره یې له کوره خدای پاماني واخیسته. پل یې په کوڅه کې کېښود، د کوڅې په هر پل او هر ګوټ کې خپل د پښو پلونه لیدل، چې څنګه په خوښۍ او خوشالۍ سره ښکته او پورته منډې وهلې، ځان به یې د کلي په پیغلو کې ولید چې په شوخۍ او مستۍ سره کله د اوبو او کله وښو راوړلو پسې د صحرا خوا ته ځي.
لیلا به یې ولیده له، چې ټولو نجونو ورته سرونه وړاندې کړي هغې به یا د ټوکو او یا هم د خندا لړونکو خبرو په ویلو ټولې خندولې. بې واکه یې په



CamScanner

وچو او چاودو شونډو، چې په مياشتو مياشتو يې خندا نه وه ليدلې، سره او بې روحه خندا ښکاره شوه. د پېغلو د شور او مستۍ غږونو چې د اوبو پسې تللې راپه خود کړه. وخت تکرارېده، هرڅه په خپل ځای وو. شوخي، مستي او خوشحالي دا ټول په خپل ځای وو پر ته د دې د وجود له گل څخه، چې ډېر مړاوی شوی و او ډېر ته سترگې په لار و، چې د مرگ تريخ نسيم را وا لوزي او دا مړاوی شوی گل له بوټې څخه جلا کړي بيا يې پاڼه پاڼه او له ځان سره يوسي تياره او سوړ گور کندې ته يې ورگوزار کړي. وروسته له يو مودې دې له يادونو او خاطرو څخه پاکه شي. په ډېر زحمت سره يې چاودو شونډو څخه خندا را ټوله کړه.

کليوالې پېغلې، چې ټولې د دې د ملگرې وې؛ خو د ناروغۍ د وېرې له امله يې نه شول کولی زينب سره وويني او ياخبرې ورسره وکړي؛ نو ټولې غلې شوې گامونه يې ورو کړل، چې زينب سره مخ نه شي. ورڅخه لرې وي او نه يې غوښتل، چې يو ځل بيا دې دا او د دې يادونه په زړه کې راژوندي کړي کله، چې زينب د دوی په دې غبرگون وپوهېده خپل گامونه يې گړندي کړل. سره له دې، چې پښو يې د تللو توان نه درلود؛ خو هڅه يې کوله، چې له هغوی څخه واټن واخلي.

کله يې، چې په هديره کې په خپلې جونگړې، چې د دې ژوند کولو نوی کور و سترگې ولگېدې. زړه يې لکه د مرغۍ، چې سر يې ورڅخه پرې کړی وي او هرې خواته ټوپونه وهي پښې او وزرې غورزوي، په ټوپونو وهلو شروع وکړه. بېواکه ټوپونه يې وهل. هغې خوارې له يوازېتوب څخه ډېر وحشت درلود. کله چې خپلې وړې کوټنۍ ته ورسېدله. پښو يې د تللو ځواک له لاسه ورکړ په خپل ځای کې ودرېدله، مخ يې شاته واړوه. هغو پېغلو ته، چې له دې څخه ډېرې لرې وې، هغو چې به تل په شور او مستۍ د سيند غاړې ته اوبو پسې تللې او خنداگانو به يې لرې

واټونه په سر اخیستي وو وکتل؛ خو پرعکس نن ډېرې غلې او خپه روانې وې؛ ځکه هغوی د زینب د دې حالت په لیدلو سره ډېرې غمجنې شوې ارامه او وېرجنې د سیند پر لورې روانې وې. د هغه مستۍ او خندا نښه یې نه لیدل کېدله. د دې بې وزلې او بې مورې نجلۍ په غم یې اوښکې تویولې.

زینب له ډېرې وېرې په جونګړه کې پل کېښود ډېوالونو ته یې وکتل، ډېره ورڅخه وډارشوه، له کوټنۍ څخه یې کرکه کوله. په یوه کنج کې غلې کېناسته، ډېره خپه او نیولې وه. له یوازېتوب څخه یې ډېر وحشت درلود، له خلکو څخه لرې ژوند کول ورته ډېره ګرانه او د نه زغملو وړ وه. هغه خواره ډېره مظلومه شوې وه، ژړل یې او په خپل یوازېتوب یې اوښکې تویولې، تورې تیارې شپې ورو ورو خپلې وزرې غوړولې، توره تیاره خوره شوه، د جونګړې شاو خوا سیمو توره خوله زینب ته خلاصه کړې وه غوښتل یې له ستوني یې تېره کړي. زینب په خپله جونګړه کې څراغ روښانه کړ، خوا و شا تیارې خپله واکمني کوله نه د کوم څراغ او یاهم د بل څه رڼا تر سترګو کېدله، زینب په یوه کنج کې غلې ناسته وه له ډېرې وېرې ان له خپل سیوري، تېوخي او ساه څخه هم وېرېدله اخر په ژړا شوه، له خپل غږ څخه هم وېرېدله. هېڅوک نه وو، چې ورسره خبرې وکړي او یا هم دې ته ډاډېنه ورکړي. په زوره زوره یې چیغې کړې ټوله هدیره او ان لرې واټونو ته ورسېدې، په چیغو او ژړا یې وویل: مورې ته چېرته یې، زه خو ستا په څنګ کې یم ته ما وینې، زه د دې لپاره دلته راغلې یم، چې راسره خبرې وکړې، غمونه راڅخه واخلې، یو ځل بیا راته لور ووایې دغه خوږه کلمه دې یوځل بیا واورم؛ نو دې خاموشه او وېرونکې ځای ته له تا پسې راغلم. هیله کوم مورې په دغې بېچاره، دردمنې، رنځورې او د ټولو خلکو له خوا په شړل شوې لور باندې رحم

وکړه. خبرې راسره وکړه نوره له ډېرې وېرې، یوازېتوب او سکوت څخه مرم دا هرڅه په یوازې توګه ستا بې وزله لور نه شي زغملی. مورې زه ستا هماغه شوخه، مسته، خندانه لور یم، چې تل به د هرې ډلې او هر ځای د سر ګل وم. چېرته به مې، چې پل کېښود ټول به مې په شور مستۍ او خندا راوړل په یوه شیبه کې به مې له ټولو غمونه هېر کړل. غمونو به هم را څخه ځان په څنګ کړ؛ خو اوس زما خپل زړه له غمونو او اندېښنو څخه ډک دی او هېڅوک نشته، چې ما له یوازېتوب او رنځونو څخه وژغوري. مورې هیله کوم زما د خوږمن زړه فریاد واوره، خواته مې راشه، چې پرته له تا بل هېڅوک نه لرم.

د هدیرې خوا او شا سیمې او قبرونه ټول ساړه او خاموشه وو، هېڅوک نه و، چې د زینب په غم دې وژاړي. د هغې چیغو او کوکو ته دې ځواب ورکړي.

زینب خپله ناوکۍ ټینګه په غېږ کې ونیوله. ناوکۍ له شنو سترګو سره، چې د محسن د شنو سترګو نښه وه غلې او بې دمه د زینب سترګو ته کتل. زینب هغه زړه ته رانږدې کړه او ویې ویل: (ای محسنه ته چېرته یې، آیا که ته هم په دې ځای کې وای بیا به هم زه داسې بېچاره او بېکوره کېدلم، داسې یوازې او بې څوکه په دې هدیره کې د قبرونو له مړو سره خوشې کېدم، محسنه ته راسره خبرې وکړه، نور دا وېره او یوازېتوب نه شم زغملی، نوره ژوندۍ نه شم پاتې کېدلی، څه وکړم، ستا د بېلتون غم راته تردې غمونو هم ډېر دردونکی او زورونکی او د نه زغملو وړ دی، ای پروردګاره! ته له دې بېوزلې نجلۍ سره مرسته وکړه، چې وکولی شي دا هرڅه کړاونه وزغمي.

شپه له نیمایې اوښتې وه. د زینب وېره شیبه په شیبه نوره هم ډېرېدله، لکه د غنې یې په ټول بدن کې تار زغلولی و او له پښو یې غوږځولې وه.

پرته د سپو له غپا څخه نور د هېڅ شي غږ نه راتلو. د کوټنۍ ور یې له دننه له ځان پسې تړلی و، هغه نجلۍ به، چې تر پرونه د مور په غېږ کې ویده کېده، هغه چې د ټولو د زړه ټوټه وه، هغه چې ټول به له هغې سره له کېناستو خوند اخسیته، ځوانانو به هیله لرله، چې یو ځل دې ورته دا په غلچکو سترګو وګوري هغوی به ورته ان له سره هم تېر وو؛ خو نن ټول له هغې او له هغې سره له خبرو کولو څخه وېره لري، لکه د طاعون داسې خطرناکه شوې وه ټول ورڅخه وېرېږي، ځانونه ورڅخه لرې ساتي. د مور د غېږ پرځای یې توره هدیره په برخه‌شوه، په خیالونو او اوښکو تویولو سره داشپه هم تېره شوه، رڼا ورو ورو د تیارې زړه وشکوه. لمر خپلې زرینې وړانګې د غرو له شا څخه هر لورې ته وغزولې. زینب د بې خوبۍ له امله له نورو ورځو څخه زیاته په کړاو وه. له کوټې څخه دباندې را ووتله. په کلي کې اله ګوله وه خلک خپلو کارو پسې له کوره وتل. هرڅوک په خپلو کارونو بوخت وو، زینب کلي ته نظر واچاوه، له کورونو غېږې، غېږې لوګي پورته کېدل او د هوا په څپو کې به ورک شول. د پسونو د پښو ښکالو او رمبارې او هم د زوړ شپونکي د هۍ هۍ غږونه زینب لپاره ډېر په زړه پورې و او خوند یې ورڅخه اخیست. کلیوالي ژوند په انسان کې د ژوند کولو شور او شوق ژوندی کوي. سره له دې، چې کلیوالي ژوند ډېر ساده او ابتدایې وي؛ خو بیا هم له مینې او محبت شور او مستۍ څخه ډک وي. ولې اوس زینب خواره له ټولو نعمتونو څخه محرومه وه، هغې خپل ځان د هدیرې په غاړه جونګړې کې په ژوند کولو محکوم ګاڼه اوکلي ته د تللو هیله یې نه لرله او نه یې هم د تللو حق درلود. په تاثر او ناهیلۍ سره خپل غم ځپلی او سوړ نظر یې د کلي هر ګوټ او هر کورته، چې نسبت یو بل ته له شور، مهربانۍ او شوق څخه ډک و، واچوه له محسن او زهرا څخه یې هم کوم خبر نه درلود. له یوه پلوه



CamScanner

غم او درد، له بله پلوه، د محسن اند یښنې او بې خبرۍ سره لاسونه ورکړي وو او زینب یې له پښو غورځوله.
زینب نه پوهېده، چې ایا زهرا کلي ته راغلې او که نه. له ځان سره یې وانګېرل: (ایا زهرا هم له ماڅخه وېرږي، کر که راڅخه کوي. زه دومره وحشتناکه شوې یم.) یوه شېبه په خپلو سوچونو کې ډوبه شوه، وروسته یې له ځان سره وویل: (زهرا ګرمه نه ده، چې له ما څخه وېرېږي، ولې پرېږدي چې زما په څېر په شوم برخه لیک اخته شي. ولې په دې وژونکې ناروغۍ ځان اخته کړي باید هغه دې له ټولو ښه ژوند ولري او هم یې داحق دی؛ ځکه هغه لا ځوانه ده د داسې یوې ناروغۍ وړ نه ده.)
په دې شېبه یې د نجونو په ډلې،چې سیند غاړې ته په شور، مستۍ او خوشالۍ اوبو پسې تللې سترګې ولګېدې.
له ځان سره یې وویل: (ولې زه لکه د دوی سالمه او په حال نه اوسم، چې زه هم وکولی شم له دوی سره څنګ په څنګ په خوښۍ او خوشحالۍ لاړه شم.)

یو ځل بیا یې د سترګو هسک په وربښت راغی، له ځان سره یې په خپلې ځوانۍ افسوس کاوه، چې ناڅاپه یې سترګې په یوې نجلۍ ولګېدې، چې دې خواته منډې وهې. دا ورته ښه ځیر شوه کله، چې هغه لږه رانږدې شوه زینب وپېژندله، چې لیلا ده، لومړی د هغې په لیدلو ډېره خوشحاله شوه، ویې ویل؛ یانې داسې څوک هم شته، چې زما په فکر کې دی، زه یې لا نه یې یم هېره کړې؛ خو بېرته ژر یې په زړه کې وېرې ځای ونیوه خولې ورباندې راماتې شوې، نه یې غوښتل، چې څوک دې ورته نږدې راشي، لیلا چې دې ته رانږدې شوه دایې په دې حالت کې ولیده په ژړا شوه او ویې ویل: ګرانې! دا څه ډول ژوند دې. ښه رانږدې شوه سلام یې واچوه،

زينب وروسته له سلام او روغبړ څخه وويل: ليلا پام، چې رانږدې نه شي هيله کوم همالته لرې کېنه.

_ سمه ده ګرانې اندېښنه مه کوه تاته نه نږدې کېږم.

وروسته په يوې تيږې، چې له زينب څخه څو ګامه وړاندې ايښې وه کېناسته. په چيغو چيغو ژړېدله، سلګۍ يې وهلې، ژړا د خبرو وار نه ورکاوه،

زينب وويل: ليلا هيله کوم مه ژاړه دا ژړا، کوکې او سورې هېڅ ګټه نه لري. پرته له دې، چې غمونه مو نور هم رازيات کړي.

لومړی راته دا ووايه، چې له محسن يا زهرا څخه کوم خبر لرې او که نه.

_ له محسن څخه نه يم خبره؛ خو زهرا ښار ته تللې او لا تراوسه نه ده راغلې. زينب نوره اندېښنه مه کوه د ورځې له خوا به هره ورځ زه ستا ليدو ته راځم يو څو شپې به دې له يوازيتوب څخه ساتم. غمونه دې له ما سره وېشه، وروسته يې د عباسقلي د مرګې کيسه چې دوی کره راغلي وو، ټکې په ټکې وکړه. د ليلا غبرګون او کړنې چې د عباسقلي پر وړاندې يې کړې وې زينب په خندا کړه. زينب ورته وويل: ليلا عباسقلي له ما سره هېڅ کوم بد نه دي کړي، هغه ډېر ښه سړی دی ډېر پاک زړه لري؛ خو ګناه زما ده، ځکه ما ونه شول کولی، چې له هغه سره مينه وکړم، ژوند ورسره تېر کړم.

ليلا وروسته له څو ګړيو، چې زينب يې له يوازېتوب او خپګان څخه ايستلې وه، د هغې پام يې غلط کړی و، ژمنه وکړه، وروسته له دې به هره ورځ د دې ليدو ته راځي. مخه ښه يې واخيسته او د سيند د غاړې لاري يې ونيوله، هلته اوبو پسې لاړه. د هغې ورځې په سهار، چې د زينب په زړه کې يې د خپل راتلو هيلې غوړولې وې. زينب د پېغلو ډلې ته وکتل، چې خنداګانو غړونه يې ان تر دې رارسېدل. د اوبو پسې تللې. هغوې

یې له نظره تېرې کړې، بیا یې خپلې هیلې او خیالونه د واقیعت له دریڅې ځخه ولیدل. له ځان سره یې وویل: څومره ژر مې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ.
په نجونو کې یې همداسې سترګې ټومبلې وې، هېڅ یې پام نه شو چې زهرا دې خواته په منډو او ټوپونو راځي. له سترګو یې د اوښکو پر ځای وینې تویولې کله، چې زهرا زینب ته رانږدې شوه. په زوره زوره ژړایې هغه متوجه کړه، په زحمت سره یې پاکې او معصومې سترګې د پېغلو له ډلې ځخه وګرځولې او د غږ لور ته یې واړولې، ځنګه یې چې زهرا ولیده، خپل ټول غمونه، دردونه او ناروغي ورځخه هېره شوه. غېږ یې ورته پراخه کړه. سمدلاسه ناتوانه او بېروحه پښو یې بېرته هغه د ژوند تریخ واقیعت ته راوګرځوله. له خپلې کړنې ځخه، چې ترسره کوله یې ووېرېدله. په خپل ځي بېرته ودرېدله؛ خو زهرا لا هماغسې په چیغو او ژړا دې خواته په منډو وه، زینب په ضعیفه او ناتوانه غږ هغې ته سوګند ورکړ څو د پښته رانږدې نه شي، دې سوګندونو یوه شیبه هغه پښه نیولې کړه؛ خو بېرته یې هغې ته پاملرنه ونه کړه د پخواته را روانه شوه. ځان یې را ورساوه.
زینب په شا لاړه ځان یې د پوال پورې سلېخ کړ او د پښته په زاریو سره شوه، چې ماته مه رانږدې کېږه؛ خو زهرا د هغې خبرو ته غوږ نه اېښوده ځنګ ته یې ورغله کلکه یې په غېږ کې ونیوله. داسې د زړه له سوزه یې ورته ژړل، چې ان د هوا مرغۍ یې هم په ژړا کولې. په مخ او سر یې ښکلوله وروسته له څو ګړیو د زهرا ژړا لږه غلې شوه، زینب چې ټوخې خبرو ته نه پرېښوده په ضعیفه غږ وویل: زهرا محسن اوس ځنګه دی؟
زهرا، چې د زینب وچ کلک او بېروحه لاسونه په خپلو لاسونو کې نیولي وو او د دې په برخه لیک یې افسوس کاوه ویې ویل: ګرانې وروسته له

څو ورځو محسن له روغتون څخه رخصت کوي، کله چې ما ستا د طلاق په اړه هغه ته وويل. هغه ډېر خوشحاله شو؛ خو زه په دې نه پوهېدم، چې ته په دې وږونکې ناروغۍ اخته شوې يې، څو ځلې ستا ليدلو ته راغلم تا نه غوښتل ما ووينې، د خلکو له خولې مې واورېدل، چې ته په دې ناوړه رنځ اخته يې؛ خو د هغوی په خولې مې باور ونه کړ بابېزه مې وګڼله، همدا اوس له ښار څخه راغلم تا پسې خپه شوې وم، ډېره مې يادېدلې، کله چې ليدلو ته دې ستاسې کورته لاړم هلته ته نه وې کور راته خالي معلوم شو، بيا مريم ستا په اړه په هرڅه وپوهولم. زينب له کله مې، چې محسن ستا له طلاق څخه خبر کړی، په زړه کې يې نوې هيلو غوټۍ کړي. له ډېرې خوښۍ يې ورځ په ورځ حال ښه کېږي.

د زينب د سترګو چينه، چې د څوشپېو لپاره وچه شوې وه د زهرا په خبرو يو ځل بيا په جوش راغله. د ژړا په څپو کې يې وويل: زهرا ډاکټران هم زما له علاج څخه په شا شول هغوی وايي اوس دې کار خلاص دی، د روغېدو هيله دې نه ده پاتې، همدا دې د ژوند وروستۍ شپې ورځې دي، لکه د شمع، چې وروستۍ سلګۍ يې په خوله وي، اوس هېڅوک نه شي کولی مادې وژغوري.

ټوله ورځ زينب او زهرا په ژړا تېره کړه، وروسته له دې ورځې زهرا به ټوله ورځ له زينب سره تېروله، ډېر وخت به يې له دې سره و؛ ترڅو په دې کار سره وکولی شي لږ تر لږه زينب له يوازېتوب څخه وژغوري. زهرا به زينب ته ډاډ ورکاوه، هغه به يې ژوند او يوې روښانه را تلونکې ته امېدواره کړه. يوه ورځ زهرا زينب ته زيری ورکړ، چې نن محسن له ښار څخه راځي؛ نو بايد زه د هغه هر کلي او مېلمنو لپاره، چې د محسن ليدلو ته راځي په کور کې پاتې شم. ډېره بوختيا لرم نه شم کولی ټوله ورځ له تا سره تېره کړم. ما وبخښه.

زينب د دې پرځای، چې د دې خبر په اورېدلو خوشحاله شي. غم اند ېښنې يې ټول بدن کابو کړ ورته يې وويل: زهرا کاشکې مخکې له دې، چې محسن کلي ته راستون شي او له ماسره مخ شي زه دې ژوندۍ نه يم تل لپاره مې دې له دې د غم او ټولو کړاونو له نړۍ څخه سترګې پټې کړې وي. زړه مې نه غواړي، چې نور له محسن سره ووينم، هغه سره دې سترګې مخ کړم؛ خو د دې خبرو په خلاف يې زړه بل څه ويل. يو ځل د محسن ليدلو هيله يې لرله، د هغه ليدلو پسې يې بېوا که ټوپونه وهل. ولې له محسن سره له مخ کېدلو څخه يې وېره لرله، وېرې او وحشت. په زړه کې يې لکه د وېرونکې بلا منګولې ښخې کړې وې او هغه يې ډېر زوروله. څو مياشتې يې دې ورځې ليدوته انتظار ايستلی و. زهرا ورڅخه مخه ښه واخيسته په چټکو ګامونو د کور پر لور لاړه او دلته يې زينب د غم او سودا څخه ډک زړه يوازې پرېښود ه. خوښۍ سره له وېرې او اضطراب هغه يوه عجيبه حالت ته رسولې وه.

څو مياشتې د خپل محبوب له بېلتون څخه وروسته اوس يې ليدل،چې خپلو هيلو ته د رسېدو په حال کې ده. ژوند ورته خپله نوې بڼه ښکاره کړې وه، ډېر ورته خوږ، په زړه پورې او ښکلی شوی و.

زړه يې نه غوښتل،چې د مخ ګل يې د خزان څپې مړاوی کړي او د چنار ونه يې د زمانې تاړاکونه ورماته کړې او محسن يې په دې حالت کې ويني.

محسن سره د ديدار له شېبې وېرېدله، باور يې نه کاوه، چې هغه دې وکولی شي دا هرڅه وزغمي، زړه يې نه غوښتل په داسې حالت کې، چې رنګ او څېره يې له منځه تللې، د ګل په څېر ځوانې يې پاڼه پاڼه شوې او د سل ناروغۍ بې رحمه دورې يې په وجود، الوتې څېرې، کندو سترګو، ناتوانه وجود او لړزانه لاسونو کې له ورايه څرګند ېږي محسن ويني.

زړه نا زړه وه هم يې د محسن د ليدلو هيله په زړه وه او هم يې ورڅخه وېره
لرله، د محسن ښکلې او زړه راښکونکې څېره يې د سترګو پر وړاندې
انځور شوه، سترګې يې پټې کړې نور يې د محسن د ليدلو توان نه
درلود، شپېږ يې شمېرلې، په زړه کې يې شور او غوغا ګډه وه، په زړه
يې وېره ننوتې وه، ټوخې هم وار ورڅخه خطا کړی و. لاسونه او پښې يې
لکه پاڼه رپېدل. سينې يې هم شديد درد کاوه او له دوه ورځو راهيسې
يې تبه هم ډېره شوې وه شپه ورځ يې نه پرېښوده.
يو ناڅاپه يې د موټر غږ، چې پوهېدله مينه او ځان يې په کې ناست دی
ترغوږ شو. زړه يې په ټوپونو وهلو پيل وکړ بېواکه ټوپونه يې وهل.
ښايې ګوګل به يې د وړوکي زړه دځای ګنجايش نه درلود. په ټول
ځواک د خوښۍ او خوشحالۍ په چيغو شوه؛ خو ناتوانه او ضعيفه غږ
يې د هديرې شا او خوا راتاو شو او هېڅا غوږو ته ونه رسېد. د خپلې
جونګړې له کړکۍ څخه، چې سړک ته مخامخ وه موټر او د موټر سورلۍ
له نظره تېره کړه، محسن مخکې له دې، چې کلي ته ورسېږي روح يې د
کلي په ټولو کوڅو او کورونو کې د خپل ورک شوي څېز پسې په لټه
کې و؛ خو خپل هغه ورک شوی څيز يې ونه موند، هم خوشحاله او هم خپه
و.
خوشحاله په دې و، چې وروسته له ډېرې مودې به خپله محبوبه ګوري.
خپه په دې و نه پوهېده، چې ولې کلي ته له تللو څخه وېره لرله. زړه يې
بده ګواهي ورکوله، يو عجيبه احساس او مرموزې اندېښنې يې په زړه
وزرې غوړولې وې.
د سړک له هغې غاړې د محسن سترګې په هديره کې په جونګړې
ولګېدې د دې جونګړې په ليدلو يې زړه خوبه شو. يوه بېړنۍ وېره او
احساس يې په زړه کې پيدا شو له ځان سره يې وويل: (دا نو د څه لپاره

ده؟) یو ځل بیا د زینب د ښکلو جذابو او جادوګرو سترګو خیال د هغه له مغزو څخه دا افکار وایستل. له ځان سره یې وویل: (زه خو دې ته په تمه وم زینب به زما هرکلي ته د سینند غاړې ته ضرور راځي، هیڅ فکر نه شم کولی، چې دومره ژر دې ما هېر کړي، نه زه هغه له ځانه هم ښه پېژنم. څومره مینه، چې زه ورسره لرم تر هغې زیاته مینه هغه له ما سره لري، همدا اوس به هم زما لیدلو ته شېبې شماري، حتماً به له زهرا سره د کور په کار کې مرسته کوي او ویې نه شول کولی، چې زما لیدلو ته راشي.)
موټر د کلي پر لور پر مخ تللو. زینب هم څومره هیله لرله، د محسن هرکلي ته لاړه شي او د هغه د راتلو په خوښۍ کې له خلکو سره ګډون وکړي. له ځان سره یې وویل: (کاشکې، چې محسن زه هېره کړې اوسم، سره له دې. چې دانه شم زغملی؛ خو دا به د محسن په ګټه وي. زه کولی شم، چې دا هرڅه دا ټول غمونه په یوازې توګه وزغمم.)
په خپلو خیالونو کې ډوبه وه، نور د موټر غږ نه اورېدل کېده هغه لرې تللی و ناوکۍ ته یې په غېږ کې زور ورکړ او شنې سترګې یې ورته ښکل کړې. طلايې وېښتان یې ورته دانه دانه په ولو راخوشې کړل. بیا یې په غېږ کې ټینګه کړه او ویې ویل: (کله، چې زه مړه شم؛ نو ته به یوازې پاتې شې، خېر محسن ته به دې وسپارم. زه او ته ډېر کلونه سره یوځای و. وروسته زما له مرګ څخه باید ته له محسن سره اوسې.)
یو ځل بیا یې د ګنګې خوښۍ احساس او له محسن سره د لیدلو انتظار ژوند ورته خوږ کړ. سره له دې، چې په دې ښه پوهېدله هرڅه یې له لاسه ورکړي: خو د هغو شېبو په اړه به یې فکر کاوه، هره ورځ محسن له لرې څخه ووینې. په همدې هیله ژوند ته امېدواره شوې وه.
یو ځل بیا د موټر غږ یې غوږ ته ورسېده. په نا توانه او لړزانه پښو یې کړکۍ ته ځان ورسوه؛ خو داخل موټر د دې جونګړې پر لور را روان و.

زينب پوهېده، چې دا به حتماً محسن وي او ليدو ته يې راځي. وېره او خوښي يې سره يو ځای شول، روح يې غوښتل خپله ازادي تر لاسه کړي، خکه هغې د دې شېبې د ليدلو توان نه درلود، لمر ورو ورو خپلو ژېړې وړانګې را ټولولې او ورو د غرو شاته يې غروب کاوه، دې غروب له نورو ورځو څخه توپير درلود، دا يو وحشتناکه او وېرونکی غروب و. موټر هم د هديرې زړه څېرې کاوه او په څغاسته د پخواته راروان و. دغه شېبه، ډېره حساسه شېبه وه، د دوه ناکامو مينانو د ديدار شېبه، چې يوې يې په زرهاو هيلې او ارزوګانې له ځان سره لرلې او بلې يې له ژونده ناهيلې، بېزاره او رټل شوې پښه يې د ګور په غاړه اېښې وه.
زينب په کوټه کې له يوه عجيبه حالت سره لاس او ګرېوان وه، ځان يې د کوټې دېوال پورې ونښلاوه. سترګې يې پټې کړې نه پوهېده دا شېبه څه ډول وزغمي، رنګ يې لکه د ګچ تک سپين اوښتی و. لاسونه يې رپېدل، داسې لړزې نيولې وه ان کولی يې نه شول. ناوکی دې په غېږ کې ونيسي، له لاسونو څخه يې خوشې شوه او پر ځمکه ولوېدله. موټر دلته نږدې ودرېده، د موټر د غږ له غلي کېدلو سره د محسن غږ، چې چيغو او ژړايې ټوله هديره په سر اخيستې وه، چې دا يې هم په ژړا کړه. دا صحنه د کرکې او خوښې، تاثر او تاسف، غم او ماتم صحنه او شېبه وه. محسن په زوره ژړل کوټې ته يې په منډه ځان ورساوه. د زينب. زينب نارې يې وهلې. چيغې يې کړې وه زما رنځورې او غم ځپلې زينب. ځان يې هغې ته ورسولو. زينب خپل زنګنونه کلک په غېږ کې نيولې وو، سر يې په وچو، ضعيفه او ناتوانه پښو باندې اېښی و. تورې اوږدې زلفې يې ول په ول په ولې پرتې وې. ولې يې د ژړا له شدت څخه ښکته پورته الوتل، محسن يې په تورو وېښتانو لاس تېر کړ او ويې ويل: ګرانې دا له تا سره يې څه ډول چلند کړی. چې دې حالت ته يې رسولې

یې. په ساعتونو ساعتونو دواړو سره ګیلې او زړه خواله وکړه، محسن د خمکې، اسمان او زمان له شرخ څخه سر ټکاوه. ویې ویل: اوس زه راغلی یم هر څه به سم شي زه به خپل ژوند خپله ټوله شتمني له تا ځار کړم. په هر ډول چې وي زه به له تا څخه بېرته پخوانۍ زینب جوړوم. زینب لا تراوسه سر د غم په زنګون ایښی و محسن یې لا نه و لیدلی، د محسن له مخ څخه شرمېدله، سترګې یې ورسره نه شوې مخ کولی، د هغه د مخ د لیدلو جرئت یې نه درلود. محسن وویل: زینب هیله کوم نوره غلې شه مه ژاړه. سردې راپورته کړه زه غواړم ستا خمارې سترګې ووینم.

زینب سر راپورته کړ. د دواړو سترګو یوځل بیا خپله نړۍ وموندله. د هغوی په سترګو کې به تل پسرلی ښکارېده، د ځوانۍ، ښکلا او رنګینو پسرلی؛ خو دا پسرلی ولې دومره غمجن او خاموشه و. ولې غوټۍ یې نه نیولې. ولې یې ګلان نه کول، ولې په ټولو ځایو کې تیاره خپره وه، ولې د مرګ وږمو ټول ځایونه په سر اخیستي و. وروسته له څو دقیقو. چې دواړه یو د بل په سترګو کې ډوب شوي ول. محسن وویل: زما ګرانې او مهربانې دې نا مهربانانو او بدمرغو په تا څه کړي؟ ولې یې دا د ګل په څېر وجود په اور سېزلی، تا خو رښتیا ویل. چې دوی غواړي تا قرباني کړي او په خپله موخه کې دا دی بریالي هم شول.

د زینب په خزان وهلې څېره کې یې سترګې ښخې کړې وې ویې ویل: زینب ته باید هغې پخوانۍ زینب په څېر روغه شې او زما د کور ښکلې ناوې جوړه شې، نور نه پرېږدم څوک دې موږ سره جلا کړي او یا دې راڅخه تا واخلي.

د ناوې کلمه. چې د محسن له خولې ووتله د زینب هډوکې او ان ټول وجود یې لمبه کړ، په ژړا سره یې وویل: محسنه زه نوره ستا نه؛ بلکې د هدیرې ناوې یم، ته ګورې، چې زه له خلکو څخه لرې شوې یم. د سیند

غاړې ته د تللو هيله به له ځان سره قبر ته يوسم. زه اوس دلته د مرګ کاروان ته سترګې پر لار يم. يوازينۍ هيله مې ستا ليدل وو، دادې د ژوند په ورستيو شېبو کې مې دا هيله هم ترسره شوه.

توخې يې شېبه په شېبه ډېرېده. هېڅ وار پکې نه راتلو. په زحمت سره يې توخې په ستونې کې زندۍ کړ او ويې ويل: محسنه هيله کوم څو، چې زه ژوندۍ يم ليدلو ته مې راځه نوره مې يوازې مه پرېږده، هره ورځ څو شېبې له کوډلې څخه دباندې کېنه زه به دې له لرې د ښکلي مخ ديدن کوم؛ خو نه غواړم، چې جونګړې ته رانوځې، زه ستا په ليدلو کولی شم ټول غمونه او دردونه هېر کړم، زه د خپل ژوند سلامتي ستا په وجود کې وينم حس کوم يې.

محسنه ته نه پوهېږې په دې دومره موده کې، چې ته نه وې څه نه و، چې ومې نه ليدل، څه دردونه، څه غمونه، څه کړاونه دا هرڅه مې په يوازې توګه زغمل.

زړه مې له غمونو څخه ډک و؛ خو غمخور مې نه و، د زړه وينې مې څښلې او وينې ژړېدلم؛ خو نه ته او نه زهرا دلته واست، ته چې تل زما د صبر تيره وې، د رازونو محرم او د هر درد همدرد مې وې؛ خو له ما څخه ډېر لرې وې.

زينب د هجران او بېلتون سختې شېبې محسن ته بيانولې، د زړه غمونه يې ورسره شريکول، محسن زينب ته پام شو، چې لړزه يې همداسې ورو ورو نوره هم زياتېږي. لکه د پاڼې سر نه تر پښو لړزې نيولې وه. محسن ډېر ورخطا شو، يوه شېبه يې هم ورڅخه سترګې نه اړولې، محسن وويل: سبا سحر ته په خېر سره دواړه ښار ته ځو. هلته به دې په يوه روغتون کې بستر کړم. ته بايد ښه شې، بايد لکه د نورو ژوند وکړې، زه او ته به له سره نوې ژوند پيل کړو داسې ژوند، چې له خوښيو او خوشحاليو څخه

ډک وي. بويه، چې ته ښه شې. زه دې نوره نه پرېږدم. چې يوه شېبه هم زجر وباسې. لکه ځنګه مې. چې هيله لرله هماغسې به دې د کلي تر ټولو نېکمرغه کړم.
زينب لکه تر ټولو موسيقيو خوږه نغمه اورېده او د خيالونو هسک ته الوتې وه ټکان وخوړ، ويې ويل: نه محسنه نوره د ښه کېدلو نه يم ته نه پوهېږې. چې سل راسره څه کړي دي. زړه يې راته له کاره ايستلی. زه نوره د ژوندو له ډلې ځخه وتلې يم. زه اوس د مړو په کتار کې يم هغه مړې يم، چې خپله وروستۍ سا وباسي. زه نوره دې هديرې پورې اړه لرم او اصلي ټاټوبی مې اوس دا خاموشه هديره ده: خو ته هم په دې وپوهېږه زما ځانه، چې تا په خپلو راتلو سره زه د کلي تر ټولو نجونو نېکمرغه کړم.
زه په ټول عمر کې دومره نه وم خوشحاله شوې، لکه څومره خوشحالي او خوښي راته اوس تا راوبخښله. سره له دې. چې خپل ژوند مې د دردونو او غمونو په ډګر کې له لاسه ورکړی، خو بيا مې هم زړه له خوشحالۍ څخه تر خولې ډک دی. نن شپه مې د زړه هسک ډېر روښانه او له ستورو څخه ډک دی. نن شپه مې د خوښۍ او نېکمرغۍ خوند وڅکه. زه تل او په هرځای کې يوازې ستا په څنګ کې نېکمرغي احساسوم او اوس هم دادې ستا په څنګ کې يم: نو همدا راته بسيا دي. محسنه مګر انسان له ژوند څخه څه غواړي. ما اولس کاله عمر تېر کړی؛ خو هېڅکله مې هم لکه د نن ورځې په څېر د خوښۍ احساس نه دی کړی او نه هم دومره خوشحاله شوې وم. اوس کولی شم ښه په ارامۍ سره ومرم او ښه په خوښۍ ورڅخه هرکلی وکړم.

محسن او زینب دومره سره په خبرو او ګیلو راغلي وو هېڅ نه پوهېدل. چې څنګه وخت تېرېږي. د جونګړې تیارې هغوی متوجه کړل، چې واکمني د شپې په لاس ده.

شپې هم خپل تور او تیاره ځادر په کلو او هدیرې غوړولی و. محسن له ځایه پورته شو تلو ته یې ځان چمتو کړ د زینب وچ کلک او بې غوښې لاسونه، چې یو وخت د ښایست نښه وه په خپلو لاسونو کې ونیول او ویې ویل: را پورته شه ګرانې، چې کورته ځو باید نوره یوه شېبه هم په دې تیاره او سړې هدیره کې یوازې ژوند ونه کړې.

_ نه ګرانه که ته زما خوښي غواړې پرېږده زه اوس دلته ډېره خوشحاله یم، اوس له دې ځای او دی قبرونو سره عادت شوې یم که څه هم په اولو وختونو کې راته ډېره ګرانه وه ډېره وېرېدلم؛ خو اوس ورسره عادت یم.

محسن د زینب ارامو، معصومو او پاکو سترګو ته وکتل وپوهېده، چې زینب رښتیا وایي. محسن سره له دې، چې نه یې شول کولی له زینب څخه لاړ شي او هغه دې په دې تیاره او وحشتناکه هدیره کې یوازې پرېږدي؛ خو مجبور و کورته لاړ شي اوس یې خپله لېوالتیا زینب سره له پخوا څخه هم ډېره لیدله. له کلي څخه یې کرکه کېدله. د زینب له کتلو، چې زارۍ ورکې ځپې وهلې او له ورایه څرګندېدلې په دې وپوهېده، چې زړه یې نه غواړي د محسن له جذابه او مېړانې څېرې څخه سترګې واړوي، په چټکو ګامونو له کوټې څخه ووت.

زینب یو ځل بیا له خپلو دردونو او رنځونو سره یوازې پاتې شوه، په سوچونو کې ډوبه شوه، خپل خیالي ژوند په اړه یې فکر کاوه.

درد یې هم ورو ورو مخ په ډېرېدو و، شپه ورته ډېره اوږده او سترې کوونکې شوې وه، شېبې هم یوه تر بلې اوږدېدلې.

٥

ای خدایه دا نن شپه څه راباندې شوي؟ ټوخی مې هم نن شپه ډېره زوروي؟ شدیدې تبې یې ضعیفه او رنځوره ځان په جوش راوړی و.
شپه په شپه یې حالت نور هم خرابېده.
شوپرکونو یې د سترګو پر وړاندې د مرګ نښا نښلولې وه. تورې بادامې سترګې یې بیاهم نمناکې وې. د ګیدړو شومو او وحشتناکو غږونو د هدیره ټوله شاو خوا سیمه په سر اخیستې وه. زینب په خپل ځي کې زګېروي کول. اوس یې له مرګ څخه کرکه لرله، ډېر ورڅخه وېرېدله. له ځان سره یې وویل: (نه زه اوس نه غواړم د مرګ کندې ته لاړه شم اوس؛ خو زما ځان زما محسن بېرته راغلی.)
د محسن شنې خمارې سترګې یې د سترګو پر وړاندې انځور شوې. په سترګو کې یې د اوښکو سېلاب د بهېدلو په حالت کې و، چې یو نامرېې لاس راځي او محسن ورڅخه لرې له ځان سره وړي. زینب خپل لاسونه په تشه فضا کې اوږده کړل په چیغو او ژړا سر شوه او ویې ویل: (نه محسنه ته بویه ما یوازې پرېنږدې، له ما څخه لرې مه ځه، زه اوس له مرګ څخه ډېره وېره لرم، زه غواړم، چې ژوند وکړم او هره ورځ تا ووینم، نه پرېږدم د مرګ تور سیوری دې په ما وغوړځي.) په دې شپه یې خپل پلار په زړه راوورېد، زهرا او لیلا پسې هم ډېره خپه شوې وه. د رحیم لیدلو پسې یې زړه ډېر تپېده. له کومه راهیسې، چې نوي کورته راغلې وه، خپل پلار یې نه و لیدلی، په دې پوهېده، چې پلار یې ورڅخه شرمېږي او مخ ورسره نه شي مخ کولی؛ ځکه یې لیدلو ته نه راځي. یوازې او یوازې وه، د زړه له سوزه زګېرو او فریادونو د هدیرې زړه سوری کاوه. مور یې هم ژوندی نه وه. چې په خپلې خوانې ولس کلنې لور، چې د مرګ په بستر پرته وه د مهربانۍ لاس تېر کړي او نه یې هم پلارو، چې د لور یې د ژوند همدا اخره شپه وه سر یې په خپل غېږ کې کېږدي او نه یې ورو و، چې د

خور په دې حالت اوښکې تويې کړې. درد ډېره کړوله، په زړه یې ارمان و، چې یوځل بیا هم لیلا او زهرا ووینې، ورسره زړه خواله وکړي، په سترګو یې خړه پرده وغوړېدله، سم یې نه لیدل، له خولې څخه یې هم وینې راسر شوې، بالښت یې په وینو لړلی و.

خواره زینب ځانته ژړېدله، فریاد یې کاوه، د درد له شدت نه یې له خولې ځګېروي پورته کېدل، ناوکی ته یې په غېږ کې ښه زور ورکړ زړه ته یې رانږدې کړه، نه یې غوښتل په یوازېتوب کې مرګ ته غاړه کېږدي او ښه په دې پوهېدله، چې هېڅوک به یې په دې شپه لیدلو ته رانه شي. په ضعیفه او کمزوري غږ سره، چې ډېر په سختۍ اورېدل کېده، وویل: (اه پلار جانه ستا د لیدلو هیله به دې لور له ځان سره ګور ته یوسي، رحیمه ورور ه ته څنګه په پاسته پالنګ خوبونه کوې؛ خو خور دې یوه داسې حالت ته ورسوله اوس راشه وګوره، چې ځوانه خور دې څه ډول په بې کسۍ او یوازېتوب کې ساورکوي).

د ساعت ستنه د شپې په دوه بجو ولاړه وه، کراره کراری وه ټول کلی په درانه خوب ویده و څراغونو هم نور سترګکونه نه وهل. پرته د سپو له غپاري نور هېڅ غږونه نه تر غوږ کېدل، چوپه چوپتیا خوره وه؛ خو کلي ته نږدې په جونګړه کې ډېره غوغاوه د مرګ او ژوند په سر شخړه او جګړه روانه وه، زینب نه غوښتل، چې اوس محسن راغلی هغه یې ژوند ته هیله منه کړې، مرګ ته غاړه کېږدي، که څېرته څو ورځې وړاندې مرګ راغلی وی. پرته له شخړې په ډېرې خوښۍ به مرګ ته تسلیمه شوې وی؛ خو اوس یې نه شو منلی ورسره لاس او ګرېوان وه.

مرګ هم غوښتل هرڅومره، چې ژر شونی وي خپله قرباني له دې نړۍ څخه، چې ډکه له خوښۍ او غمونو، خوږو او ترخو څخه ده پټه او خپلې غېږ کې ورته ځای ورکړي.

تياره او نفرت انګېزه شپه وه. زينب غوښتل يو ځل بيا د لمر وړانګې ووينې. ضعيفه وجود يې شديده ټکانونه خوړل، له خولې يې ښواکه وينې روانې وې ټوله د خوب ځاى يې ورته لوند خيشت کړى و. لاسونه يې د محسن د نکريزو پرځاى په وينو سره شوي وو، ښکلې تورې سترګې يې له وېرې او وحشت څخه رډې راوتلې وې.

نوره نو په رښتيا ډېره نا اميده شوې وه د ژوند هيله يې له لاسه ورکړې وه. يو ناڅاپه يې د پښو ښکالو تر غوږو شوه. کوم څوک په چټکو ګامونو دې خواته راروان دى، له ځان سره يې وويل: ښايي همداسې کوم څه به مې تر غوږ شوي وي، هو تېروتې يم، په نيمه شپه څوک د دې بېوزلې په غم کې دى، چې په توره شپه يې پوښتنې ته راشي: خو نه په رښتيا هم داسې څوک و، چې په دې شپه يې پوښتنې ته راغى. هغه نه وه تېروتې، محسن په دروازه کې ورته ولاړ وو هغه ته له انديښنې او خواشينۍ څخه خوب نه ورته ويې غوښتل راځه د زينب پوښتنې ته لاړ شم وګورم هغه په څه حالت کې ده. ورو يې غږ وکړ او ويې پوښتل: زينب وده خو به نه يې، ته هيښه يې. مخکې له دې، چې د زينب کوم ځواب واوري نرى نرى ځګېروى يې تر غوږ شو، ژر کوټې ته ننوت او ردبلى يې له جېب څخه راوايست او څراغ يې روښانه کړ. څنګه چې رڼا شوه سم له واره په هرڅه وپوهېد، له خولې يې ښواکه چيغې ووتلې. ځان يې د زينب څنګ ته ورساوه، د زينب سر، چې له بالښت څخه ښويه شوى و په خپل زنګون کېښود. ژړا يې کابو کړه ځکه نه يې غوښتل ژړا سره د هغې کړاونه زيات کړي. په خوله يې څه نه ويل؛ خو زړه يې له غمونو او دردونو څخه تر خولې ډک و. زينب چې د محسن په راتللو لږ څه ډاډه شوه زړه يې لږ ځواک پيدا کړ، په ټيټ غږ چې يوازې شونډې يې ښورېدلې څوک وريانده سم نه پوهېده ويې ويل: (محسنه ته يې؟ ښه دې وکړل

په مناسب وخت کې راغلې زما همدا د ژوند وروستۍ شپه او وروستۍ شېبې دي، ډېره وېرېدلم، چې په یوازېتوب کې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړم.
محسنه دا ولې مې دومره رنګ په رنګ کړاونه ولیدل ما: خو د هېچا زړه نه و ازار کړی، د هېچا بدي مې نه وه غوښتې؛ نو ولې نن زه په خپله دومره وزورېدلم، ولې دا لعنتي کړاونه مې له زړه څخه لاس نه اخلي.
محسن نه پوهېده، چې څه ووایي، اصلاً هغه ویلو ته څه نه لرل او نه یې څه ویلی شول، زینب په ضعیفه غږ سره، چې ډېر په زحمت اورېدل کېده وویل: (محسنه دا هیله مې په زړه کې پاتې شوه غوښتل مې. چې یو ځل خپل پلار، ورور او زهرا ووینم.)
محسن وویل: ګرانې هېڅ هیله به دې په زړه پاتې نه شي. زه همدا اوس ځم او هغوی له ځان سره ستا لیدلو ته راولم.
نه محسنه اوس ډېر ناوخته دی هېڅ ګټه نه لري، زه نور دومره وخت نه لرم. ته ما یوازې مه پرېږده هېچېرته مه ځه، له یوازېتوب څخه ډېره وېرېږم نه غواړم، چې په داسې حالت کې دې مړه شم.
_ سمه ده ګرانې هرڅه، چې ته وایې هماغسې کوم خو هیله کوم داسې خبرې مه کوه، زه دې په څنګ کې ناست یم نه پرېږم، چې په تا دې کوم څه وشي.
وروسته یې لاس جېب ته دننه کړ، له جېبه یې یوه وړه کوټۍ راوایستله، په هغه کې یوه ښکلې چله ایښې وه. د زینب لاس یې په خپلو لاسونو کې ونیوه او ورو یې ورته وویل: دا زما او ستا د کوژدې چله ده، زینب ته یې په لاس کړه او د هغې بېروحه لاسونه یې ښکل کړل. نوره یې؛ نو ژړا نه شوه بندی کولی له سترګو یې د اوښکو سېلاب پر مخ لارې وکړې او د ګرېوان لارې یې ونیوله. د زینب سترګې تړلې وې د خلاصولو توان یې نه

درلود. لاس یې، چې د محسن په زنګون اېښی و له پورته کړ او بې نوره سترګې یې په زحمت سره لږې راخلاصې کړې، چلې ته یې وکتل لکه د الماسو داسې ځلېدله، د ژوند ستره هیله یې هم د همدې ورځې لیدل و هغه دی دا هیله یې هم ترسره شوه، بې روحه مسکا یې په چاودو شونډو را ښکاره شوه، یو ناڅاپه یې د محسن لاسونه کلک ونیول. سترګې یې د محسن په مخکې همداسې پاتې شوې. لاسونه یې بې حسه او یخ شول، نرۍ نرۍ سلګۍ یې ووهلې په خپل ځي کې لږه غوندې نېغه شوه بېرته په شدت سره په ځمکه ولوېدله. محسن له خولې بېوا که چیغې وتلې، همدا یو غږ یې کاوه، زینب زما ګرانې. زینب خبرې وکړه: خو نور هېڅوک نه و، چې محسن ته دې ځواب ورکړي. نوره: نو د زینب د ژوند ډیوه د تل لپاره تته شوې وه، د غمونو او دردونو ځخه ډکه نړۍ یې د تل لپاره پرېښوده او تور خاورو ته یې پنا وېږ وړه هلته. چې مور یې هم ورته سترګې پر لاره وه، د مور غېږې ته یې ځان ورساوه. محسن د زینب ناوکۍ ته، چې لا یې په غېږ کې وه او طلایې وېښتان یې ورته و په خپلو وینو لمبولي وو ورڅخه راواخیسته زړه ته یې نږدې کړه، د هغې او خپل په یوازېتوب یې ژړل. وروسته یې د زینب بې روحه ځان په غېږ کې راپورته کړ او له کوټې څخه دباندې ووت.
په کلي کې لا هماغسې خاموشي خوره وه، ټول په درانه خوب ویده وو. د محسن په زوره چیغو او ژړا یې د کلي او کوڅې ټول خلک راخبر کړل. د هدیرې د ناوې او غم ځپلې نجلۍ د مرګ خبر یې د کلي خلکو، د شپې تیارې، د سحر نسیم، غرو رغو او ان سیند ته ورساوه.
چیغو او ژړاو ټوله هدیره او د هدیرې شاو خوا سیمې په سر اخیستې وې. دا د چیغو خاوند پرته له محسن نه بل څوک نه و، همداسې بېوا که او له سوزه ډکې چیغې یې وهلې، ټول ژوندي موجودات یې په سوزنا که

ژړا له ځان سره په ژړا کړل. په ژړا او سلګو سره یې وویل: ای د کلي خلکو راشئ وګورئ غم ځپلې نجلۍ نن له غمونو څخه ازادي ترلاسه کړه، راشئ وه بې رحمو وګورئ ستاسې قرباني له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې د تل لپاره خاموشه شوه. وګورئ د کلي تر ټولو ښکلې نجلۍ، زما د ارمانونو او خیالونو ناوې. یوازې او غمجنه په داسې حال کې، چې تاسې ټولو په بې رحمۍ سره له ځانه شړلې، له غمونو څخه په ډک زړه مو یوازې خاموشه او سړو قبرونو په څنګ کې خوشې کړې وه. دا نړۍ یې تاسې ته پرېښودله. په کلي کې خلک له خوبه را ویښ شول او له کورونو څخه یې د څراغونو رڼا ګانې پورته کېدلې.

په کلي کې یو عجیبه ماتم او غوغا ګډه شوه له هرې لورې د چیغو او ژړا غږونه راتلل. په ځینو کورونو کې خلکو په چیغو چیغو ژړل او ان د ژړا اوازونه یې تر هسکه رسېدل. د زینب د پلار په کور کې، د زینب پلار او ورور یې په زوره زوره ژړېدل. رحیم هم، چې له خپلې کړنې څخه ډېر پښېمانه و خپل سر یې له دېوال سره واهه.

لیلا د خپلې نږدې ملګرې له لاسه ورکولو په ماتم کې مخ او سر شوکاوه او له سره یې موټی وېښتان ایستل. د تیاره شپې په زړه کې د کلي په کوڅو یوه نجلۍ لوڅې پښې په چیغو او ژړا د هدیرې خواته په منډو وه، چې وروستي ځل لپاره هم خپله نږدې ملګرې ووینې هغه پرته له زهرا نه بل څوک نه وه. هغه زهرا، چې د زینب نږدې ملګرې، د هر راز محرمه، د هر غم غمشریکه او د هر درد دوا وه. ښایې چې شپې به هم د زینب بې وزلې نه شوه زغملی؛ نو ورو ورو یې خپل څادر ټولاوه او ځای یې رڼا ته پرېښود. هوا هم لږه لږه روښانه کېدله. زهرا لا همداسې لوڅې پښې په منډو وه، محسن یې ولید، چې د زینب مړی یې په غېږ کې نیولی چیغې وهې، فریاد کوي او اوښکې تویوي، زهرا د زینب پاکې او

معصومې څېرې په لیدلو، چې د سحر نسیم یې له تورو اوږدو وېښتانو سره لوبې پیل کړي یوې او بلې خوا ته یې الوزوي، په زړه یې اور بل شو. هملته ځای پر ځای پر ځمکه کېناستله. پښو یې د دې د وجود د دړلو توان له لاسه ورکړ، لاسونه یې هسک ته پورته کړل او ویې ویل: ای پاکه پروردګاره! د دې بې وزلې د وجود ګل څومره ژر پاڼې پاڼې شو. ای خدایه همدا څو میاشتې وړاندې دې نجلۍ خپل د ښایست اور د هر چا په زړه کې بل کړی و؛ خو څومره ژر خلکو له دې په بې رحمۍ سره دا پاکه نجلۍ وسېزله، لعنت دې وي پر هغه چا، چې دا خواره یې دې ورځې ته ورسوله.

له محسن څخه یې، هیله کوله زاري یې ورته کوله، چې یو ځل زینب پر ځمکه کېږدي چې وروستي ځل لپاره ورسره خبرې وکړي. یو ځل بیا یې هغه ښکلې څېره ووینې. محسن دومره ځان واهه ژړل یې او فریاد یې کاوه، چې ان پښو یې د ودرېدلو توان له لاسه ورکړ. د زینب جنازه یې پر ځمکه کېښوده خپله یې سر ته ورته کېناست. زهرا هم ځان ور ورساوه د زینب سر یې په خپل غېږ کې کېښود. د هغې پاکه او معصومه څېره یې ورته ښکلوله. خلک هم ورو ورو راټولېدل. د زینب ضعیفه او سپین ږیری پلار د ځوانې لور د مړي سرته ناست و او د هغې په بې کسۍ، بې مورۍ او هغه ظلمونه، چې دې وړاندې کړي وو او بلاخره د مرګ کندې ته یې غورزولې وه ژړل او رحیم هم همداسې ژړېده او په ځان یې لعنت کاوه. د زینب د بې کسۍ او رنځ څخه ډک مرګ د کلي لوی او واړه ټول په ژړا کړي وو. زهرا ته ډېره کینه ورتله، چې اول یې له کوره وشړله او بیا یې دې حالت ته راوروسوله هغه وخت یې، چې مرستې او خلکو ته اړتیا وه: ټولو ورڅخه ځانونه ګوښه کول هېڅوک ان پلار او ورور یې هم پوښتنې ته نه راتلل: خو اوس یې ټول سرته ناست دي او د مکر ژړا کوي.

محسن هم پر ځمکه بې هوښه پروت و مور او يو څو نورې کليوالې يې سر ته ناستې وې چا وړباندې اوبه شيندلې او چا يې پښې او لاسونه مږل. څو ځوانانو، چې محسن لا بې هوښه و کلي ته ورساوه، د زينب د جنازې او ټول مراسم د محسن په بې هوښۍ کې ترسره شول. هغه يې د تل لپاره په خپلې جونګړه کې تورو خاورو ته وسپارله. خلک ټول خپلو کورونو ته ستانه شول.

نږدې ماسپښين به و، چې محسن په هوښ راغی، کله يې چې سترګې و غوړولې، ويې ليدل، چې په کور کې په خپلې بسترې پروت دی. له ځان سره يې وويل: (ای خدايه دا څه وحشتناکه او وېرونکې خوب و. څه شوم خوب؛ خو هرڅه، چې و شکر دی، چې خوب و)؛ خو کله يې، چې خپله مور او يوڅو نورې ښځې په خپل څنګ کې په ژړا وليدې وپوهېد هغه څه يې، چې ليدلي و هغه يو خوب نه؛ بلکې واقيعت و. وارخطا له ځايه پورته شو او د هديرې خواته په منډو شو. په منډه يې ځان د زينب جونګړې ته ورساوه، خو سترګې يې د هغې د خوب د ځۍ پر ځای په سوړ او تور قبر ولګېدې، چې د توشک پر ځای په تورو خارو کې پرته ده ناڅاپه يې ټکان وخوړ، زهرا او ليلا د قبر سرته ناستې دي او په چيغو چيغو ژاړي. محسن قبر ته نږدې شو، دا يې هم سرته په ګونډو شو لاسونه يې په زنګنونو کېښودل، سر يې په ځمکه وهلو د قبر خاورې يې په خپل سر بادولې کله، چې زهرا د خپل ورور حالت وليد ويې ويل: محسنه ته ډېر ناروغه يې حالت دې ښه نه دی ولې دلته راغلې؟

محسن، چې د ماشومانو په څېر يې ژړل او سلګۍ يې وهلې د ژړا په څپو کې وويل: (زهرا زه به نور هېڅکله زينب يوازې پرېنږدم. مور په ماشومتوب کې سره ژمنه کړې وه. که په مور کې هر يو مړ شو او د! بل به هم د مرګ تر شيبې د هغې د قبر سرته ناست وي. زه په دې پوره باور لرم، که زما په ځای زينب وی؛ نو هغه به هم تر مرګه په خپله ژمنه ټينګه ولاړه وي. زهرا زه به اوس تر هغې د دې سرته ناست يم مرګ ته به

ستر ګې پر لار یم؛ تر څو چې مرګ راشي او ما له خپلې زينب سره يو ځای کړي. هسې هم پر ته له زینب څخه نړۍ راته د دوزخ لمبې ګرځېدلې. څه زهرا مور او پلار ته ووایه، چې وروسته له دې، دې له ما څخه د ژوند تمه نه کوي، ما دې په مړو کې وشمېري. زما ژوند زما هيلې یوازې زينب وه. پر ته له هغې زه ژوند نه شم تېرولی. زه نور کلي ته نه ځم، له کلي د کلي له خلکو کرکه لرم، نه غواړم د زينب قاتلان ووينم، هغه کلی، چې د ټولو لاسونه د زینب په وينو سره دي. هغوی ټولو سره لاسونه يو کړي وو زينب يې راڅخه واخيسته.

زه نوره زینب یوازې نه پرېږدم، د هغې دا وروستۍ هیله پوره کوم، بیا په ژړا سر شو، یو دم به غلی شو کله به داسې د زهرا څېرې ته ځیر شو، چې هيڅ ستر ګې به يې ورڅخه نه اړولې د دې هرڅه په لیدلو سره د زهرا زړه لکه شمع ویلې کېده، زهرا داسې انګېرل، ګوندې محسن نور په عادي حالت کې نه دی د لېونو کارونه به يې کول. غم يې دوچنده شوی و له يوې خوا د زینب غم او له بله پلوه د ځوان ورور د لیونتوب غم ډېره ځوروله.

محسن د زينب له مړينې وروسته نور کلي ته لاړ نه شو. ټوله ورځ به په جونګړه کې د زينب د قبر سرته ناست و، خبرې به يې ورسره کولې، کله به يې داسې له سوزه ډکې سندرې ويلې، چې د هر لاروي زړه به يې څيره. کله ناکله به د کلي ماشومان محسن ته راغلل او غوښتنه به يې ور څخه وکړه، چې هغه شعر دوی ته ووايي، چې هر کله يې له ځان سره زمزمه کوي، محسن به هم هغو ماشومانو ته، چې زړونه يې لکه د هینداري پاک او صفا وو وايه، د ځينو خلکو په اند محسن لا تر اوسه همداسې لېونی او سر والي او بروالي د زينب د قبر خوا ته ناست دی؛ خو دا چې د ژوند خبره به يې يقيني وي او که نه والله علم.

پای